# طالب جان

(ناول)

Download from:aghalibrary.cm

ليکواله : وږمه سبا عامر

## د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: طالب جان (ناول)

ليکواله: ورېمه سبا عامر

خپرندوی: مومند خپرندويه ټولنه- ننګرهار

برېښناليک: Momand.books@gmail.com

کمپوزچارې: په خپله ليکواله

ډېزاين چارې: رحمن الله بهير

چاپ کال: ۱۳۹۳ل.

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپ وار: لومړی

چاپ ځای: مومند خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه- ننګرهار

بسم الله الرحمن الرحیم

# ډالۍ

د پښتو ژبې رومانوي شاعر **عزيز مانيروال** ته

چې پښتو شعر ته يې يو نوی رنګ ور بخښلی او

ځوان هنرمند **کرن خان** ته چې په کم وخت کې

يې د پښتو موسيقۍ ته ډېر زيار ويستلی دی.

# مننه!

د طالب جان په خپرلو د مومند خپرندویه ټولنې  د ټولو غړو څخه مننه کوم. په ځانګړې ډول د ارواښاد نصیر مومند نه چې هغه مهال لا ژوندی و؛  چې ما ورته د طالب جان په اړه ویلي وو او ژر لیکلو ته یې تشویقه کړې ومه. الله پاک دې هغوئ ته په فردوس جنت کې ځای ورکړي. د ملګري لیکوال طایر ځلاند نه مننه کوم چې طالب جان یې له چاپه وړاندې ولوست او لیکنه یې پرې وکړه. د کتاب د ټایټل د جوړولو لپاره د ګران انځورګر اسد ګدون د مینې پوروړې یمه، الله پاک دې یې ګوتې نه خاورې کوي. د کتاب د ډېزاین او ترتیب لپاره د رحمن الله بهیر څخه یوه نړۍ مننه. د ګران کشر نجیب مومند نه هم یوه نړۍ مننه کوم چې د خپلو مشرانو په پل یې پل ایښی او فرهنګي خدمتونه کوي او  د طالب جان په خپراوي کې یې خپله مرسته را څخه ونه سپموله. همدا راز د فضل مولامومند نه هم منندویه یم چې د کتاب د خپراوي په اړه یې راته تل ښې مشورې راکړې دي.

# زما خبرې

ګرانه لوستونکیه!

دا زما پنځم ناول دی. خبره نه یمه چې د څلور نور ناولونو سره به اشنایي لرې او کنه؟ خو نن به د طالب جان په اړه در سره څو لنډې خبرې وکړمه.
د طالب جان د لیکلو سوچ راسره څه موده مخکې را پیدا شو، کله چې خبره شومه چې مرور وروښه نور له جګړې ستومانه شوي دي او کرارۍ ته یې زړه ښه کړی. ددې ناول لپاره مې پوره څو کاله خواري وکړه، ترڅو مې د طالب جان کرکټر وموند او راته معلومه شوه، چې ټول انسانان د جنګ لېواله نه دي، شته ډېر کردارونه زموږ په ټولنه کې چې د طالب جان په شان مهربانه او له مینې ډک زړونه لري. دنیا او ولس د طالب جان یو مخ لیدلی چې تل د وېرې او وحشت څخه ډک دي. خو ما دلته د هغه بل مخ هم راخیستی، چې طالب جان هم زړه لري، مینه کوي، له انسان او انسانیت سره. په دې ناول کې به تاسو ولولئ چې مینه ژوند او انسانیت یوازې تر ښارونو پورې محدود نه دی، په کلیو او باندېو کې همدا اوس په سلګونه طالب جانه شته چې په خاورې مئین دي او دلته د جنګ تور مخ هم ښودل شوی. په دې ناول کې دې خبرې ته هم اشاره شوې چې جنګ مونږ نه دی پیل کړی، بلکې زموږ کور ته راوړل شوی او زموږ خلک د سوند د لرګو په شان استعمالېږي.

خبرې به رالنډې کړمه، په دې ناول کې به تاسو له ډېرو کردارونو سره مخامخ کېږئ، تاسو به کلیواله مینه او په کلیو کې د ځوانانو د مینې رنګونه ولولئ،

چې په پوره امانت دارۍ سره مې راخیستي دي. هیله لرم چې د طالب جان ناول مو هم زما د نورو ناولونو په شان ستاسو د پام وړ وګرځي. خو د ولس نه باید مننه وکړمه چې تر دې مخکې ما د (د مینې کیسه ۲۰۱۵) ناول ولیکه، هغه ځوانانو ولوست. هغه ناورین چې زما خاوره یې په راتلونکې کې اغېزمنه کوله، د هغه مخنیوۍ یې سره وکړ او ټول ولس بیداره شو او د خپل راتلونکې لپاره یې سره کار وکړ، چې زه یې مننددویه یمه او اوس هم هیله لرم چې زما د وطن هر مرور دې د طالب جان په شان شي او د وطن د ابادي لپاره دې ګام اوچت کړي. نور مو وخت نه نیسمه، تر بل ناوله پورې د الله په امان، دا هم تاسو او دا هم طالب جان.

وږمه سبا عامر

د چیک جمهوریت، پراګ ښار

د اکتوبر ۱۶مه

۲۰۱۴ کال

طالب جان د وښو پنډ له شا را کوز کړ، غوا يې د کور په اخور پورې وتړله او بيا يې په نعرو پيل وکړ:

_ادې !وه ادې!

څو نعرې يې وکړې، د ادې ځواب يې تر غوږ نشو، بره بالاخانې ته وخوت چې ګوندې ادې يې او ورېښمينه به هلته وي، خو هلته نه ادې وه او نه ورېښمينه، له ځان سره وغورېده:

_هره ورځ مور او لور کور کې نه وي.

له بالاخانې څخه لاندې تندورخانې ته کوز شو، ټوکرۍ ته يې پام شو، هغه يې پورته کړه، د مستو په کټوې يې سترګې ولګېدې، د کټوې سر يې لوڅکړ، د ټينګو او خوندورو مستو په ليدو يې په خوله کې اوبه راغلې .د کندو له سره يې دسترخوان را واخيست، يو دانه پاستی يې د کټوې په سر او دسترخوان يې بېرته په خپل ځای باندې کېښود.

نيمه کټو مستې يې له يوه پاستې سره وخوړې .همداسې ولاړ شو، ورنه هېر شول چې د مستو سر بېرته پټ کړي .په چوتره باندې د نغريو خواته ورغی، په نغري باندې تور دېګي ته يې پام شو، د هغه سر يې لوچ کړ، د هګيو د شکنې ورمه پرې ښه ولګېده، خو اشتها يې ورته رانغله .د نغري خواته د تناره په چوترې ور وخوت، دلته به تل ورېښمينه درېده او د ګاونډيانو د ښځو سره به يې خبرې کولې، پستو

د هغې خور لنډه وه او هغه به ټوله ورځ ورسره لګیا وه خبرې به یې کولې .اوس د وربښمینې په ځای طالب جان د بلې سرته پورته شو، ویې لیدل چې پستو د مور، وربنداري او خور سره په کلا کې د کوټو مخې ته د منې پیتاوي ته ناسته ده او د ماسپښین چای څکي .د پستو شا وه، طالب جان ورته نه ښکاریده.

طالب جان یوه لوټه را واخیستله، د هغې خواته یې ور وشړله، لوټه برابره د پستو د مور په پیاله کې ولویده، د ټک سره پیاله ماته شوه .د پستو مور نعرې کړې:

_الله !دا چا؟ ځوانیمرګ یې کې، دا لوټه چا را وار کړه؟

پستو پوه شوه چې دا کار چا کړی؟ دا د هغې او د طالب جان تر منځ یو شفر و، زر یې وویل:

ــوی ادې، پاس په دېواله به پشی تېره سوې وي، بس خوله دې ښېراو ته جوړه ده.

ــنو خدای دې ووهه، خپله پیاله به دې راته اخیستې وه، د ابا پیاله دې ولې راته راوړه؟ په نوروز دا پیاله ډېره ګرانه وه، د الکوزي چایو په ډبي کې ورته راوتلې وه.

د پستو او ادې یې د پیالې په سر جنګ شو، د مور او لور په شر او شور باندې د طالب جان زړه بیا وتخنېده، دویم ځل لپاره بلې ته پورته شو،

په دې وخت کې د پستو د خور آشکې په طالب جان سترګې ولګېدې، زر يې نعرې کړې:

_ادې !وه ادې !په قران لوړه طالب جان واره کړې ده، هغه ده د بلۍ سرته ګوره؟

_ځه ورکه سې، کومه دی؟ طالب جان کومه دی؟

_خه ځه !په قران شريپ ما وليد، ادې !که به دروغ وايمه، شېخ بابا مې دې ووهي، په خپله طالب جان و.

د پستو او آشکې جنګ شو، د طالب جان پښه چې د آشکې له وېرې راښوئېدلې وه، د هګيو د شکنې دېګی يې پړمخې په ايرو باندې چپه کړی و .هغه د ادې او ورېښمينې له وېرې زر له کلا ووت .لا څو قدمه يې نه وو اخيستي چې د پستو مور په مخه ورغله، په کوڅه کې په منډو شو.

طالب جان د پستو د ادې له شره ځان جومات ته په ننوتو خلاص کړ . هغه د نر غازي لور د طالب جان په ادې پسې کور ته ورغله، د کلا په دروازه دننه شوه، په ننوتو سره يې نعرې کړې:

_مرغۍ !وه مرغۍ!

هېڅ ځواب يې وانه ورېده، ښه وړاندې لاړه، د چوترې خواته نغري ته يې پام شو، ګوري چې د شکنې دېګی پړمخې د نغري خواته پروت

دی، هګۍ په تورو ایرو کې پرتې دي، موسکۍ شوه، له ځان سره یې وویل:

ــخوارکۍ !ته به بیا د قومندان کره د غوړې مړۍ لپاره تللې یې، د هګیو شکنه خو دې طالب جان درته برابره کړه.

د پستو ادې د تندورخانې په دروازه کې ودرېده، ګوري چې د طالب جان پیشوګۍ د مستو په کټوې باندې ناسته ده، مستې خوري .پیشو د خڅوزې تورۍ په لیدو، هغې ته مخ ور واړاوه، په میو میو شوه.

خڅوزې ورته په ځواب کې وویل:

ــخیر یوسې خورکۍ !ته یې وخوره، ما غرمه ښې مستې خوړلې دي، هههههه.

د پستو ادې ببرته د کلا د دروازې په لوري روانه شوه، د کلا په دروازه کې د مرغۍ او وربښمینې سره مخامخ شوه، تر سترګې مشې وروسته مرغۍ ډېر ستونه ورته وکړل، خو هغې ورته وویل، چې طالب جان په لوټه باندې د نوروز د چایو پیاله ور ماته کړې ده، یا به هماغسې پیاله ورته راوړي او یا به شل دانې هګۍ په تاوان کې ورکوي.

مرغۍ ورته وخندل، چې اوس دواړه چرګې کړوکې شوې، دواړه یې په هګیو کېنولې دي، ځه خیر دی بیا به دوه چرګوړي په تاوان کې ورکړي.

د پستو ادې په تګ تګ کې ور زياته کړه:

ــمرغۍ خورې !ښه اشتيا، د هګيو شکنه دې تياره ده نو، ګوره ماښام ته لړې مستې راولېږه.

ــولې نه، تانه جار، خو کېنه کنه !ماسخوتن ته به لاړه شې.

ــنه نه، ځمه بېګا ته جومات ته طالبان راځي، شمالي رانه شل پاستې غوښتي، ناوخته تنور اچومه.

د پستو ادې لاړه .د مرغۍ تورۍ د وښو پنډې ته پام شو، موسکۍ شوه، له ځانه سره يې وويل:

ــجار جار زويه !دشکه جار مې کې، پنډه خو دې راوړې ده.

په دې کې وربښمينې نعرې کړې:

ــادې !ادې !دا پيشوګۍ دې خدای ورکه کي، ټولې مستې يې خوړلي دي.

ــڅه وايې، ما خو ټوکرۍ پې ايښې وه.

ــدا ټول د طالب جان کارونه دي ادې!

ــولې طالب جان دې د تا سر وخوري، هغه خوارکي څه کړي؟

ــوی ادې !الله !د شکنې دېګي خو پړمخې اوښتی.

ــولې؟

ـخځوزې تورۍ خو د مسخرو نه درته ویلي ادې !چې ښه اشتیا، دا پیشۍ خو ولاکه رانه ژوندۍ پاتې شي.

وربښمینې په پیشۍ پسې بالاخانې ته منډه کړه، مور یې په ایرو لړلې هګۍ را واخیستې، په اوبو یې پاکې پرېولې، وربښمینې ته یې وویل چې نغري کې دې اوربل کړي، بل (تبۍ) دې جوړ کړي، پیاز دې غوړو کې سره کړي او مصاله دې ور واچوي .وروسته دې وینځلې هګۍ هم ور واچوي.

پیشوګۍ د وربښمینې لاس ته ورنغله .هغه ستومانه د بالاخانې څخه را کوزه شوه، خپلې مور ته یې په غصه کې وویل:

ـادې دا کارونه د پیشوګۍ هم نه دي، ما څو ځلې هغه لیدلې، په بلۍ پستوګۍ سره لګیا وي، خبرې کوي.

ـڅه وایې، له هغې سرې بیزوګۍ سره؟

ـولاکه به دروغ وایمه، ما دې کلام شریپ ووهي.

ـولې د ما طالب جان دومره خوار سو چې د نوروزي په زوم کېږي، کراره کېنه.

ـادې !اوس به په ایرو لړلو هګیو ته بیا تبۍ کوم، راځه شیدې او غوړي به وکو.

ـشيدې او غوړي بيا طالب جان نه خوري کنه؟

تر لږ شور شخه وروسته وریښمینه لاړه چې نغرى بل کړي او مور يې لاړه چې د اخور نه د وښو پنډه غوجلې ته کوزه کړي .هغې پنډه په شا کوله چې د کلا دروازه په غرض خلاصه شوه او د مرغۍ تورۍ په تندي ولګېده، هغه خوارکۍ په خپل ځای د شا په تخته ستوني ستاخ ولوېده، سربداله شوه.

د طالب جان له ناپامۍ سره مرغۍ په ځمکه ولوېده، طالب جان زر ورمنډه کړه:

ـادې !وه ادې !ولې؟

ـهن هن اخ !ملا مې ماته سوه.

ـادې ته راولاړه سه.

طالب جان خپله ماشين ګنه له اوږې لرې کړه، د خرې د اخور سره يې ودروله، خپله ادې يې راولاړه کړه .وریښمینې ته يې نعرې کړې، هغه د پيازو په غوټې پسې تندروخانې ته تللې وه .د خپلې مور په ليدو يې پیاز د غولي په مخ وغورځول، د طالب جان خوا ته يې ور منډه کړه، زر يې پوښتنه وکړه:

ـادې !ولې، څه دربادې وسو؟

ــولاکه، د کلا دروازه مې په تندي وخوړه.

ـ الله !طالب جانه ځوانیمرګ سې، ادې خو دې مړه کړې؟

خو په دغه وخت کې يې مور وويل:

ــبسم الله کې، خوله دې خاورې سه.

طالب جان چې خپله ادې یې په شا کړې وه، بالاخانې ته یې پورته کوله، په دې وخت کې پستو په بلی سر رابښکاره کړ، وربښمینې ته یې نعرې کړې:

ــوربښمینې خيريت خو دی، د مرغی تورې نارې سوې؟

د وربښمینې په ليدو د طالب جان پښه د زينې له پايې وښوئېده، له ادې سره لاندې راولوېده .پستو ورته په بلی له خندا شنه لاړه .د مرغی تورې غږ نور هم پورته شو .په دې کې خرې ماشين ګڼه په لغته په ځمکه وغورځوله طالب جان بيا خپله ادې په شا کړه، د پستو په لور يې کتل او خندل يې .د بالاخانې دروازې ته چې برابر شو، د خرې پښه د ماشين ګڼې په ماشه برابره شوه، او سمې ډزې پيل شوې .
طالب جان ددې په ځای چې ادې د بالاخانې د غولي خواته کوزه کړي، وارخطا شو، د حويلی خواته یې کوزه کړه، ادې بيا لاندې په ځمکه ولوېده.

د پستو خواته اشکه هم ولاړه وه، دواړه خویندې له خندا سرې او شنې وې .وربښمینې سمدلاسه طالب جان ته ښېرې کولې، نوره ادې کې د نعرو دمه نه وه، هغه بې سده په ځای پرته وه، وربښمینې په شا کړه او پاس بالاخانې ته یې پورته کړه.

شېبه لا تېره نه وه چې پستو سره له خځوزې تورې راورسېده، وربښمینې ژړل او په یوه خوله یې طالب جان ته ښېراوې کولې .طالب جان غلی د مور سر ته ناست و، وار په وار یې د هغې په تندي لاس کېښود، ورته ویل یې:

_ادې !وه ادې !ته خو را ولاړه سه.

خو ادې یې یوازې مړ مړ ځګیروی کاوه .خځوزې او وربښمینې په یوه خوله طالب جان ته وویل، چې د شمالي ډاډ سنه دې راولي او ادې دې د ولایت ډاکټر ته بوځي .خو طالب جان غوږونه کاڼه کړي وو .هغه ته ښه موقعه وه، پستو ورته مخامخ ناسته وه، د لاټین رڼا د پستو مخ نور هم ورته ځلاوه .خځوزې وربښمینې ته وویل : چې خپلې مور ته دې د بورې شربت جوړ کړي، هغه د پستو سره لاندې تندورخانې ته کوزه شوه، شېبه لا نه وه تېره چې طالب جان په وربښمینې پسې نعرې کړې:

_وربښمینې زرکوه، ادې مړه سوه، زرکوه!

د طالب جان له دې غږ سره وربښمينې وار خطا را منده کړه، نعرې يې کړې:

_الله، ادې مړه سوه، په مور پړمخې ورپرېوته.

خځوزې تورۍ ور غبرګه کړه:

_نه ده مړه، نه ده مړه !طالب جان دې خدای ورک کي، زرکوه شربت راوړه!

په دې کې طالب جان خپل څادر په اوږه واچاوه، له کوټې ووت، لاندې تندور خانې ته لاړ .پستو لګيا وه شربت يې جوړواوه، شاوخوا يې وکتل چې څوک نسته، نو هغې ته يې ټينګه غېږه ورکړه او په خوله يې شونډې ور کېښودې، له غېږې ورکولو او د شونډو په اخيستلو سره طالب جان پستو وار خطا کړه، د هغې د لاسه د شربتو پياله ولوېده، زرې زرې شوه.

مرغۍ بې سده پرته وه، وربښمينې ورته مړې مړې اوښکې تويولې، خځوزې تورۍ مخ ور واړاوه:

_بلا دې ووهه، په دا مړو مړو اوښکو، ورسه شربت راوړه.

_طالب جان لاړ؟

_هغه خو په شمالي پسې لاړ، ډاډسنه به راوړي، جګه سه.

وربښمینه تندورخانې ته لاړه، ګوري چې طالب جان د پستو سره ولاړه دی، مجلس کوي، ورته غصه شوه:

ـادې مړه کېږي، ته ځوانیمرګ ولاړ یې د پستو سره مستي کوې.

ـچوپ، که سونګ دې کړی و، بیا به دې یوه کوځی هم نه وي، ښه!

ـاو کنه، په خدای که ادې دربانډې خبره نه کم.

طالب جان له تندورخانې څخه ووت، پستو د شرمه وربښمینې ته کتلی نشو، هغه تکه سره اوښتې وه، لکه پاڼه رپېده .په زړه کې ډارېده، هسې نه چې وربښمینه یې ادې ته ووایي .هغې د وربښمینې لاسونه ټینګ ونیول، د هغې زنې ته یې لاس ور وړ، په عذر یې ورته وویل:

ـخیر دی خورکۍ، ادې ته مې مه وایه، مړه به مې کي، خیر دی.

ـنه یې وایمه لېونۍ !زه له وخته پوهه ومه چې تا د طالب جان سره دانې اچولي دي.

ـنه په قران شریپ که مې اچولي وي، هغه د ابا ګیلاس مات کړی و، ما ورته ویل که یې د ولایته ورته راوړي.

ـبس بس، هغه بله ورځ د ډېک اکا لورانو د کارېزه په سر د تا کیسې راخېستې وې.

ـد ډېډک لورانو؟

ـاو د ډېډک لورانو.

په دې وخت کې خځوزه تورۍ تندورخانې ته دننه شوه، په غصه یې وویل:

ـځوانیمرګې سئ، ښځه مړه کېږي، تاسې مجلسونه کوئ، طالب جان څه سو؟

ـهغه ډاډسنې پسې تللی.

ـهلئ زر کوئ، شربت زار مړی راوړئ.

د شربت له ځښلو سره مرغۍ سترګې ورپولې .خځوزې د بل ګیلاس شربت قرمایش هم ورکړ، خو وربښمینې ورته وویل چې بوره نوره نشته .مرغۍ ته چې شربت خوند ورکړی، وربښمینې ته یې وویل:

ـد ابا خدای وهلي په صندوق کې دې یوه شنه غوټه ده، پکې لګې پټاسې دي، هن زرکه شربت را جوړ که، په زړه مې ښه ولګېده.

ـادې !ابا دشکه په قبر کېم خلاص نه ده.

ـوۍ وۍ، هغه سم طالب جان و، نه ایرون و او نه د بیرون....

وربښمینه او پستو دواړه تندرخانې ته لاړې، وربښمینې په ریشخند ورته وویل:

ـورېندارې !یو ګیلاس اوبه را واخله، خوابښې ته دې شربت جوړ که.

ـته او خدای ولې مې شرموې، تا او قران هغه بله ورځ د چنار لاندې د (مورِک) سره په ټکنده غرمه کې نه وې ولاړه؟

ـوی، توبه وباسه !زه مورِک په بلا وهمه.

ـنو نن ولې مور او لور ورکره ورغلې وئ؟

ـنن ادې وویل چې شمالي دې نوره تنخا طالب جان ته په لاس نه ورکوي، هغه دې ادې ته ورکوي.

ـښه جهاد به طالب جان کوي او تنخوا به دې ادې اخلي.

* * *

طالب جان د شمالي بالاخانې ته وارخطا ننوت، د قومندان شمالي سره د شولک، ډاک، انعام، پړاو او بابوس قومندانان هم ناست ول، کوټه ډکه وه، د ماښام ډوډۍ لا نه وه تیاره شوې .شمالي چې طالب جان یې وارخطا ولیده، نو سم له واره یې ورنه وپوښتل:

ـڅه دې سرِیه !داسې وار پار دې خطا دی؟

ـقومندان صېب !ادې مې مړه کړه.

ـادې دې مړه کړه !ولې؟

ـد کلا دروازه مې په کش سره خلاصه که، دروازه د ادې په تندي وخوړه، ادې چپه سوه.

ـښه نو بیا.

ـبیا مې په شا کړه، د بالاخنې له زینې راوښوئېدمه، ادې لاندې زه د پاسه پې راخطا سومه.

ـښه....

ـزیاتي بیا مې په شاه کړه، د بالاخانې دروازې ته څې ننوتمه، خرې په ماشینګنې باندې ډزونه وکړل!

ـهههههه، خرې څنګه ډزې وکړې، تر تا خو خره ښه ده، ډزې کولی سي.

ـماشین ګنه مې ور سره ایښې وه، بس ډزې یې وکړې.

د بابسو قومندان چې خپله ړیره یې په نکریزو سره کړې وه، طالب جان ته وویل:

ـیاره طالب جانه !دا خره دې د انعام ده، صبا ته به یې خامخا راولې.

ـښه سمه ده، قومندان صېب !که ډاډسنه دې یو ځل راکړې، ادې تر ډانتره پورې بوځم.

د خرې ډزو مجلس وخنداوه .شمالي خپل مشر زوی، ولي ګل ته د ډاډسنې کيلي ورخطا کړه، ولي ګل په ټول کلي کې په مورک مشهور و، هغه تل د نظر چشمې په سترګو کولې، له ماشومتوب څخه يې کروت خوښېدل، تل به يې جېبونه کې کروت پراته ول.

مورک دمخه او طالب جان ورپسې له بالاخانې څخه حويلۍ ته کوز شول، ډاډسنه د کلا په مخ کې ولاړه وه .مابنام مورک په ډاډسنه کې د انعام قوممندان نيکی راوستی و.

تر لنډو شېبو وروسته د کلا له دروازې سره د ډاډسنې غږ شو، وربښمينې د بالاخانې له کړکۍ څخه لاندې د کلا د دروازې په لوري وکتل، د مورک غږ يې تر غوږ شو، چې طالب جان سره غږېده .طالب جان تر مخ او مورک ورپسې بالاخانې ته راغلل، د طالب جان په نوروز اکا سترګې ولګېدې، ټکنی شو، هغه ته يې سترې مشې ورکړه.

مورک د مرغۍ تورۍ سرته په هغه ځای کې کېناست چې وربښمينه سمه برابره مخامخ ورته ښکارېده .وربښمينه موسکۍ وه، د پستو ورته پام و .مورک پوښتنې له مرغۍ تورۍ څخه کولې او په سترګو سترګو کې يې وربښمينې ته کتل.

هغه د مرغۍ په سر لاس کېښود، ورته وې وويل:

ــولې تورۍ؟ شاله طالب جان نن ښه زب زب کړې يې؟

_بلا دې واخلمه، ولې ګله !خپل کسمت به مې و، همدا مې برخه وه.

_نه اوس خو ښه يې، په خوله خو سمه بيداره يې .څنګه وکو، ډاکټر ته دې بوځمه؟

_نه زويه !ډانټر څه کومه، لږ د قوت شربت که راته راوړئ.

_ښه سمه ده، نو ته خو لږ کېنه، د خرې د ډزو نکل وکه!

نوروز ددې خبرې سره حيران او موسکی شو، مورک نه يې وپوښتل:

_ولې ګله !خرې ډزې کړې، د چا خرې؟

_اکا د طالب جان خرې، هههههه.

_زه خو په طالب جان پسې راغلمه، اشکې راته ويل چې طالب جان نن راته پياله ماته کړې، سخته راباندې ګرانه وه.

_اکا بله به درته واخلم !ولايکه ما ماته کړې وې، دوی دروغ وايي.

مووک د نوروز اکا خوله ولټوله:

_اکا يوه پياله څه شی دی، اوس به درې پيالې له کوره درته راوړمه، ته طالب جان خپه کوې.

_هغه بېله پياله وه.

_څنګه پياله وه؟ د طالب جان د خرې غوندې يې ډزې کولې؟

ـنه ډزې يې نه کولې، د الوزي پياله وه؟

ـد الوزي پياله؟

ـهو هغه د چايو له ډبي سره يې نه ورکوي.

ـهههههه، ياره نوروز اکا !الکوزی ښايې، زه حيران شوم چې دا الوزي پياله له کومې کړه، الوزی اکا خو درې کاله وسو چې مړ دی.

د دوي مجلس تود و، د موړک زړه نه کېده چې د ورېښمينې له مخ نه لرې شي .مرغۍ توری چې په ځای کېناسته نو سمه په ځکيرويو شوه، د هغې چپې پوښتۍ ورته ځريکې وهلې، طالب جان په شاکړه، ډاډسنې ته يې پورته کړه، په دې وخت کې ورېښمينې ويل چې هغه هم د ادې سره ځي، خو طالب جان ورته ويل چې کور کې څوک نشته، د نوروز اکا په مشوره خځوزه توری د مرغۍ سره لاړه، ترڅو هلته ورسره وي.

* * *

د طالب جان د خرې ډزې په ټول کلي کې خوله په خوله وې .د مرغۍ دوه پوښتۍ ماتې شوې وې، هغې ته ډاکټرانو ويلي وو چې کراره به ارام کوي، نوره د پنډو د پورته کولو نه ده، ځکه دهغې پوښتۍ نه پلاستر کېدې .ډاکټر ورته د درد د اراميدو لپاره ګولۍ ورکړې وې.

د مني شپې او ورځې وې، اورونه کوټو ته دننه شوي وو، مرغۍ ته وربښمينې د تاوخانې د تودې تيږې په سر بستره غوړولې وه، ترڅو ادې يې ګرمه وي .د کور ټول کار په وربښمينې باندې بار شوی و، هغې خوارکۍ هم له کاريزه اوبه راوړې، د ورځې به يې دوه ځلې )سهار، مابښام (د ادې لپاره اور بلاوه، چې تاوخانه توده وي، اوس يې دېګی هم په تناره کاوه.

طالب جان نن له شمالي سره د ولايت تر بازاره تللی و .قومندان شمالي د خپل کور لپاره سودا کوله، موړک هم ورسره و .شمالي ته وړې ښځې يې، ګلالۍ د بنګړيو او مېخکيو فرمايش هم ورکړی و .هغه غلی د بنګړو دوکان لوري ته ورتاو شو، طالب جان ته يې وويل، چې نوره سودا دې په موټر کې ځای په ځای کړي، طالب جان د سودا پنډه په شا کړه، د سترګو په رپ کې بېرته راستون شو، د قومندان تر شا ودرېده، موړک دومره خوشاله نه و، هغه پوهېده چې پلار يې د ميرې فرمايشونه پوره کوي، لږ شاته ولاړ و .

طالب جان هم د مېخکيو او بنګړيو په ننداره شو .قومندان يو پاکټ مېخکي ښه لاندې باندې کړل، خوښ يې نشول، لاندې يې کېښودل . په دې کې ترپ شو هغه د مېخکو پاکټ طالب جان واخيسته، يو درجن بنګړي يې هم راواخيستل، د شمالي چې ورته پام شو نو ورنه پوښتنه يې وکړه:

ـهلکه څه يې کوې؟ ته خو به يې نه په پوزه کوې؟

ددې سره موړک او دوکاندار دواړه په خندا شول، طالب جان په وارخطايۍ ورغبرګه کړه:

ـنه نه قومدان صېب، ورېښمينې ته مې اخيستل.

ـښه ښه، ځه نو وايې خله، پيسې به يې زه ورکړم .موړک هم څو درجنه د ژاولو پوړۍ واخيستې او طالب جان ته يې ورکړې .طالب جان ډاډسنه داسې چلوله لکه د باد، ښه مسته پيټه يې د موټر ټېپ ته اچولې وه.

په لاره کې شمالي ورته وويل چې نن دې کلي کې وګرځي او څو دانې ښه چرګان دې ور پيدا کړي، ځکه چې سبا ماښام ته بابوسي قومندان سره له اوښي ګانو ورکره مېلمانه دی او هغه فارمي چرګان نه خوري .
طالب جان ورته وويل، چې پاخه دې کړي بيا دې ورته ووايي چې وطني چرګان دي، هغه ورغبرګه کړه:

ـلېونيه !په مزه کې يې فرق وي، هغو خو د تا په شان لېونی نه دی.

طالب جان بنګړي، ژاولې او مېخکي ځانته مخامخ د موټر شيشې سره ايښي وو، هر ځل به يې چې سترګې پرې ولګېدې نو موسکی موسکی به شو.

***

د ماښام آذانونه وشول، ټول کليوال د جومات په لوري روان ول، هر يوه دوه ګامه يو ګام کړی و، چې زر تر زره د ماښام جمعې ته ځان ورسوي، خو طالب جان بيا دوه ګامه يو کړي وو، چې ځان تر کوره ورسوي .په لاره کې د لوی چنار ډډې ته د ډډک زامنو بهاوالدين او جمال الدين دوارو راټينګ کړی و، چې ورسره د ماښام جمعې له لاړ شي، خو طالب جان د ځان د خلاصولو لپاره په اول سر کې کالي پلمه کړل، چې پشی پرې متيازې کړي، لمونځ يې نه کېږي .بس دوارو ورونو ورسره نه منله، ورته په دروغو يې وويل، چې تېره ورځ مولوي صيب د جمعې په مسئلو کې وويل، چې د پيشوګانو او د سپو په متيازو کالي نه بې لمازه کېږي .بس طالب جان يې د جومات په لوري روان کړ .طالب جان ددې لپاره چې لمونځ ورنه قضا نشي، د جومات په چوتره باندې يې تيمم وکړ، په دې کې د نوروز اکا ورته پام شو، پرې غږ يې وکړ:

ــولې؟ نه شل يې نه ګوډ، لاس او پښې دې دواړه سته، تيمم ولې کوې؟

_اکا ناوخته ده، لمونځ به قضا سي؟

په دې وخت کې د ډډک زوی ورغبرګه کړه:

ـنوروز اکا !دروغ وايي، پشۍ يې په کالو باندې د شپې متيازې کړي، هههههه.

ـخدای دې ووهه، ښه جهاد به وکې، ددې ماشين ګڼې بلا در واوړه، تر تا خو خره دې ښه ده، ډزې خو کوي.

د نوروز اکا له دې خبرې سره د جومات مخکې ولاړ، ټول هلکان په خندا شول .طالب جان هم د نوروز اکا خبره بده ونه منله، د پستو لپاره يې پسته وګڼله.

د ماښام تر جمعې وروسته نوروز اکا د جومات ملا ته وويل، که پشۍ، سپی، غوا، خرې او يا هم د بل کوم څناور په متيازو د انسان کالي خراب شي، لمونځ روا دی او کنه؟

ملا صېب مسئلې اوږدې کړې، فتوه يې ورکړه، چې بالکل روا نه دی . په دې وخت کې د ډډک زوی ولاړ شو، د طالب جان کيسه يې وکړه، بيا يې وويل:

د جهاد وخت کې خو نه پشۍ وي نه سپی وي، داسې کومه مسئله يې نه ده اورېدلې، نو طالب جان دې اوس توبه وباسي او کور دې قضايي لمونځ وکړي .په دې وخت کې طالب جان پاڅېده، ملا ته يې وويل، چې نه پشۍ پرې متيازې کړې او نه سپی، ده غوښتل له هلکانو ځان خلاص کړي، زر تر زره کور ته لاړ شي او ورېښمينې ته ژاولې، بنګړي

او مېخکي وروړي .ملا نور هم راګير کړ، ورته يې وويل چې له لمانځه تېښته لويه ګناه ده، لمونځ تر جهاد مخکې ګڼل شوی دی، درواغ ويل ډېر بد کار دی، نو طالب جان دې بايد مسلسلې توبې وباسي .نوروز اکا ور زياته کړه چې د اوداسه په ځای تل تيمم کوي، په دې کې يې هم ملا ښه ملامت کړ، په طالب جان باندې نن د جوماتوالو ښې ټوکې ټکالې روانې وې، خو هغه وار په وار بنګړو ته کتل او موسيده، خدای خبر چې په زړه کې يې څه تېرېدل؟

چې دومره خوشاله و .

د ماښام تر جمعې وروسته طالب جان کور ته راغی .د راننوتو سره سم غوجلې ته ننوت، هلته تياره وه، په يوه ځناور يې لاس وواهه، غوا وه، له خوا نه يې تېر شو، ورته معالومه وه چې د غوا ترڅنګ د خرې اخور دی، نو هلته يې په اخور کې د وښو په منځ کې د بنګړو او مېخکيو، کڅوړه پټه کړه .په دې وخت کې يې د ورېښمينې بنګ بنګ هم تر غوږه شول، هغې لکه چې خره تړله، ورېښمينې پرې غږ کړ:

_طالب جانه دلته څه کوې؟

_ورکه سې شيشکې !اوس دې مال دننه که؟

_هو، د ادې پوښتنې ته، د ولي ګل ادې راغلې وه.

_د ولي ګل ادې؟ که د مورک ادې، داسې موتبره نوم يې اخلې.

ـتە پە غوجله کې څە کوې؟

ـراغلمه چې خره خو بە زوندۍ يي، نن يې پە ټول کلي کې د ډزو اوازه وه؟

ـځه ځه !دا خره دې همدا نن درته مرداره کە.

ـتا دې خدای مرداره کي، تر تا خو خره ښه ده، بار خو وړي.

دواړه پە داوو لە غوجلې څخه را ووتل .طالب جان پە منډه تاوخانې تە ننوت، د مرغۍ سر تە کېناست، ورنه يې پوښتنه وکړه:

ـادې پوښتۍ دې سنګه ده؟

ـښه ده زويه !بلا دې واخلمه، نن يې څرېکې لږې کمې وې، د مورک ادې راغلې وه.

ـښه څه يې وېلې؟

ـويل يې سبا تە بە طالب جان راسره ډاک تە لاړ سي، هلته د بادو زيارت تە، د بادو لە لاسه يې دواړه ولي زب زب ول.

ـتا ورته څه ويل؟

ـما ورته ښه کړه، بلاګۍ دې واخلمه.

ـولې دې ښه کړه، سبا تە زه نوروز اکا ولايت تە بيايمه، سودا اخلي.

ـنوروز پە بلا وويه، شمالي بە درته غصه سي.

ـنه غصه کېږي ادې، وړه خو يې نه ده، زړه يې ده.

ـوړه ده که زړه، ښځه خو يې ده.

په دې وخت کې ورېښمينه تاوخانې ته دننه شوه، له موره يې وپوښتل چې ښوروا راواخلي او که نه؟ هغې ورته هو کړه .طالب جان د خپل جمپر له جېبه څخه د ژاولو يوه پوړۍ راوويسته، ور ويې شړله، ورته يې وويل:

ـواخله شيشکې!

ـالله مادر نه جار کي بله پوڼۍ درسره نسته؟

ـنه څه دوکان مې راوړی وای، پيسې نه وې.

ـادې ته دې ولې رانه وړې؟ ګوره جېب کې به دې يي؟

ـله کومه سوې، ادې په ژاولو څه کوي؟

ـجېبونه دې تالاشي کم؟

ـګوره ادې !دا شيشکه ځان راباندې ويي، غلې يې که.

ورېښمينه پوه شوه چې طالب جان کې څه غلا شته، نو غلې له کوټې ووته، تندورخانې ته لاړه، له هغه ځايه يې دسترخوان او البۍ) د ښوروا کاسه (راوړه .دواړه يې د طالب جان مخې ته کېښودل، ورته ويې وويل چې ډوډۍ په کاسه کې وړه کړي، طالب جان له مرغۍ نه وپوښتل

چې چرګ یې سره له کومه کړی؟ هغې ورته وویل، چې د مورک ادې ورته حلال کړی چرګ راوړی و.

وربښمینه د لاټین سره غوجلې ته لاړه او د غوا اخور یې ښه ولټاوه، څه یې پکې پیدا نه کړ، د خرې اخور ته کېناسته .په دې وخت کې طالب جان د تاوخانې په دروازه کې ولاړ و، وربښمینې ته یې نعرې وهلې چې کاسه دې واخلي او ښوروا دې پکې واچوي.

وربښمینه په منډ منډه له غوجلې څخه راووته، د طالب جان خواته ورغله، د هغه ورته پام شو، چې وربښمینه خو د غوجلې له خوا راغله، په غصه یې ورته وویل:

_هلته دې څه کول؟

_د غوا رمبارې وې، ورغلمه څې چیشي نه وي چیچلې.

د طالب جان زړه اندېښمن شو

***

طالب جان په ډوډۍ پوه نه شو، ښوروا ورته مزه ورنه کړه، په منډه منډه یې څو مړۍ وکړې، له دسترخوان نه پاڅېده، مرغۍ ورته ډېر وویل، چې د چرګ غوښه دې وخوري، خو هغه سره د پستو د بنګړو او مېخکیو غم و .لاټین یې واخیست، له تاوخانې ووت، مور او خور یې په تپه تیاره کې پرېښودلې، مرغۍ په تکرار ورته وویل چې تر ډوډۍ

خوړولو وروسته دې د باندې لاړ شي، خو هغه ورغبرګه کړه چې لاسونه يې د خولې او کاسې سره بلد دي، دی زر بېرته راستنېږي.

د طالب جان تر وتلو وروسته، وربښمينې هغه د تاوخانې له دربچې څارولو چې چېرته لاړ؟ هغې وليدل چې د لاټين رڼا غوجلې ته ننوته او بنه شېبه وروسته طالب جان بېرته راستون شو، هغې وليدل چې هغه بېرته د تاوخانې په لوري راغی، وربښمينې بېرته رامنډه کړه، چې په خپل ځای کېني، په دې وخت کې يې پښه د ښوروا په کاسه ور برابره شوه، پړمخې ولوېده.

طالب جان کوټې ته دننه شو، مرغۍ نعرې کړې:

_تبا سئ، دا څه کوئ؟

طالب جان چې وربښمينې ته وکتل، ويې ويل:

_ولې څه دې کول؟

_اوبه مې چکلې، اليکين (لاټين) خو تا يوور، پوښتنې هم لا ته کوې؟

طالب جان ډاډه و، چې امانت يې په ځای و، مرغۍ بله کاسه را وغوښته، نوره ډوډۍ يې سره وره کړه، پاتې ښوروا يې سره په شريکه وخوړه .وربښمينه پوه شوه چې په طالب جان کې خامخا څه چل شته، هغې له ځانه سره فيصله وکړه، چې کله طالب جان ويده شو، نو دا به له لاټين سره غوجلې ته لاړه شي او ټوله به تالاشي کړي.

له ډوډۍ خوړلو وروسته طالب جان د ماسخوتن د لمانځه لپاره د کاریزه جومات ته د تلو نیت وکړ، هغه جومات د قومندان شمالي د کور خواته و .دې جومات ته د ډېک زامن لمانځه ته نه راتلل او دی یې له خبرو او ټوکو خوندي و .د ماسخوتن تر اذان مخکې هغه له کوره ووت، ادې یې ورته د چایو وویل، خو ده وویل، تر لمانځه وروسته به چای څښي، ورېښمینه یې په تلو خوشاله وه، هغې ته د تالاشۍ سمه موقعه برابره وه.

طالب جان د کور نه تر وتلو مخکې غوجلې ته ولاړ، بنګړي او مېخکې یې را واخیستل، په دې کار ورېښمینې ونه لیده، هغې په تاوخانه کې دسترخوان او کاسې ټولولې .د طالب جان له وتو سره ددوی د جومات ملا د ماسخوتن د لمانځه اذان وکړ، طالب جان په منډه منډه ځان د نوروز اکا د دروازې شاته ورساوه، د دروازې شاته غلی ودرېده، تپه تیاره وه، ټول کلیوال په کورونو کې ول، مرغۍ پر هم نه واهه.

طالب جان له خپله جېبه توله راوویسته، ورو ورو یې توله ووهله، بیا غلی د دروازې خواته ودرېده، د سترګو په رپ کې د دروازې د خلاصېدو غږ یې تر غوږه شو، په تپه تیاره کې ورنږدې شو، پستو یې له لاسه ټینګه کړه .هغې خپل لاس د ځان خواته ور ځخه کش کړ، طالب جان ورنږدې شو، ټینګه یې کړه، هغې ورته غلې وویل:

ـدواجان کور کې دی، راونه ووځې، کنه مړه به مې کې.

ـدواجان دواجان مه کوه، کنه نو په یو دېز سره به یې درته برابر کمه.

ـالله ړوند سې، بلا یې در واوړه.

ـد تابه ورور وي بلا یې ته واخله.

ـځه نوره درته نه راوځمه.

ـان کنه خبره واوره !مېخکي او بنګړي مې درته راوړي، واخله.

ـکومه دي؟

په تیاره کې د سرو او شنو بنګړو زرینو زرینو ټکو د اسمان د ستورو په شان پړکا کوله .پستو د بنکړو په ننداره وه، په دې کې د دروازې غږ دواړه سره وارخطا کړل، طالب جان پستو زر په غېږ کې اوچته کړه، د کلا د دروازې خواته د اخورونو تر شا پټ شول.

طالب جان د پستو په خوله باندې خپل لاس ایښی و، ترڅو چیغه ونه کړي، دی هم له وېرې رپېده .د نوروز اکا غږ شو، چې داوجان ته یې نعرې وهلې، ترڅو زر راووځي چې د ماسخوتن جمه ورنه تېرېږي.

د طالب جان له نېکه مرغه، دواجان څخه خپل موبایل د کوټې په تاخچه کې هېر شوی و، هغه پلار ته کړل، چې بېرته به په موبایل پسې لاړ شي، هغه به راواخلي، ترڅو د موبایل په رڼا تر جوماته لاره سره رڼا کړي، خو پلار یې ورته ویل، ځه پرېږده یې، اوس ناوخته دی .د نوروز

او دواجان سیوري ورو ورو لرې شول .پستو د طالب جان له خوا څخه راولاړه شوه، هغه لکه پاڼه رپېده، د کلا په دروازه دننه شوه، ترڅو وګوري چې کلا کې څوک شته او کنه؟ د هغې اوږه په تیاره کې د اشکې له اوږې سره ولګېده، هغې ورته وویل:

_دلته څه کوې؟

_هېڅ هم نه کوم.

_ښه ولاکه دې پرېږدم، که ادې ته ونه وایمه، د باندې څوک دي؟

_هېڅوک نسته؟

هغې دروازه خلاصه کړه، طالب جان زر د کلا شاته منډه کړه.

طالب جان، ددې لپاره چې رسوا نه شي، د کارېز خواته جومات نه تېر شو، د شګو جومات ته لاړ.

نوروز اکا د خپل زوی سره په اول کتار کې ولاړ و، طالب جان بې اودسه په لمانځه ودرېده .په زړه کې یې توبې ویستې، د خدای سره یې وعدې کولې چې په کور کې به دوه وارې لمونځ راوګرځوي، د ډډک زامن د طالب جان څخه مخکې کتار کې سره ولاړ ول.

پستو کلاته په ننوتو سره د اشکې سره په دعوو شوه، اشکې ورته قسم وکړ، چې ادې به پرې خبروي، ورته وایي به چې پستو د طالب جان

سره دانې اچولې دي .پستو د اشکې زنه ونیوله، ورته یې بنګړي او مېخکي ور وښودل او ورسره ژمنه یې وکړه، چې هم به بنګړي ورسره نیمایي کوي او هم به په وېش برابر مېخکي ورکوي، خو اشکې ورته ویل، چې ټوله پوړۍ ژاوله به هغې ته ورکوي، کنه نو بیا به ټولې خبرې ادې ته کوي.

خو د پستو ژاولې له حده وتلې خوښې وې، ورته یې وویل، چې یوه دانه ژاوله دې هغې ته ورکړي او څلور نورې دې هغه واخلي، په دې خبره اشکه سلا شوه، ورسره یې ومنله .دواړو خویندو بنګړي په لاس کول چې د دواجان ښځه ګلابه له تندورخانې د چای جوشې سره راووته، په دوی یې غږ وکړ:

ـڅه کوئ په دې تپه تیاره کې؟ ادې مو له څه وخته غواړي.

ـښه اینې درغلو.

دواړو خویندو بنګړي په لاس کړل، یوه ژواله اشکې خولې ته واچوله، بله پستو، مېخکي یې سره د خپلو پوړونو د پلونو په څنډو غوټه کړل، دواړه لاندې تاوخانې ته ننوتې .خځوزه ناسته وه، د دواجان د مشري لور ګلالۍ چې د اوو کالو به وه، سر یې د لاټین رڼا ته غوښت .یوه نیمه سپړه به یې چې پیدا کړه، نو د تاخچې په غولي به یې مړه کړه.

هغه د جینکو په لیدو په پستو غصه شوه، ورنه پوښتنه یې وکړه چې د ډوډۍ نه وروسته چېرته ورکه شوه؟ پستو لږه غلې جینۍ وه، هغه چپه خوله وه، په دې وخت کې اشکې پرې پرده واچوله، ورته یې وویل:

ـادې !د پستو په زړه درد و، کولمې یې خوړېږي، کیناراب ته تللې وه.

ګلابې د هغوی دواړو خبره ور وچه کړه:

ـتاسې خو دواړه د کلا منځ کې ولاړې وئ؟ هلته مو څه کول؟

ـموږه د اسمان ستوري شمېرل.

پر خځوزې ګلابه تر لوښو نه وه ګرانه، نو د هغې خبرې هم پرې ښې نه لګېدې .د ګلابې په خوله کې یې خبرې ور وچې کړې، ورته یې وویل:

ـد تا یې پرې څه؟ دواجان څې راغی، بېګا ته یې غوړونه ښه ور ډک کړه.

په دې وخت کې د ګلابې د اشکې او پستو لاسونو ته پام شو، ورنه پوښتنه یې وکړه، دا بنګړي مو څه وخت واخیستل؟ نن خو بقال نه و راغلی .دواړه خویندې ټکنۍ شوې، یو بل ته یې وارخطا وارخطا وکتل.

***

وربښمینه مور ته تر دارو ورکولو وروسته بیا غوجلې ته لاړه، چې وګوري طالب جان هلته څه پټ کړي دي .هغې د غوا، خرې او د مېږو اخورونه یو په یو تالاشي کړل، خو څه یې ونه موندل .د غوجلې دروازه یې بندوله، چې په همدې وخت کې د کلا د دروازې زنځیر ورو ورو وشرنګېده .هغه پوه شوه، په منډه دروازې ته ورغله، ویې لیدل چې مورک د دروازې شاته غلی ولاړ دی، لاس یې ورکړ:

ــسترې مسې.

ــخیر یوسې .دا لاسونه دې بیا تش دي؟

ــولې تا راته بنګړي راوړي دي څه؟

ــاو کنه، طالب جان ته مې ښه ډېر مېخکي هم واخیستل، دوه درجنه بنګړي او ځاولې هم.

ــالله !دی دې سورکی قران ووهي، تنا زاولې یې راکې، زیاتې یې جومات ته منډه کړه.

ــګوره !مه کوه، هغه په بنګړو څه کوي؟ مېخکي خو به د خرې په پوزه نه کوي او نه به بنګړي د خرې پښتو ته ور اچوي.

ــولې پستو ته به یې ورکړي وي.

ــپستو !د نوروزي لور ته؟

ـاو کنه، سمې دانې يې ور اچولي دي، سم دم يې لېونی کړی.

ـلکه تا چې زه لېونی کړی يم.

ـنو اوس دې څه راوړي؟

ـهېڅ مې هم نه دي راوړي، ښه زياتي هغه پرېږده، سبا ته به يې درته راوړمه، ادې دې څنګه ده؟

ـده نو، خوارکۍ نه سمه پورته کېدای سي او نه کته کېدای سي.

ـځه ښه ده.

ـولې خدای دې ووهه.

ـنن به کور کې ځای راکې، هسې هم ادې دې منډو نه پاتې ده، د خوب ګولۍ مې راوړي دي.

ـښه ! نو ته درځه غوجلې ته، زه به لاړه شمه چې ادې غږ ونه کي.

ورېښمينې، ولي ګل په غوجله کې پټ کړ او خپله د مور خواته ورغله.

کوټې ته په ننوتو سره ادې يې ورنه پوښتنه وکړه:

ـچېرته ورکه وې؟ ډېران ته مې وباسه، کولمې مې خورېږي.

ـوی ادې !صبر چې طالب جان راسي بيا به رانه لوېدلې يې.

ـښه !ښه !اوس مې بیا د هغه په لاس ورکوې، ځې دا وارې مې دا د بلې خوا پښتۍ را ماتې کې، ته راځه تا سره ووځمه.

مرغۍ خپل لاس وریښمینې ته ورکړ، له ځایه ولاړه شوه .د هغې په اوږه یې لاس کېښود، قدم په قدم ورسره روانه شوه .مرغۍ ورته وویل، چې د کلا شاته دې یې بوځې، خو وریښمینې ددې لپاره چې کار ورته اسانه شي، د کور دننه دېران ته یې بوتله، په دې کې د کلا دروازه خلاصه شوه، مرغۍ د وریښمینې څخه پوښتنه وکړه:

ـطالب جان دی؟

ـاو، هغه سر خوړلی به وي.

ـولې سر خوړلی، دا غوا ولې رمباړې ويي؟

ـخدای زده؟

ـطالب جانه !بلا دې واخلمه، بجلۍ درسره سته؟

ـاو ادې، ولې؟

ـته غوجلې ته سه، وګوره چې غوا ولې رمباړې ويي؟

ـښه ادې.

ماسخوتن و، په کلا کې تپه تیاره وه، اسمان کې سپوږمۍ هم نه ځلېده، چې په رڼا یې انسان خپله لاره سمولای .د طالب جان د ښو

ویلو سره، د مرغۍ چیغې راپور ته شوې .طالب جان د ډېران په لوري د لاسي څراغ رڼا ور واچوله، ویې لیدل چې ادې لاندې په ډېران لوېدلې ده او وربښمینه پرې د پاسه پرته ده .هغه د دوی په لوري ور منډه کړه .مور یې راپورته کړه، وربښمینې ته یې لغته ورکړه، ورته یې وویل:

ـبلا دې ووهه، یوه ادې نه سې سنبالولی.

ـمې کوه زویه !د هغې څه ګناه وه، اوس به یې ګوډه کې، بیا به مو څوک خدمت کوي.

ـنه ادې !ولا که یې پرېږدم، وزنم یې.

په دې کې وربښمینې ځواب ورته ورکړ:

ـځه ځه ورک سې، پستوګۍ دې ووزنه.

ـته ودرېږه، ادې تاوخانې ته کمه، بیا به درسره ګورمه.

طالب جان مرغۍ په شاکړې تاوخانې ته ورسوله .په دې کې وربښمینه زر د غوجلې دروازې ته ورغله، هلته یې مورېک ته وویل : زر ووځه !چې د تا پر سر مې خپله ادې تر مرګه ورسوله، هغه خوارکۍ مې په ځمکه خطا کړه.

مورېک د غوجلې څخه د وتلو پرمهال هغې ته غاړه ورکړه او ورسره تر هغو خوله په خوله و چې د طالب جان غږ د تاوخانې له دروازې راغی:

ـڅه سوې؟ مړې بلاګۍ !راسه، ادې ته چای پخې که.

ـدغه ده درغلمه، په غوجلې کې مې غوا ولیدله، سمه ده چیشي چیچلې نه ده.

موړک له کلا ورو ووت، د وربښمینې زړه په ګوګل کې ټوپونه وهل، د هغې رنګ تک زېړ اوښتی و، تندورخانې ته لاړه، له تناره څخه د تودو اوبو چیجوشه یې راوویسته، په ترموز کې یې خپلې ادې ته تورې چای دم کړې، له دوو پیالو سره بره تاوخانې ته راپورته شوه.

طالب جان د مور سر ته ناست و، راډیو یې لګولې وه، مرغۍ ځګېروي کول .وربښمینې په ډار ډار سره ترموز د مور خواته کېښود، خپله د مور د پښو سره کېناسته، طالب جان ورته وویل:

ـد ادې د سر خیر غواړه، دا مې منعې کوي، کنه نو سمه به مې ډبولې وې.

د مرغۍ وربښمینې ته پام شو، ورته یې وویل:

ـجار !!دا خوله دې ولې داسې تکه شنه سوه؟

وربښمینه لړه وارخطا شوه، خو زر یې په زړه کې پلمه جوړه کړه او ورته یې وویل:

ـد تا په ګوتو ولګېده، خوړ سومه.

ـجار جار لورې !ما مړه کې، تر ما خو ته ډېره خوږ سوې یې.

طالب جان له ترموزه څخه چای په پیالو کې واچولې، وربښمینې ته یې مخ ور واړاوه، ورته یې وویل:

ـهېڅ بلا هم نه یې وهلې، جګه سه، د تاخچې نه ګوړه را واخله.

وربښمینې ګوړه را واخیسته، زړه کې خوشاله شوه، چې ښه ده، ادې یې ورباندې پوهه نشوه او مورېک هم د طالب جان له شره خلاص شو، کنه نو سمه رسوایي به جوړېده .د تاوخانې د دروازې په خوله کې یې طالب جان ته او د مور د پښو سره یې ځان ته بستره وغوړوله، په خپله بستره کې ننوته .د مورېک یوه یوه خبره په ور په زړه کېده، ځان سره به کراره کراره موسېدله.

طالب جان په راډیو کې د نغمې مرکه اورېدله، د نطاق له هرې پوښتنې سره به له خندا تک شین شو او د نغمې ځوابونو به خوند ورکاوه .مرغۍ هم د نغمې مرکې ته غوږ وه، طالب جان خپلې ادې ته کړل:

ـادې !دا منګل څنګه په نصیب خوار و، داسې ښځه ورنه لاړه؟

ـاو زویه کیسمت یې خراب و.

ـادې سمه شرنګولې ځواني لري، د شمالي خو داسې خوښه ده، په هر مجلس کې ددې نوې کیسټه په ټولو طالبانو باندې اوروي.

ـزویه !نازکه درته وغوارمه، هغه خو د نغمې نه کمه نه ده.

ـنه نه ادې !اوس مې د ماما سره په بلا مه اخته کوه.

ـولې په ماما دې څه سوي دي.

ـما د نازکې خدای وهلې لپاره د نغمې صیپت نه کولو.

ـنو څه کوې؟ پستو بیزوګۍ کوې، ولاکه یې په کلا سر رادننه سي.

ـادې ته اوس پرېږده، راځه د نغمې دا پستې پستې خبرې واورو.

***

لمرینه ورځ وه، د کلیوالو په خبره نه سهار و نه غرمه، څاښت و .طالب جان د سباناري څخه مخکې له کوره وتلی و .هغه ته قومندان غمي په موبایل زنګ وهلی و او هغه یې ور غوښتی و .ورېښمینې د تاوخانې مخې ته په چوترې لمر ته پلاستیکي ټغر غوړولی و او مور یې لمر ته ناسته وه .مخې ته یې غنم په یوه مسي غوري کې پراته وو، له هغه څخه یې شګې او اوربشې ور ټولولې .ورېښمینې تاوخانه راجارو کووله، له ځان سره لګیا وه، بدلې یې هم ویلي .هغې د تاوخانې خاورې ورټولې کړې، په یوې پلاستیکي کڅوړې کې یې واچولې .د پستو غږ یې واورېده چې له ادې سره یې غړېږي، زر ووته، هغې خپله زنه په بلۍ ایښې وه او له هرې خبرې سره به دوه دوه وارې موسکۍ

موسکۍ کېدله .وربښمينه چې ورته سمه غصه وه، د نغري خواته ورغله او غلې يې ورته وويل:

_دا بنګړي دې ومبارک سه.

_تاخه وليدل،

_خبره سوم طالب جان درته راوړي،

_نه پرون بقال راغلی و.

_غلې غلې، ماته ولي ګل وويل.

_ښيه ښيه !دا نو موړک تاته د طالب جان په لاس در لېږلي وو، نو د تا برخه يې ماته راوړه.

_بس بس، سم دې د لارې نه ويستی ده، بنګړي دې د تا وي، نو مېخکي به راکيې.

_اينې واخله !بل يې د اشکې په پزه ده، دربه يې کي، اشکې !وه اشکې !دلته راسه.

اشکه هم په منډه منډه د پستو خواته ورغله، وربښمينې ورنه مېخکی وغوښت، هغې ورته وويل:

_په خدای که يې درکم، اوس به مو د ادې په ګير کې ورکم.

ـغلې غلې، مېخکی دې په پزه کړی، بنګړي دې په لاس کړي، لا شیطاني هم کوې، کراره کېنه.

پستو ورېښمینې ته وویل چې بره چینې ته به په اوبو پسې لاړې شي، هلته به خبرې هم سره وکړي، هغې هم ورسره ومنله .له تندورخانې څخه یې ګړی واخیست .ادې ته یې وویل چې اوبه نشته، نو رابه یې وړي او د غرمې لپاره به د غنمو کوچه پخوي .د کلا نه ووته، د کور شاته نرۍ لارې ته تاوه شوه، هغه لاره تر چینې پورې لنډه وه، لاره کې د ډېک زامن په مخه ورغلل، هغې پلو مخ ته که، غلې یې له خوا څخه تېره شوه .قدمونه یې تېز کړل .د چینې سرته چې لاړه، څه ګوري چې د ډېک لوڼو او ښځې یې یو خروار کالي راوړي او په لویه تیږه یې ایښي دي، سوباړي یې ورته نیولي، کالي سره وینځي .ورېښمینې ورسره ستړې مشې وکړه، د ډېک ښځې ورنه د مرغۍ پوښتنه وکړه .د ډېک لور جماله چې سمه مشله مسته پېغله وه، له ورېښمینې څخه یې پوښتنه وکړه:

ـورېښمینې !هلکانو ویل څې خرې مو ډزې زده کړي؟ هههههه.

ـچا ویل، دوی دې قران ووهي، غلې کېنه، خره څنګه ډزې کوي؟

ـپه خدای باودین ویله.

ـغلې غلې، دا خوله دې بده ښکاري.

ـنو طالب جان څنګه ده؟ اوس خو د مونږ کره هم نه راځي؟

پستو چې د لرې څخه د جمالې خبره اورېدلې وه، سم له واره یې وخندل او ور زیاته یې کړه:

ـجمالې !په طالب جان څه کوې، شاله خره وشکه اخلې؟

ـخره خو یې د نوروز اکا بارونو زړه کړې، ماشینګنه یې وشکه اخلمه.

ـښه نو د مورک باډیګارډه به یې.

د جینکو په نانډریو کې د ډډک ښځه ور ګډه شوه، ټولو ته یې شور وکه او ټولې لکه کوترې د چینې له سره، سره والوتلې او هره یوه خپل کور ته لاړه، خو د ورېښمینې او پستو په زړونو کې د یارۍ پټې خبرې هماغسې غوټه پاتې شوې.

د ډډک د لوښو د لاسه ورېښمینې او پستو سم مجلس ونه کړ او خبرې د دواړو په زړونو کې پاتې شوې، ورېښمینې ګړی د نغري خواته کېښود، د مور خواته ورغله، هغې غنم پاک کړي وو، ورته موسکۍ شوه:

ـشاله د چینې په سر جینکۍ نه وې، څنګه زر راغلې؟

ـوې د ډډک ښځې کالي راوړي وو او لورانې یې لکه کوترې، دې او اې غاړې ته سره الوتې را الوتې.

ــ ښه ښه !نن یې کالي مینځل سره .وه جیلکۍ دا د مونږ کالي خو هم خیرن سوي، نور ډېوزې وشکه خېزي، ماسښین ته که داسې ښه لمر و، ویسه وې مینځه.

ــ ښه ادې اوس به) کوچه (باندې کمه.

وریښمینې د مور له مخې نه غنم واخیستل، هغه یې پرېولل، په بخار دېګي کې یې واچول، مالګه او ښې ډېرې اوبه یې پرې واچولې، د دېګي سر یې ور کلک کړ، په نغري کې یې اوربل کړ او دېګی یې باندې کړ .مور یې ورته وویل چې پیاز ور ډېر کړي او ښه تبی دې کوچې ته جوړ کړي .وریښمینه د نغرې سره خواته لګیا وه، تبی یې کاوه، چې د شمالي مشره ښځه د مورک ادې کلا ته دننه شوه .
وریښمینه زر ور ولاړه شوه، سترې مشې یې ورسره وکړه، هغې پلو کې لرې تازه منې راوړې وې .وریښمینه هم خوشاله وه .زر زر یې ورته په نغري باندې تازه چای دم کړې، هغه د مرغۍ خواته ناسته وه.

وریښمینې په پتنوس کې د چایو د ترموز سره دوه پیالې او چاکلیټ هم راوړل، چې تېره ورځ طالب جان د ولایت له بازاره راوړي وو .د مورک مور ته یې چای په پیاله کې واچولې .هغې د مرغۍ څخه د هغې د پوښتۍ پوښتنه وکړه .وریښمینه ناسته وه، د هغو خبرو ته یې غوږ نیولی و، د مور یې ورته پام شو، ورته یې وویل:

ـوه جیلۍ جګه، دېګۍ وکه، اوس به طالب جان راسي.

ـښه ادې !غنم مې په بخار کې اچولي د نغري د پاسه مې ایښي.

د شمالي ښځې په دې وخت کې مرغۍ ته وویل:

ـولې ته خبره نه یې؟

ـد څه نه؟

ـطالب حان خو نن د نورو طالبانو سره بره سرک ته لاړ، د امریکایانو قوا ګردېز ته روانه ده.

ـوۍ جار زویه !ده خو ماته هېڅ هم نه دې ویلي .جار جار زویکه !الله دې سیي سلامت راوله.

د شمالي د ښځې له خبرې سره په مرغۍ باندې توده تبه راغله، زړه یې طالب جان ته وارخطا شو، بیا یې د مورک له موره په وارخطايۍ وپوښتل:

ـمورک هم تللی؟

ـمورک څوک دی؟

ـوۍ خوله مې غلطه سوه، توبه د ډډک په ځای مې درته ډډک ووې، خدایه توبه توبه.

ـهههههه، نه ډېک کله د جهاد ده، هغه خدای وهلی کله په یوه پلمه او کله هم په بله پلمه زامن ساتلي او ګټې پې کوي.

ـولي ګل خو تللی؟

ـاو هغه خو تر پلاره مخکې روان و.

ـڅه څې ولي ګل تللی، نو طالب جان به ورسره وي.

د ولي ګل د تګ خبرې وربښمینې ته اندېښنه ور واچوله .هغه د نغري په لورې لاړه، پیاز یې په کاسه کې میده میده کړل، ترڅو د کوچې لپاره تبی جوړ کړي .زړه یې ناقرار و، پاس بلی ته وخته او پستو ته یې ور نعرې کړې .په دې وخت کې یې ادې ورته وویل، ولې وه جلکی په پستو څه کوې؟ هغې ورته وویل، چې ده دېګي مساله ورنه غواړي.

پستو چې د بلی سرته راغله، نو وربښمینې ولیده چې سترګې یې تورې کړې او سرخي یې هم وهلې ده، ورته یې وویل:

ـداسې مسته مسته خوشاله یې؟

ـولې څه ټکه خو نه ده پرېوتې؟

ـڅه !طالب جان دې تللی، بره سرک ته د امریکانو قوا روانه ده.

ـوی چا درته ووې؟

ـد ولي ګل ادې ګورې؟

_الله زه خو اوس پړاو ته د ماما کره روانه یمه، لمسی یې سوی .ادې اومبارکي ته ځي.

_بس نفلونه کوه، ولي ګل هم ورسره دی، الله دې روغ رمټ راولي سره.

* * *

ورځ ارامه وه، د لمر تودوخه په انسان بده نه لګېده، د ونو پاڼې زېړې شوې وې، لمر په خړو غونډیو او ډاګونو پوست او ارام ځلېده .لاندې سرک باندې د مساپرو یو نیم موټر به راښکاره شو .قومندان شمالي په مورچل کې د یوې غټې تیږې شاته ځان غلی کړی و .لږ وړاندې د بلې ډبرې شاته د ولي ګل په لاس کې دوربین و، لارې ته یې مسلسل کتل، دومره چې د طالب جان زړه ورته په تنګ شو .څو نور طالبان هم په خپلو مورچلو کې ناست ول، د قومندان شمالي انتظار یې سره ویست چې څه وخت ورته د برید کولو غږ کوي.

طالب جان هم خوشاله و، نن شمالي ورته ویلي وو چې خامخا به ډزې کوي .مورچل یې د ولي ګل او شمالي تر منځ و .سړک ته یې کتل، پستو ور په زړه شوه، خپل موبایل یې راوویست، د هغې عکسونو ته یې کتل، ځان سره موسکی و، په دې وخت کې د ولي ګل ورته پام شو،

غصه ورغله، ځان یې لږ ورنږدې کړ او موبایل یې د هغه له لاسه واخیست .طالب جان پرې ور ټوپ کړل.

خو هغه وخته د پستو عکسونه لیدلي وو، بېرته یې موبایل ورکړ، په دې وخت کې پکي غږ وکړ:

ــبیا په څه ګلو سر دی؟

ولي ګل ورغبرګه کړه:

ــمونږ ثواب ته راوستی، دی د شنو خالونو تماشې کوي.

طالب جان ورته وویل:

ــولې زړه مې نری شو، ما ویل اخري دیدن خو به یې وکم.

پکي ور زیاته کړه:

شمالي هسې ځان سترې کوي، ولا که جهاد دربانديې وکي.

طالب جان غصه شو، ورغبرګه یې کړه:

ــځه ځه !په کارېزه هر مازديګر د ډډک لورانو ته پیره زه کومه.

په دې وخت کې شمالي ته خندا ورغله، ورته یې وویل:

ــبس بس هلکانو !که نن ژوندي پاتې سو، نو د تاسو ټولې کوزدې به ددې په زور کومه، هغه خپل راکټ ته اشاره وکړه.

په دغه مهال ولي ګل نعرې کړې:

ــځانونه سم کئ، قطار را ښکاره سو .ټول سره سم شول، طالب جان د پستو دیدن یو ځل بیا وکړ، موبایل یې په جېب کې کېښود، په زړه کې پښېمانه و، چې ولې راغلی؟ د ټولو طالبانو مخونو ته یې وکتل، رنګونه یې الوتي وو .په سړک د ټانکونو، زرې پوشو او ډول ډول جنګي موټرو قطار روان و، چې طالب جان یې د نومونو سره اشنا نه و، د قطار د پاسه هیلو کوپترې هم په هوا رواني وې، شمالي هلکانو ته کړل:

ــپه غضب یې کې، دوی خو ویلي وو چې طیارې به نه وي، اوس له ډزو سره بنګنې راتاوېږي او دلته مو غلبېل غلبېل کوي، ولي ګل وویل:

ــسي داسې و، نو بېګا به مو ماینونه ورته ښخ کړي وو.

دلته پکي نعرې کړې:

ــبس پرېږدئ یې، یا به شهیدان سو یا به غازیان.

بیا یې د شمالي د امر نه پرته په قطار د راکټ ډز وکړ، چې ورسره سم د عسکرو ډک موټر ولګېده، اور یې واخیست، ورپسې شمالي د راکټونو ډزې پیل کړې .شمالي په درېیم ډز سره یوه هیلي کوپتره را وغورځوله، بله هیلي کوپتره په شا لاړه، دلته دوی نور هم زړور شول . طالب جان لکه پاڼه رېږدېده، یو ډز یې هم نشو کولی .قطار ودرېده، ټولو ټانکونو د دوی په لوري ډزې پیل کړې.

طالب جان نور هم وارخطا شو، سترګې یې پټې نیولې وې، درې ساعته جنګ روان و، په دوی کې یو ګل حسن په لاس ولګېده، د قطار پینځه ډول ډول جنګي موټرې ولګېدې .د قطار تر تلو وروسته شمالي طالب جان ته وویل:

ـځه ورکوز شه، هیلي کوپتره وګوره، خواته یې کوم یو ژوندی ښکاري، درسره یې راوله.

هغه په منډه منډه لاندې ورغی .بلا وژل شوي افغان او دوه درې امریکایي عسکر یې ولیدل، د هیلو کوپترې خواته ورغی .هلته یې یو عسکر ولید چې په لاس سخت ټپي شوی و .طالب جان یې سرته ودرېده، هغه ورته وویل:

ـما مه وژنه، مسلمان یم.

کلیمه یې ورته تېره کړه، دده زړه پرې وسوځېده، د خپلې لونګۍ نه یې څیره وویسته، د هغه ټپ یې کلک ورته وتړلو .خپل د اوبو) پتکه ( یې ورکړه .هلته یې څو نور هم ولیدل چې ښورېدل، بس د هر یو سر ته به ورغی، وبه یې لیدل چې ژوندی دی، نو کلیمه به یې چې ورته وویله، دده به زړه پرې وسوځېده .د زخمیانو منځ کې یو چې د لمبه شوي زري پوش خواته لړ لړې پروت و، ږیره یې هم وه، نو طالب جان ته یې وویل:

_طالب جانه، مخابره لرې؟

_نه څه يې کوې؟

_مور ته مې زنګ وهمه چې زه ژوندی يمه.

_موبايل راسره دی.

_ته يې راکه.

_واخله !خو ډېرې خبرې به نه کوې.

هغه کس د طالب جان موبايل واخيست، يوه شمېره يې ډايله کړه او بيا يې وويل:

_شه شه، بلې بلې، زه نولس نولس يمه، لاره کې موقعيت.....

بيا يې طالب حان ته موبايل بېرته ورکړ .طالب جان هم بېرته د شمالي دوی خواته را روان شو.

طالب جان په سوچ کې ډوب و، بېرته د ژۍ په لوري د نورو ملګرو د مورچلو خواته ورو ورو ور روان و .په سوچ کې و، نن ورته جهاد مزه نه وه ورکړې .د هغه ځوان عسکر ډارېدلې څهره، وچ حلق او زارۍ يې په سترګو کې تاوېدې .ور په زړه شول چې څرنګه زر زر يې ورته کليمه ور تېره کړه .ځان سره په جنګ و، که دا وژل شوي هم ددې نورو په شان مسلمانان وي؟

شمالي د نورو د ژغورلو لپاره طالب جان میدان ته ورمخکې کړی و . هغه پخپله او نور ملګري یې وېرېدل، هسې نه چې کوم یو ورته په کمین کې ناست وي، وار پرې مخکې نه کړي .دوی به تر بریا وروسته هم ټول په یو وار د وژل شویو او ژوبلو شویو دښمنانو په لوري نه ورتلل، بس هغه ملګری به یې ورمخ ته کاوه چې په هغه خوارکي به یې نه حسابوله.

طالب جان سانیولی سانیولی د مورچلو خواته ورنږدې کېده، چې هیلو کوپټري په هوا کې رابښکاره شوې، د یوې په ځای شپږ پرله پسې راروانې وې .ولې ګل چې په دوربین کې هیلو کوپټرو ته پام شو، نو وارخطا شو او خپل پلار ته یې کړل:

ــدرځئ زیاتي ځانونه وباسو، طیارې د میدان په ژیَ را واوښتې .د شمالي سره ټولو لاندې د ډاډسنو په لوري ور منډې کړې، پکې ګل حسن په ډاډسنې کې کېنولی و، چې پام یې شو ټول په یوه منډه دي، بس ودرېده او موټر یې روان نه کړ .هغوی ته منتظر شو.

طالب جان چې بره را وخوت نو ویې لیدل چې ټول په یوه منډه دي، دی هم وارخطا شو او په منډو شو .دومره تېزه منډه یې واخیسته چې تر مورېک دی مخکې د ډاډسنو خواته ورسېده .ټولو ځانونه په دوه ولاړو ډاډسنو کې ځای په ځای کړل او د) پړاو کلي (په لوري یې سره موټرو ته کش ورکړ.

لا نیم ساعت نه و تېر، چې د شمالي ډاډسنې پړاو کې د قومندان ګلاب د کور مخې ته ودرېدې .ګلاب ته شمالي په موبایل زنګ وواهه ، هغه ورته وویل، چې ولایت کې د والي سره دی .دوی دې په مهمانخانه کې سره کېني، دی به د غرمې ډوډۍ ته ور ورسېږي .د ټیلیفون له بندېدو شېبه وروسته د ګلاب د کلا څخه د هغه وراره جنت ګل راووت، دوی ټولو ته یې سترې مشې ورکړه او دوی یې کور کې د ننه مهمانخانې ته بوتلل .ګل حسن ته یې بستره وغوړوله، جنت ګل په خوست کې د طب په پوهنځي کې د درېیم کال محصل و .په طبابت یې یو څه سر خلاصېده .شمالي ګلاب ته د ګل حسن د زخمي کېدو ویلي وو، هغه له ځانه سره د ولایت له دواخانې نه د آپرېشن سامانونه او درمل راخیستي وو .د هغه تر راتګ مخکې جنت ګل ورته د چایو سره د بروفینو دوه ګولۍ ورکړې، که درد یې یو څه کرار شي .تر دمې جوړولو وروسته د شمالي چې طالب جان ته پوره پام و او هغه غلی ناست، ور څخه یې پوښتنه وکړه:

ـتا څه وکړل، ټول شاله مردار سوي وو؟

ـنه یو نیم پکې زخمیان وو.

ـزخمیان؟ نو تا څه وکړل؟

ـماته ټولو کلیمې وویلې، اوبه مې ورکړې!

ـدا څه اپلتې وايې غرق سې.

ـپه خدای چې مو سلمانان وو، محمدي کليمه يې ويله، نو خدای که خو يې ووژنم.

ـهههههه، ښه بيا دې څه وکول؟

ـيوه خوار ته مې وويل،" الهمه نستئينکه "خو را ته تېره که، ولا ټوله يې راته تېره که، راته يې ويل چې د ماسخوتن په وترو واجبو کې يې په درېيم رکعت کې تر قل ولا وروسته وايي.

ـنو سمه يې درته تېره که؟

ـخدای خبر قراعت خو يې سم و، زياتي نه وم خبر، خو ماته نه ده زده.

ولي ګل ورزياته کړه:

ـما خو وليدلې، هغه دوو ته ورټيت سوې؟

ـهو کنه !د هغه يو خوارکي مې لاس ور وتاړه او هغه بل ته مې موبايل ورکه، خپلې ادې ته يې زنګ واهه څې زوندی ده.

ـغرق سې، دا هيلو کوپترې د تا په موبيل راغلې، خدای دې خوار که په دا زاولنه خوله.

دلته پکي شمالي ته کړل، په ښه سرې ټوپک اوچتوې، ترده خو یې خره ښه ده، دزې خو کوي.

د هغه ددې خبرې سره ټول په خندا شول، گل حسن وویل:

_دی به له خیره بیا د سترې محکمې لوی قاضي وي، که خدای کول .ددوی خبرو ته جنت گل پوره غوږ نیولی و چې پر موبایل یې د گلاب زنګ راغی.

جنت گل په منډه له مهمانخانې څخه ووت، د کلا لویه دروازه یې خلاصه کړه، گلاب خپل موټر کلا کې دننه ودراوه او جنت گل ته یې وویل، چې د سردارولي سره دې د باندې په ولاړو ډاډسنو ترپالونه وغوړوي، چې طیارې دې خواته راتاوې نشي.

هغه هم د گلاب د مشر زوی سردارولي سره یو ځای زر زر په ډاډسنو باندې ترپالونه وغوړول.

گلاب د دواگانو کڅوړه له موټر څخه له ځانه سره مهمانخانې ته راوړه، د ننوتو سره یې شمالي ته وویل:

_ښه سوه چې راغلې، کوزې خو یې د تاسو مورچلو باندې سمې غوبلې جوړې کړې، داسې ښکارېدې چې په میدان ور اوښتې.

پکې طالب جان ته په اشاره کولو سره ورغبرگه کړه:

ــدا ټول ددې ټرن د لاسه !نې وینې هغوی ته یې موبایل ورکړی.

ــڅه کی؟ دا څه اپلتې وایې؟

ــپه خدای په ټولو یې کلیمه شریپه ویلې ده، چاته یې ډانټري کړې او چاته یې په حلق کې اوبه ور اچولي.

په مهمانخانه کې ټولو د طالب جان د نن ورځې پر جهاد ملنډې وهلې.

جنت ګل پرته له دې چې ګل حسن ته د بې هوشۍ ستنه ولګوي، د هغه د مټ څخه د مرمۍ د راویستلو په هڅه کې شو .په ګل حسن یې سم مرګ تېر کړ، طالب جان یې سرته ناست و، سمې اوښکې یې تویولې .تر نیم سات وروسته د ګل حسن له مټ څخه یې مرمۍ راوویسته، لاس یې ورته ښه پانسمان کړ، د زخم ځای ورته وګانډه او د درد د کرارولو ستنه یې ورته ولګوله .سیروم یې ورته ولګاوه او هغه تر لنډو شېبو وروسته په کرار شو.

د ګل حسن تر عملیات وروسته، سردارولي مهمانخانې ته دسترخوان راوړ او د غرمې ډوډۍ راغله .ښایسته تاوده تاوده پاستې او په ناشکن کاسو کې د پسه د غوښې شوروا د شمالي او نورو مېلمنو اشتها نوره هم زیاتوله.

طالب جان همداسې خپلې اوښکې پاکولې او د ډوډۍ خوړولو څخه یې انکار وکړ .شمالي په وچ زور په ډوډۍ کېناوه، تر ډوډۍ خوړلو وروسته، د مازدیګر لمانځه ته د کاریزه خواته سره ولاړل .د ملا لعل ګل د شعرونو صفت په هر کور کې و، ګلاب شمالي ته وویل چې تر لمانځه وروسته به ورته په جومات کې کېنو او د ملا لعل ګل نه به شعرونه واورو .همداسې هم وشوه، د مازدیګر تر لمانځه وروسته ګلاب ملا صېب ته وویل، چې خپلې څو غزلې ورته واوروي، هغه بس خپله کتابچه را واخیسته، سمه مشاعره یې جوړه کړه.

طالب جان ته یې سم خوند ورکړی و، هغه د ملا برابرې لنډې ګېرې او ننوتلو سترګو او لوړې پوزې ته په چرت کې تللی و، ښکلې خړه څواني یې درلوده .د هر بیت سره به موسکی شو، په شعرونو یې دومره نه پوهېده، خو د نورو د خندا سره به دی هم موسکی شو .د ماښام تر لمانځه پورې ګلاب سره له مېلمنو د ملا صېب شاعري واورېده .د ماښام د لمانځه سره سم شمالي هغه هم له ځانه سره کړ او د ګلاب مهمانخانې ته سره راغلل، تر څو د ګل حسن درد لږ څه په کرار شي . د ګل حسن په زخمي کېدو بابوسي قومندان هم خبر شوی و، هغه هم نن ماښام د لسو نفرو سره د ګلاب مهمانخانه کې سره ناست و.

ملا شعرونه ویل، د مهمانخانې له بر کړکۍ څخه د ګلاب لوښو او ورېرو یې چې ټولې پېغلې جینکۍ وې، د لعل ګل تماشه کوله .شېبه په

شپېه به د ګلاب ښځې جينکو ته غړونه کول، چې سره لاس په لاس شي او د بېګا ډوډۍ سره تياره کړي .جينکۍ به کله د مهمانخانې کړکۍ ته شوې او کله به يې د نغري په خوا کې د وريږو د دېګي د پاسه د ملا لعل ګل غزلې ځان سره زمزه کولې.

* * *

د تاوخانې له ورې دربچې څخه رڼا د کوټې غولي ته دننه شوې وه .د څراغ روښانه کولو ته نور حاجت نه و پاتې، په کوټه کې په اسانه تګ راتګ کېداى شو .مرغۍ په موصله باندې ناسته وه، د سهار لمونځ يې نوى خلاص کړى و، لاس کې يې تسبې وې، خپلې تسبې يې کولې.

وربښمينې ځان نور هم په خپلې برستنې کې تاو کړى و، د طالب جان د خوب خرهاري تر سهاره ورته خوب نارامه کړى و، مور يې ويل، نن شپه طالب جان په دې ډېر خرهاري کوي چې تېره ورځ په جهاد کې سم ستړى شوى و.

د طالب جان موبايل وشرنګېده، موبايل يې سرته پروت و، له برستنې څخه يې لاس راوويست، مخکې تر دې چې نمبر وګوري، موبايل يې بند کړ، بيا زنګ راغى، هغه خپلې مور ته وويل:

ـادې، که شمالي یا مورِک وي ورته ووایه چې نسته، یوه پلمه ورته وکړه.

ـوه زویه، بیا نو سخان درته ونکي، بلا دې واخلمه.

ـځه ...په خدای که نور داسې جهاد وکمه، نږدې مړ ومه، د ګل حسن چیغې مې خدایکه هېرې سي.

ـ ښه زویکه!

موبایل هماغسي شرنګېده، مرغۍ تورۍ د موبایل بټنه ټینګه کړه، چورت کې لاړه چې څه پلمه وکړي، نو غلې پاتې شوه، په دې کې یې تر غوږ شول:

ـطالب جانه !څنګه یې؟ پستو یمه ولې خبرې نه کوې؟

ـپستوګۍ ته یې؟

د مرغۍ تورۍ له دې غږ سره طالب جان په منډه له بړستنې د مور په لوري ورټوپ کړل او موبایل یې د هغې د لاسه واخیست.

د مرغۍ د غږ په اورېدو نور موبایل بند شو .طالب جان چې څومره په هغه نمبر زنګونه ووهل، چا اوچت نکړ، په دې کې ورېښمینې هم له مخ نه بړستنه لرې کړه، طالب جان ته یې کتل او مسکه مسکه کېده .
مرغۍ تورۍ بیا توبې وېستلې، ځان سره یې ویل، چې څه بې شرمه

زمانه شوه .هغه پخپله درې کاله د طالب جان د پلار په نامه ناسته وه، هغه په ایران کې مزدورۍ پسې ورک ورک و، کله چې واده له راغی، نو تر واده مخکې د دوی کره) چغل بازۍ (ته ورغلی و، مرغۍ یې مور او ورېندارې په وهلو وهلو کوټې ته ور دننه کړې وه، دا خوارکۍ له شرم او حیا څخه نه ورتله.

طالب جان چې اعصاب یې سخت خراب شوي وو، خپلې مور ته یې مخ ور واړاوه، ورته یې وویل:

_کومه یې، د تا یې څه؟

_په خدای که یې سر رادننه سي ددې سرې بیزوګۍ.

_سبا ته به ورکره ورځې راته غواړې به یې.

_ولاکه ورسمه، زه خپله ورېره درته غواړمه.

_غلې غلې کراره کېنه، خوله دې بده ښکاري.

د مور او زوی سمې داوې شوې، خو بیا هم د طالب جان زړه په کرار نه و او په هماغه نمبر یې زنګونه وهل، خو د طالب جان زنګونو ته چا ځواب نه ویلو .له طالب جان سره د پستو اندېښنه شو، ورېښمینې ورته وویل، چې تېره ورځ هغه د مور سره یو ځای د ماماګانو خواته) پړاو کلي (ته ورغلې ده .د پړاو د نوم په اورېدو هغه اندېښمن شو، خدای خبر چې پستو به کله راځي، ادې یې څو وارې ورته وویل چې پورته

شي، د سهار لمونځ وکړي، خو هغه قران کړی و چې له ځایه به هم نه خوځېږي.

* * *

لمر شېبه په شېبه راتودېده او تودوښه یې په انسان ښه لګېده، خو نري نري باد به بیا د لمر تودوښه یو څه له ځان سره غلا کوله او وړله به یې، نو مجبور وې چې څادر یا پټو واغوندې .مریمه د پستو د ماما لور لګیا وه، د سباناري د چایو پیالې او ترموزونه یې د کور مخې ته لښتي په غاړه وینځل، بستو هم ورسره ناسته وه، هغې سره د طالب جان غم مل و، هغه هېڅ په مهمانۍ نه پوهېده، خبره شوې وه چې کوم طالب تېره ورځ په جهاد کې په بره ژۍ کې زخمي شوی، نو زړه ته یې لوېدلې وه چې دا به خامخا طالب جان وي .د هغه راوړو بنګړو ته به یې چې وار په وار کتل، نو د بلۍ په سر د ورېښمینې کړې خبرې به یې یادېدلې چې ورته ویلي وو :

))داسې مسته مسته ګرځې، سرخي دې وهلې ده، طالب جان سرک ته لاړ، د امریکایانو کتار ګردېز ته روان دی((.

مریمې چې پستو ته وکتل، نو پرې پوه شوه ورته موسکۍ شوه:

ــغلې، دومره درباندې ګران دی وبه یې وینې.

ـغلې غلې، د هغه په چرت کې نه یمه.

ـنو د چا چرت وړې یې؟ سهار مې د سارګل موبایل په وچ زور درته واخیسته، هغه ادې شیشکه یې پکې راووته، هههههه.

ـماوې دی به وي، نو ادې یې ولې واخیست، اینې دی به زخمي وي کنه.

ـغلې، مړ خو نه دی چې داسې اوښکې تویوې، توړی به دربانده پویه سي.

هغوی دواړو پیالې پرېوللې، بېرته سره کلا ته راغلې، مریمې د چوترې په سر د پیالو پتنوس لمر ته کېښود .خپلې ادې ته یې وکتل چې د ترور سره یې لمر ته ناسته وه او (سنی) یې کولې، نو مریمې ورته وویل چې پتنوس ته دې سره پام کوي چې چرګان یې په ټونګه سره مات نه کړي .خپله تندورخانې ته ننوته او له تناره یې په لوی لګن کې سرې ایرې را وویستې، په لګن کې یې واچولې، د کوټو شاته ډېرانه یې یوړې .پستو د اوړو خمیردان را واخیست، په شکور کې یې ورته پېړې جوړې کړې، هغې له کدانې څخه خس او وچ بوټي د اور لپاره تندورخانې ته راوړل، په تناره کې یې اوربل کړ .د تناره په سر یې سیخچه کېښوده، د پاسه یې د اوبو ډک لوی دېګې کېښود او په دېګ بخار کې یې لړ غوړي واچول، پیاز یې ور میده کړل .هغې د غرمې

لپاره د پسه د غوښې شوروا پخوله، چې هم به یې وربنداره وخوري چې (زرچې) ده او هم به یې ترور او پستو چې ورکره مېلمنې راغلې دي .پستو د مریمې سره خوشاله وه، ولې چې هم یې همزولې وه او هم یې همرازه .تېر ماښام هغه مجبوره شوې وه چې هغه په ځان خبره کړي، بس هغې نن سهار وختي د سحر ګل نه موبایل اخیستی و، هغه یې د ماما زوی و او دا یې په نامه وه، تېره شپه هغه د دوی کره راغلی و، خو پستو غریبه په دې ونه توانېده چې د طالب جان سره خبرې وکړي .هغه اوس هم له ټوکو او هم له خندا شخه پاتې وه، کراره د مریم خواته نږدې د تناره په غاړه ناسته وه، مریمې ورته وویل:

_که خدای کول، کال ته دې وخت کې به ته هم له طالب جان سره یې.

_زه کله دومره طالع لرمه، د ابا دومره بد ایسي.

_ولې هغه خو ښه هلک دی، تر دې ځایه یې خلک صیپتونه کوي.

_خدایزده خو د ابا بد ایسي.

دوی په همدې مجلس کې وې، چې د مریمې مور تندورخانې ته راغله او مریمې ته یې وویل، چې زر زر دې ډوډۍ پخه کړي، چې ترور یې ببرته بره کورته روانه ده، په دې خبره پستو له خوشالۍ شخه په جامو کې نه ځائېده.

***

لمر د ويالې د غاړې د ولاړو چنارونو په لوړو په لوړو څوکو باندې و .

ډډک له خپلو پټو څخه را روان و، هغه په خرې باندې ښه ډېر ربېل شوي جوار بار کړي وو .کله چې د ويالې غاړې ته راورسېده، د جومات په چوترې باندې ناستو هلکانو د طالب جان ماشينګښه را واخيسته او هوايي ډزې يې وکړې .له دې سره خره وډاره شوه او ويالې ته له باره سره ولوېده، ټول جوار په وياله کې توی شول.

ډډک سم غصې پسې واخيست او په ښکنځلو يې پيل وکړ .خره يې سره د جوارو په وياله کې پرېښوده، سيده د جومات  چوترې ته پورته شو .ويې ليدل چې پرته له طالب جان بل کوم طالب په هلکانو کې ناست نه دی، بس د طالب جان څخه يې ماشينګښه په وچ زور واخيسته او ورته يې وويل:

_تو خدای !نه شرم نه حيا، ددې وړو هلکانو منځ کې ناست يې.

_نو څه وکمه، له جوماته مو منعې کوې، کاپر سوې؟

_له جوماته دې نه منع کوم، دا ډزې ولې کوې، دما خره دې وډاره کړه.

_په قران شريپ که ما کړې يې، نواب ډزې وکړې.

ـهغه خو د ډېر زوړ دی، ځان ته وګوره، ماشينګنه خو د تا ده؟

ـبس رایې که، زیاتي يې چاته نه ورکوم.

ـپه خدای که يې ووینې، زه به يې شمالي ته ورکوم، ورته وایم چې سم سرې ته دې ورکړي، نه تا خره ته.

ډېډک ماشینګنه په اوږه واچوله، هلکانو ورته خندل، لاړ تر څو خپله خره له اوبو ور پورته کړي. طالب جان په نواب باندې غصه و، له هغه ځایه سیده کور ته راغی، د کلا په دروازه چې د ننه شو، نو په بلۍ يې سترګې په پستو ولګېدې، چې د ورېښمینې سره په خبرو لګیا وه. هغه هم له شرمه کوزه شوه او طالب جان هم د خور او مور له شرمه زر تاوخانې ته ورتاو شو، فکر يې کاوه چې پستو ته به يې ورور يې موبایل اخیستی وي، نو د هغې په راغلي نمبر يې زنګ وواهه، ترڅو زنګونو تېرېدو وروسته یې د یو سړي غړ تر غوږ شو، بس زر يې ټیلیفون بند کړ. د موبایل تر بندېدو وروسته ګوري چې په موبایل يې د هماغه نمبر نه زنګ راغی، موبایل يې بېرته جېب ته کړ، د تاوخانې په توده تیږه ناست و، ادې يې سانیولې سانیولې تاوخانې ته را دننه شوه، لاس کې يې د نسوارو توف دانۍ وه، هغه يې د کوټې په دربچه کې کېښوده، طالب جان سره نیږدې کېناسته. د کمیس له جېب نه يې خپلې تسبې راووېستې، طالب جان ته يې کړل:

ـزویه! څنګه غلی یې طبیعت دې خټه غوندې دی؟

ـددې ډډک د لاسه!

ـولې ده خدای وهلي بیا څه کړي؟

ـماشینګنه یې په وچ زور راشکه واخیسته.

ـښه ولې؟

په دې کې بیا یې په موبایل زنګ راغی، هماغه نمبر و، مور یې ورته ټینګه شوه چې موبایل کې دې خبرې وکړي:

ـها څوک یې؟

ـته څوک یې، شرم او حیا نه لرې، ټوله ورځ دې دومره زنګونه وهلي.

ـچا؟ ما تیلیپونونه کړي؟ څه خوار سې په دا مرداره خوله.

ـمرداره خوله به دې د ادې وي، ښیه زه درسره ګورمه ښیه.

طالب جان موبایل بېخي بند کړ. مور یې وارخطا شوه، چې ډډک دده د زوی ټوپک خپل زوی ته ورنه کړي، بس دده د زوی تنخوا به بنده شي، له ځایه ولاړه شوه او د ډډک د کور په لوري روانه سوه.

* * *

د ماښام د آذان سره مرغۍ د ډډک په کلا ننوته. کلا کې دننه جماله د خرې له اخور سره ولاړه وه، هغه یې خلاصوله او غوجلې ته یې بوله. په مرغۍ یې سترګې ولګېدې، د هغې مخې ته راغله:

ــتورۍ سترې مسې.

ــخواره مه سې، ادې دې چېرته ده؟

ــدرڅه تاوخانې ته.

ــښیه، ته درڅه، خره غوحلې ته وړه.

مرغۍ د ډډک تاوخانې ته دننه شوه، ویې لیدل چې د ډډک ښځه شمروزه سره د خپلو دوو وړو لوڼو هواګۍ او پاغوندې د ماښام په لمانځه ولاړه ده. دا هم ورسره خواته بې موسلې په لمانځه ودېده.

تر سلام ګرځولو وروسته، شمروزې او لوڼو یې ورته سترې مشې ورکړه، مرغۍ سمه غصه وه، خو له دې مخکې شمروزې د ګیلو پلو ورته وغوړاوه، ورته یې وویل:

ــګوره مرغۍ، د تا لیاظ وه، کنه نن به باودین له طالب جان سره سم پوه سوی و.

ــغلې غلې، ماشینګنه مو هم اخیستې او لا ملامته هم زما طالب جان دی، له خدایه جار سمه.

ــ ګوره مرغۍ! ماشینګنه خو شمالي سرخوړلي جهاد ته ورکړې، نه څې د خلکو خرې پې وډارې کي؟

ــ ګوره خورې! طالب جان دومره نه دی، دا دکلي هلکان خراب دي، نوابي د ډم زوی ډزې کړې وې.

د شمروزې او مرغۍ ګیلې مانې روانې وې چې ډډک او مشر زوی یې بهاوالدین دواړه تاوخانې ته راننوتل، ډډک مرغۍ ته کړل:

ــ ښه اوس شاله ماشین ګنې پسې یې ته رالېږلې؟

ــ ګوره ته خدای دا نو د حق لاره ده، چې ډزې به نوابی کوي او اپلتې به طالب جان ته کوې؟

ــ دی دې سم سي، اپلتې به نه ورته کوم، زه سم دم په لاره روان یم، په ډزو یې خره وډاره کړه او ټول جوار په ویاله کې تویي سول.

ــ ښه نو هلک ده، کم بخت تاسو ته خو مالوم ده، څومره راته راپاتې سو.

ــ ګوره مرغۍ! دا د تا د تور سر لیاظ دی، کنه نو په قران که یې بیا څښتن سوی وای.

ډډک شمروزې ته وویل چې د تاوخانې له حمامه دې ماشینګنه را واخلي او مرغۍ ته دې ورکړي. هغې ماشین ګنه را واخیسته، د حمام

په دروازه کې ورنه ډزې وشوې، هغه په شا ولوېده، ښه و چې د ماشنګنې خوله زمکې خواته وه، له ډزو سره په تاوخانه کې سم ګرد پورته شو، د لوېدو سره سم د شمروزي په ورمېږ کې درد پیدا شو، د هغې ورمېږ خوږ شو، بهاوالدین ماشینګڼه مرغۍ ته په لاس ورکړه، ورته یې وویل:

ــتورۍ! درځه، دا بلا وهلې ورکوه، نېزدې مې ادې خواره مړه سوې وه.

مرغۍ هم ماشینګڼه په وېره وېره په لاس کې واخیسته. کله چې د ډډک له کلا راووته، تپه تیاره وه، بس د کور لاره ورته مالومه وه،د ډډک د کلا شاته چې تاوه شوه، خپل ټیکری یې په زمکه وغوړاوه، په وېرې وېرې یې ماشین ګڼه په ټیکري کې کېښوده او ټیکری یې ښه را غوټه کړ، په اوږه باندې یې شاته واچاوه. دا چې څنګه او په څومره وخت کې کور ته ورسېده؟ په ځان پوهه نشوه، خو لاره کې څو وارې له شانه د هلکانو د کټ کټ خندا غږ یې تر غوږه شو، خو له وېرې یې تر شا ونه کتل، کلا ته په ننوتلو سره سم یې نعرې کړې:

ــطالب جانه! وه طالب جانه، هله زویه! بلا دې واخلمه.

له څو نعرو سره سم طالب جان يې مخې ته رامنډه کړه. د مور په ليدو وارخطا شو. د مرغۍ په نعرو پستو او اشکه هم د بلۍ په سر راښکاره شوې، مرغۍ طالب جان ته کړل:

ـواخله! دا بلاګۍ دې، شمروزه خو يې مړه کړه.

* * *

د مرغۍ له دې خبرې سره سم پستو او اشکه لاندې کوزې شوې او د کور د تاوخانې په لورې يې سره منډې کړې. د تاوخانې په دروازه کې د دواجان سره په ټکر شوې، هغه ورنه پوښتنه وکړه:

ـبيا څه ټکه ولوېده؟

هېڅ للا! شمروزه تورۍ مړه سوه.

ـچا وېلې؟

ـمرغۍ تورۍ، طالب جان ته ماشين ګڼه ورکړه، ورته کړل يې څې، شمروزه مېړه يې په ماشين ګڼې وويشته.

ددې خبرې په اورېدو نوروز سره له ښځې او مشر زوی دواجان د ډډک کره په منډه لاړل. په لاره کې پکی سره د ملا لعل ګل له بره چينې نه

را روان و، د مورېک کره مېلمانه ول. پکي چې نوروز اکا یې وارخطا ولیده، نو په دوا جان یې غږ وکړ:

ــوه هلکه دواجانه! ولې خیریت خو دی؟

ــچېرې خیریت دی؟ ډېک خپله ښځه د طالب جان په ماشین ګڼې وژلې ده.

ــوی ته او خدای؟

ــهو ولا.

ــدرځه څې ورسو، دا څه کوپر دی؟

ډېک چې د کلا له دروازې نه د پکي طالب غږ واورېده، نو بېرته تاو شو، د کلا دروازه یې خلاصه نه کړه، وډار شو چې قومندان شمالي به ورپسې را لېږلي وي، نو د کور تندورخانې ته لاړ. هلته یې خپلې لور جمالې ته وویل، چې لاړه دې سي، پکی دې ځواب کړي او ورته ودې وایي چې ابا یې کور کې نشته. جماله د کلا د دروازې شاته ودرېده، په جګ غږ یې وویل:

ــڅوک یې؟ ابا کور کې نسته.

ــولې نسته، اوس ځان پټوي، دروازه خلاصه که، کنه نو په ډزو یې غلبېل غلبېل کومه.

د پکي له دې پټکې سره جماله ووېرېده. بېرته تندورخانې ته لاړه. پلار يې چې د تناره له غاړې سره ولاړ و، ټوله خبره يې ورته وکړه، د هغه نه لاره ورکه شوه، چې اوس څه وکړي؟ ددې طالب جان د لاسه په غم واوښت.

هلته په موبايل باندې پکي ته د مورک زنګ راغی چې ډوډۍ تياره ده، زر دې ورشي، خو پکي ورته کيسه وکړه چې ډېک خپله ښځه وژلې ده او اوس دروازه نه خلاصوي، په کور کې پټ دی.

د شمروزې له غورځېدو سره په ملا کې برېښ شوی و، هغه له تګ نه پاتې شوې وه. د تاوخانې په توده تيره پرته وه، ډېک تاوخانې ته راغی، سم غصه و چې شمالي به بيا څومره جريمانه پرې ږدي. په دې چرت کې و، چې څه وکړي. په دې وخت کې جماله د حمام له لارې تاوخانې ته ننوته، پلار ته يې کړل:

ابا په دېواله کلا ته را واوښتل!

ــڅوک؟

ــپکی دی، سره له نورو طالبانو.

په دې کې پکی تاوخانې ته دننه شو، ډېک ته يې وويل:

ــولې اکا! څه غضب درباندې لوېدلی و، چې تورۍ دې مره کړه؟

شمروزې برېستن له مخې لرې کړه، له پکي نه يې پوښتنه وکړه:

ـکومه تورۍ؟

د شمروزې په ليدو خځوزې ورمندې کړې او چيغه يې کړه:

ـالله شکر، مرغۍ خو ويلي ځې وزلې يې يې!

ـغلې غلې، د مرغۍ دې کرکه وسي.

د کلي په هر کور کې د طالب جان د ماشين ګنې د بل ډز کيسه روانه وه او د کليوالو د خندا مجلس پرې تود و.

* * *

سهار چې طالب جان د شمالي مهمانخانې ته ورغی، نو بابوسي قومندان پرې غږ وکړ:

ـوه هلکه طالب جان! بېګا دې ماشينګنې بيا ډزې کړي، هههههه.

ـنه ولا! دا ډډک دې خدای خوار کي.

په دې وخت کې ملا لعل ګل وويل:

ـمه يې ځوروئ، دا طالب جان د پاچايۍ سړی دی.

د لعل ګل دا خبره په هغه ښه ولګېده، شمالي په ټوکه کې ملا لعل ګل ته وويل:

ـکه طالب جان ته خپله مدرسه کې سبق ورکړې او سړی ورنه جوړ کړې، کنه نو د دوی جهاد به سم د طلوع تلويزون د (خطر زنګ) وي.

طالب جان د شمالي ټوکه په ريښتيا وګڼله او د لعل ګل پسې شو چې پړوا ته به ورسره ځي، هلته به د هغه په مدرسه کې ديني سبق وايي. بس طالب جان د ورېښمينې له پاره په موړک هم ګران و. خاطر به يې وور. موړک هم په خپل پلار پسې شو، او طالب جان يې د ملا لعل ګل سره کړ، چې هفته کې به درې ورځې طالب جان پړاو ته ورځي.

سهار د چايو دسترخوان ټول شو. قومندان غمي شمالي ته وويل، چې شاوخوا خو کراري کراري ده. په وطن کې د ولسمشريزو ټاکنو اوازې ګرمې وې. د کرزي پاچاهي نوره په ختمېدو وه.

غمي شمالي ته وويل، چې ملا لعل ګل به له ځانه سره واخلي او پړاو ته به د ګلاب خواته ورشي، نن غرمه به د هغه سره وي. تر خدای پامانۍ وروسته هغه خپل موټر کې کښناست او د پړاو په لوري روان شو.

غمی د شمالي د لسو کلونو ښه پوخ ملګری و، خو اوس اوس د هغه ناسته پاسته د ګلاب سره زياته شوې وه. د شمالي په زړه کې اندېښنه را پيدا شوه. هغه چرتي غوندې ناست.

پکي د هغه خوشالۍ لپاره بیا بېګانۍ د ډډک د کور کیسه را واخیسته، خو دا ځل یې شمالي ته خوند نه ورکاوه، د هغه په خبرو کې ور ولوېده، ورته یې وویل:

ـ پکیه! دا غمی ډېر د ګلاب نه تاو راتاو نه دی؟

ـ ولا څه ووایمه، قوممندان صېب؟

ـ بېګا یې هم څو وارې یو بل سره ټیلیپونونه وکړل.

ـ ماته داسې ښکاري چې دې دواړو کې څه پستات سته، هغه بله ورځ هم پیر محمد د جاني زوی په مسو کې لیدلی و.

ـ زه به ورپسې سم، که د تا اجازه وي.

ـ ګوره پکیه! که دا معلومات دې وکړل، بس سمه ډېله شېریني به درکمه.

ـ زه دې قوممندان صېب په شېرینو مېرینو کې نه یمه، ته امر کوه.

د قوممندان شمالي د مشورې سره سم، پکي طالب جان ځان سره کړ او دا پلمه یې جوړه کړه چې طالب جان به ملا لعل ګل ته حواله کوي. په همدې نیت د قوممندان شمالي ډاډسنې کې کېناست او د پړاو په لوري یې حرکت وکړ.

په لاره کې طالب جان خاموشه ناست و، د دوی ټوکې وربانديې ښې نه وې لګېدلې، پستو يې هم په سترګو کې ګرځېده را ګرځېده، چې د پکي پوښتنې سخت ټکان ورکړ:

_طالب جانه! دا د نوروز اکا لور خو هم سمه تکه سره پټاسه ده.

_کومه يوه يې؟

_په نوم يې نه پوهېږمه، خو ببګا يې ګلابي ټيکرى په سر و.

_بس! نوره خوله ونه ښوروې.

_ولې؟

_هغه پستو ده او په ما مَئېنه ده، غوږونه دې خلاص که ښه!

پکي چې د طالب جان رنګ ته وکتل، نو هوښيار هلک و، ځان يې غلی کړ، بله خبره يې ونه کړه.

***

پکي خپل موټر د ګلاب د کلا مخکې ته ودراوه، سرې او شنې لوپټې د کارېزه په لوري ډله ډله روانې وې. په کلي کې مېرمنې او جينکۍ ځانښت مهال چې د سهار تنورونه يې اچولي وي، د غواګانو او مېږو لوښل يې سره خلاص کړي وي، نو ډلې ډلې په اوبو پسې کارېزونو ته

سره رواني وي. همدارنګه مازيګر مهال هم چې د ماښام اخلي او
پخلي لپاره کورونو کې اوبو ته ضرورت وي، نو په لارو او کوڅو کې
سرې او ښنې لوپټې تر سترګو سترګو کېږي.

پکی د ګلاب د دروازې مخې ته ودرېد او جنت ګل ته يې زنګ وواهه،
هغه تر لږ ځنډ وروسته د کلا دروازې ته راغی. تر سترې مشې وروسته،
هغه د ګل حسن پوښتنه وکړه. پکي ورته وويل، چې سړی اوس ښه
دی، خو لاس يې سم پړسېدلی دی. جنت ګل ورته مشوره ورکړه چې
که يو وار پېښور ته لاړ شي نو ښه به وي. تر دې خبرو وروسته يې د ملا
لعل ګل پوښتنه ورڅخه وکړه. جنت ګل ورته وويل چې هغه خپلې
مدرسې ته تللی، پکي ځان ناګاره واچاوه، تر خدای پامانۍ وروسته د
طالب جان سره يو ځای د لعل ګل د مدرسې په لوري سره روان شو.

لمر په انسان ښه لګېده. د جومات خواته د لعل ګل مدرسه وه. د هر
کور په دروازه کې د اخورونو په مخکې سره او تور ټيکري ښکارېدل.
مېرمنو خپل مالونه اخورونو ته راويستلي وو. چا به مال ته واښه او يا
شفتله په اخور کې اچوله، چا به د کور په دېواله باندې ځپياکې تپلې.
ځينې مېرمنې د شفتلو رېبلو او سبو کولو له پاره د پټو په لوري روانې
وې. د کلي دغو منظرو ليدونکو ته يوه هوسا نړۍ ښکاره کوله، د انسان
زړه يې ژوند ته هوسولو.

پکي هم لاره کړه کړه، د کاريز لاره باندې د کلي د جومات خواته لاړ. کاريز خواته چې ورسېده، نو پښه نيولی غونډې شو، د کاريزه په سر ډلې ډلې جينکۍ ناستې وې، منګي يې ډکول. سرې او سپينې کونترې وې خپلو کې يې سره شور ماشور اچولی و.

په دې وخت کې چا په طالب جان پسې نارې کړې. طالب جان چې د کاريز په لوري وکتل، نو سترګې يې په مريمې ولګېدې. هغه مريمه د خپل کور په بلۍ باندې د پستو سره ليدلې وه. مريمه ورغله، په لاس يې سترې مشې ورسره وکړه، ورته ست يې وکړ چې ابا يې کور کې دی، غرمه به دوی کره تېره کړي، خو طالب جان ورته وويل چې ملا لعل ګل سره يې کار دی.

پکي د مريمې په اړه د طالب جان څخه پوښتنه ونکړه، ځکه چې د هغه ستغ ځواب ورته معلوم و. دواړه د ملا لعل ګل مدرسې ته ورغلل. د هغه مدرسه دومره خاصه نه وه، يوه لويه کوټه وه چې مخې ته يې څپرۍ وه، ترڅو د چڼو (طالبانو) بوټونه او څپلۍ د باران او واورې څخه بچ پاتې وي. دننه په کوټه کې يې پلاستيکي جيګري رنګه سطرنجۍ په غولي اوارې وې. په بر سر کې يوه وړه توشکه او د توشکې مخې ته يو وړوکی ټيټ مېز ايښی و. د مېز د پاسه څو دانې کتابونه او قلمونه پراته وو. ملا لعل ګل د مېز تر شاه ناست و، ډله هلکان شا په شا ورته ناست ول او د هغه خبرو ته يې غوږ نيولی و.

د پکي او طالب جان په ليدلو ملا لعل ګل له ځايه پاڅېده. هلکانو ته يې وويل چې خپل کتابونه دې خلاص کړي او پرونی سبق دې سره تکرار کړي.

د هلکانو په منځ کې د اشرف په نوم يوه هلک ته يې نرۍ لښته ورکړه، ورته يې وويل ترڅو چې دی بېرته راګرځي، په زده کوونکو دې ګرځي راګرځي.

ملا لعل ګل، طالب جان او پکی د جومات حجرې ته له ځانه سره بوتلل. هلته يې د ګيسو په نغري ورته چای دم کړې. پکي ورنه د غمي پوښتنه وکړه. لعل ګل ورته وويل، چې هغه د ګلاب سره مسو ته لاړ. په دې وخت کې د پکي شک په يقين بدل شو، بس زر زر يې خپلې چای وڅښلې، ورته يې وويل چې طالب جان به نن مدرسه کې سبق پيل کړي او مازيګر به بېرته کلي ته ستون شي. خپله وارخطا و چې څنګه ځان تر شمالي پورې ورسوي. موبايل کې يې پيسې او چارج دواړه ختم شوي وو.

* * *

شمالي د غرمې ډوډۍ په کور کې د خپلې ورې ښځې په کوټه کې د هغې د درېيوو ورو ورو بچو سره وخوړه. نن د مورک مور د هغه د ورې

ښځې سره د سهار د چايو خوړلو په وخت کې ښه جنګ کړی و. که څه هم وړه ښځه يې ملامته وه، خو شمالي د هغې پلوي کوله، ولې چې وړه ښځه يې ډېره ځوانه او ښکلې وه، نو ځکه تل په مېړه باندې زوروره وه.

د دواړو بنو ترمنځ جنګ د شمالي د وړوکي درې کلن زوی ګلاي په سر پيل شوی و. ګلالي د شيدو ډکه چايجوشه د تندورخانې د غولي په سر چپه کړې وه او په سبا ناری کې د مېلمنو شيدې کمې شوې وې. مشرې مور يې هلک ته څپېړه ورکړه او د هلک مور راولاړه شوه، خپله بن يې ترکمڅيو ونيوله. د دوی غږ لږ لږ تر بالاخانې پورې لاړ. شمالي موړک ته سترګه ووهله، هغه غلی راښکته شو، خپله ميره يې وليده چې د مور په خېټه يې ناسته ده، نو ورمندې يې کړې او څو لغتې يې ورکړې. د مېلمنو تر وتلو وروسته شمالي ته يې وړې ښځې د اوښکو سيلاب روان کړ او هغه هم را ولاړ شو او د موړک مور يې تر وهلو لاندې ونيوله، خو د موړک د راتلو سره يې له وهلو لاس واخيست.

وړې ښځې يې دسترخوان ټول کړ، خديجه چې د شمالي د کشرۍ مېرمنې مشره لور وه، د لاس وينځلو اوبه يې را واخيستې. ده ته يې ښځې له ترموز نه د چايو پياله ډکه کړه او د چاکليټو قاب يې هم مخې ته ورته کېښود.

شمالي د چايو څخه غړپ وکړ، ښځه يې مخامخ ورته ناسته وه، په ناز يې ورته وويل:

ـسرېيه! داسې خوو خدايکه راشکه خلاص سې؟

ـنو څه وکمه؟ ملامته ته وې او وهل مې هغې ته ورکړل، لا اوس هم د تا يينه رپېږي.

ـنه د هغې بلا خبرې نه کومه.

ـنو د چا خبره که يې؟

ـزه نن ځمه د ابا کره او ولايت ته درسره ځمه، دوه ښه ښه کميسونه به ددې له قصده راته کيې.

ـههههههه، نو سمه زوروره يې.

مجلس تود روان و چې خديجه کوټې ته په منډه راغله، د پلار په غېږه کې يې ور ولوېده، ويې ويل:

ـابا ابا! د باندې ولي ګل للا غږ درته کيي.

ـڅه وايي؟

ـخدايزده؟

شمالي ولي ګل ته زنګ وواهه، ورنه پوښتنه يې وکړه، هغه ورته وويل:

ـراووځه چې د پکي درسره څه پټ کار دی او ضرور يې په کار يې.

ددې خبرې سره سم شمالي له ځایه ولاړ شو، ښځې یې له لاسه ټینګ ونیو، ورته یې وویل:

ـ چېرې ځې، بیا تښتې؟!

غبرګه یې ورکړه او کوشش یې کاوه چې بېرته یې په ځای کېنوي، خو هغه په خندا ورغبرګه کړه:

زوروري! نه تښتمه، بېرته راځمه، ته دې کالي واغونده، د حیواناتو مخونه ورومینځه، کالي ور بدل کړه. ځانته یې ور نږدې کړه او زیاته یې کړه:

ته خو دوه کمیسونه غواړې، زه به ځلور درته واخلمه، یو دې ادې ته او بل دې پېغلې شیشکې خور ته.

مېرمن یې خوشاله شوه، سرې یې پرېښود چې له کوټې ووځي.

* * *

پکې شمالي ته ټوله کیسه وکړه، ورته یې وویل چې د هغه ګمان غلط نه دی، غمې دا دومره پیسې له کومه کړې چې په یوه میاشت کې دوه موټره یې واخیستل او د خوست او کابل په لویه لاره یې واچول.

شمالي پکی له لاسه ونیوه او خپلې بالاخانې ته یې بوته، خپل زوی ولي ګل ته یې کړل:

ــولي ګله! ورځه لاندې نه، د غرمې ډوډۍ راوړه، پیر محمد به څه نه وي خوړلي؟

ــښیه ابا.

د مورک تر وتلو وروسته شمالي پکي ته کړل:

ــښیه اوس وایه څه به کوو؟

ــڅه به کوو؟ سړي کېښنوه او ملامت یې که.

ــکه یې بیا ونه منل؟

ــولې به یې نه مني؟

ــکه یې وویل څې دا ټول درواغ دي؟

پکی په سوچ کې لاړ. شېبه وروسته مورک له دسترخوان، کوزې او چلمچي سره کوټې ته دننه شو، پکي ته یې د لاس اوبه واچولې. دسترخوان یې مخې ته وغوړاوه، بېرته له کوټې ووت. پکي د تاوده پاستې څخه یوه برخه راوشکوله او مړۍ یې خولې ته کړه. مورک د پسه د غوښې قورمه په یوه ناشکین کاسه کې راوړله، په بله کاسه کې یې مستې او په یوه قاب کې یې سابه راوړل، دا هر څه یې په

دسترخوان کېښودل او دی هم د پکي سره په ډوډۍ کېناست. پکي له قورمې څخه دوه مړۍ وکړې، بیا یې شمالي ته مخ ور واړاوه او ورته یې وویل:

_یو کار به وکوو!

_څه کار؟

_سم له واره به یې په غلا سره راګیر کو.

_چېرته؟

_همالته مسو کې، بیا خو به نه سي ویلی چې دا هر څه دروغ دي؟!

_نو ته یې کولی سې؟

_هو د ما له وسه پوره دی.

د پکي خبرو نن شمالي سم چرتي کړی و، په موبایل ورته زنګ راغی، د ګلاب نمبر و:

_سلامالېکم

_چېرته یې سړیه؟

_بس دلته یمه، غمی درسره دی؟

_نه، نه مې دی لیدلی.

ـولې سهار خو زما له کوره د تا په نیت در ووت.

ـښیه تو خدای.

ـهو نه دی درغلی؟

ـنه ما خو تر اوسه نه دی لیدلی.

ـښه څه دې وېلې؟

ما ویل سبا ولایت ته له کابله څوک را روان دی. والي ویل چې ګوره دېزې مه کوئ، دوی د کمپاین له پاره راځي.

ـښه نو څه وکو؟ پسونه ورته حلال کو، هههههه

ـهههههه، نه پسونه خو نه حلالوو، خو غلي به ورسو څې څه وایي؟

ـښیه بیا به بېګا ته درته ووایمه.

د موبایل تر بندولو وروسته، پکي خندل او ورته یې ویل:

ـوچې مېلې ته دې ور غواړي.

له دې سره ټول په خندا شول.

د ماښام تر جمعې وروسته ملا لعل ګل، کلیوالو ته د سبا د ورځې د غونډې په اړه معلومات ورکړل، چې سباته به د ولایت په انګړ کې جوړېږي او د راتلونکو ټول ټاکنو په خاطر دوه نوماندان به راځي او خپلې خبرې به کوي. دا دوه نوماندان چې یو یې د لوګر دی او بل یې

د پغمان، خلکو ته به وایي، چې که دوی کې هر یو یې پاچا شو، نو ولس ته به څه ډول خدمت کوي؟

نو له ټولو څخه یې وغوښتل چې خامخا دې سبا ته تر لسو بجو پورې ځانونه د ولایت بازار ته ورسوي. کلیوالو د لعل ګل په خبرو او مشورو تل باور درلود، ولې چې هغه تل د ولس په خیر خبره کوله، نو ځکه کلیوالو به تر قومندانانو زیات دده په خبرو عمل کاوه.

ملا لعل ګل عالم سړی و، مهربانه او د لویې حوصلې خاوند و. هغه د ولسمشریزو ټول ټاکنو ترڅنګ، د ولایتي شورا ټاکنو باندې هم خلکو ته سمې خبرې وکړې.

نن ماښام طالب جان هم له هغه سره مېلمه و. د کلیوالو تر تګ وروسته ملا لعل ګل له طالب جان سره د جومات حجرې ته لاړ، د لاټین رڼا ته یې خپله د شعرونو کتابچه غوړه ولې وه، یو یو غزل یې طالب جان ته اوراوه، هغه ورته په شوق غوږ نیولی و. شېبه وروسته ملا لعل ګل پوه شو چې هلک پوره مَین دی، ځکه خو له عشقي غزلو زیات خوند اخلي. بس رنګینې او شوخې غزلې یې را واخیستې، د طالب جان سترګو کې د پستو شوخې شوخې سترګې ور ګرځېدې.

تېر ماښام د هغو د کلا شاته پستو ښنګه لکه پاڼه رپېده، خو بیا هم طالب جان یې تر سینې ټینګ نیولی. د حجرې د دروازې د ټکېدو

سره د طالب جان د خیالونو د دنیا ټال وشلېده. یو پوخ سړی چې توره غونډه مونډه ږیره یې وه، تور غنم رنګ، لکه ډانګ وچ کلک، نه زړه او نه نوې سپینه جوړه یې اغوستې وه، په سر یې د نسواري رنګ بنین هم اغوستی و، پتنوس یې په لاس لعل ګل ته یې کړل:

_دا دی ملاصیب، د خدای وس.

_خدای دې در ډېره کړي، خیر ویسې.

_شاله مېلمه هم لرې، زه به دوه نور پاستې هم له مستو سره د هلک په لاس را ولېږمه.

_نه نه همدا مو بس دی.

_نه تاسو ماتل وکئ زر یې را لېږمه.

سړی لاړ، لعل ګل پتنوس را واخیست، د هګیو شکنه وه، له یوې غوټې پیازو او دوه پاستو سره. خپل وړوکی دسترخوان یې وغوړاوه. پاستې یې په کاسه کې مات کړل، تر څو چې یې بسم الله کوله، سړي بیا دروازه وډبوله، په یوې وړې البۍ کاسه کې یې مستې او دوه نور پاستې یې راوړل. سړي طالب جان ته وکتل او له ملا څخه یې وپوښتل:

_دا د خدای دوست خو مې چېرته لیدلی؟

_دا خو طالب جان دی د شمالي سره وي.

ـښیه ښیه! دا هماغه طالب جان دی، چې خرې یې دزې کړې وې، هههههه.

د سرې له خندېدو سره لعل ګل او طالب جان دواړو وخندل، سړی لاړ.

تر ډوډۍ خوړلو وروسته لعل ګل د طالب جان خوله ولټوله. هوښیار سړی و، بس طالب جان هم د پستو د مینې کیسې ورته را پیل کړې، تر نیمې شپې پورې طالب جان ملا لعل ګل ته پستو ور یادوله.

* * *

پستو د نغري خواته ناسته وه، پیاله کې یې ځانته شنې چای اچولې وې، په زنګانه یې یو پاستی ایښی و او ګوړه یې په لاس کې وه، د سهار چای څښلې. خځوزه توری له تاوخانې څخه راووته، دواجان ته یې نعرې کړې، هغه د خپلې کوټې راووت، ورته یې وویل:

ـدا چرګه دې ښځې ته حلاله که، پستو به ورته ښه شوروا پخه کې.

ـادې له ولایته به چرګ راوړمه، دا خو هګۍ اچوي.

ـپه بلا یې ووهه، چرګه ګرمه ده، د زرچې لپاره ښه وي.

ـښه ده ادې.

ـپستو زه ځمه، د شمروزې پوښتنې ته، اکا دې ولایت ته روان دی، اشکې ته کالي ورکه، چې ویالې ته یې یوسي او پرې یې مینځي.

ـښه ادې ځه ورځه.

خځوزه تورۍ چې له کلا ووته، نو دواجان پستو ته کړل چې چرګه دې راونیسي. هغې په کلا کې په چرګې پسې سمې ډېرې منډې ووهلې، خو چرګ نیوی نه ورکاوه، د کلا دروازه له خځوزې تورۍ څخه نیم کښه پاتې شوې وه، چرګه د کلا نه د باندې ووته. پستو ورپسې منډې کړې، د کلا په مخکې د طالب جان سره مخامخ شوه. هغه چې ولیدل، پستو چرګه نیسي، بس دی هم ورسره ملګری شو، چرګه یې په دوه منډو کې سترې کړه، ورته یې ونیوله، پستو ته یې په لاس کې ورکړه. طالب جان خپل جېب ته لاس کړ، ورته یې وویل:

ـیو څه مې درته راوړي.

ـاوس یې مه راکوه، دواجان دننه دی.

ـنو څه وخت یې درکمه، هلته ورېښمینه شیشکه به یې رانه واخلي.

ـمیدان خالي ده، دواجان چې لاړ، زه به درته په دېوال خپل ټیکری ځوړند کمه، ته به راشې.

ـښیه ځه چې دواجان دې ونهویني.

ـښیه ځمه.

ـګوره چې ټیکری ځوړند کې!

پستو ورته سر وخوزولو او د چرګې سره کلا ته دننه شوه. طالب جان د پستو په لیدو په زړه کې ګوړې ماتولې، کور ته راغی، مرغی د سهار چای څښلې وې، وربښمینې پیالې ټولولې، د طالب جان په لیدو یې مور خوشاله شوه، ورته یې وویل:

ـبېګا دې سم قیامت راباندې تېر که، چېرته وې؟

ـادې ملا لعل ګل سره وم.

ـهلته دې څه بلا غوښته؟

ـهسې نور سبق وایمه.

ـد څه شي سبق؟

ـد خدای او د رسول سبق، نور نو د څه سبق وي زیاتي نو.

ـنو شمالي به تنخا نه درکوي؟

ـتنخا راکوي.

ښه بلا دې واخلمه، نور به دې د کوژدې غم وخورمه.

ـته او خدای، ادې نو پستو پسې لاړه شه!

ـیو خو د هغې سرې بیزوګۍ نوم راته مه اخله.

ـولې؟ د هغې نه بعد د هیچا سره ولاکه سر په یوه بالښت کېږدمه.

ـزه نن ځمه د ډډک لور درته غواړمه.

ـد ډډک لور، په خدای که یې وکمه، که اسمان لاندې راولوېږي.

ـولې په هغې څه شوي؟

ـد هغې خو مې دا پلنې پلنې شونډې بدې راځي او دا تک زېړ غاښوړه یې.

ـغلی غلی، داسې ځواني چې جماله یې لري، ولاکه یې څوک ولري.

ـهو ډېره ښایسته ځواني یې ده؟

د طالب جان او د مرغۍ دعوې همداسې روانې وې. وریښمینې ورته چای راوړ. طالب جان چې یې د ښلو څخه انکار وکړ، نو د مور یې خوا ور څخه بده شوه، لاړه دباندې په چوتره کې یې ځانته لېمڅی وغوړاوه او لمر ته کېناسته، وړۍ یې را واخیستې او سنۍ یې کولې، چې طالب جان خواته ورغی او لمر ته یې ډډه ووهله، د دېوال خواته یې کتل چې څه وخت به په دېوال ټیکرۍ رانښکاره کېږي.

* * *

د لمر پیتاوی په طالب جان ښه لګېده، د لعل ګل غزلې ورته یو په یو یادېدلې. لعل ګل ورته ډېر مهربانه او عالم سړی ښکاره شو. تېره شپه د هغه لخوا ورکړې مشورې ورته یو په یو یادېدلې.

لعل ګل ورته ویلي وو چې پستو پسې دې مرکه ور ولېږي، ولې چې دی ساده سړی دی، هسې نه چې پکی یې ورنه والوزوي. د ملا لعل ګل په وینا د هغه ارادې ورته خطرناکې ښکارېدې. اوس طالب جان وارخطا و، چې مور څنګه رضا کړي؟

په همدې کش او ګیر کې و چې په دېوال سور رنګی ټیکری څوړند شو، طالب جان هم غلی ولاړ شو، خپل څادر یې په اوږه واچاوه، مور یې ورته وویل:

ــبیا چېرته روان سوې؟ چای خو وچکه.

ــته یې وچکه زیاتي نو.

ــاوس ددې سرې بیزوګی په سر دې ادې سره کسد را واخیسته.

ــکسد نه دی، زه خو له دې پرته ولاکه بله په کور دننه کمه.

طالب جان په همدې دعوو کې له کلا ووت، د کلا شاته تاو شو، ښه یې ولیدل چې په کوڅه کې څوک نه ښکاري. د نوروز اکا د کلا دروازه نیم کښه وه، زړه نا زړه یې دروازه لرې ټېل وهله، پستو ورښکاره شوه. هغې

طالب جان له لاسه ونیوه، کلا ته یې دننه کړ، دروازه یې بنده کړه، سم دواره یې غوجلې ته بوته.

د طالب جان زړه درزېده، پستو یې تر ملا لاسونه تاو کړي وو، هغه ور نږدې شوه. طالب جان یې په مخ ښکل کړ، د طالب جان د بدن ټول وېښتان څک څک ودرېدل، وارخطا شو، په شرمېدونکې غږ سره یې وویل:

_دا څه کوې، پستو شرم دی کنه؟

_څه شرم دی، ادې دې کله را لېږې؟

_ادې سره مې اوس ام جنګ وکه.

_ولې؟

_د تا په سر.

پستو نوره هم ور نږدې شه، طالب جان یې په غېږ کې داسې ونغښته لکه د ملا لعل ګل غزل، پستو نه د سوغات اخیستل هېر و، د ورېنداري ګلابې په نعرو سره له غوجلې ووته. هغه د خپلې کوټې په دروازه کې ولاړه وه، ګلابې له پستو نه پوښتنه وکړه چې چرګه یې ورته پخه کړې اوکنه، پستو ورته وویل چې دېګی یې باندې کړی، هغې ته یې وویل چې دننه لاړه شي، چې زرچه ده او ماشوم په کوټه کې یوازې دی. هغه هم ننوته، د هغې له ننوتو سره د پستو پام شو چې چرګه خو د

نغري خواته په کاسه کې وه، چې پشۍ نه وي وړې. کله چې نغري ته راغله، نو ويې ليدل چې کاسه وه خو چرګه نه وه. په منډه غوجلې ته لاړه، طالب جان ته يې وويل، اوس به څه کوو؟ چرګه خو پشۍ وړې ده، مخ مې تور سو. کلا ته راووته په منډه يې بانګی ونيوه او چاړه يې راواخيسته، غوجلې ته راغله، طالب جان ته يې بانګی لاس کې ورکړ، ورته يې وويل چې حلال يې کړي. هغه د بانګي وزرونه تر پښې لاندې کړل، کله چې يې ورته وکتل، نو بانګی يې پرېښود، پستو ورته غصه شوه، خو هغه يې د حلالولو څخه انکار وکړ، ورته يې وويل:

ــزړه مې برېښي، سترګو ته يې چې ګورم د تا سترګې راته مخې ته درېږي، نه يې شم حلالولی، له ولايته به حلال کړی چرګ درته راوړمه. پستو چې په غوجلې کې په چرګ پسې منډې وهلې، ورغبرګه يې کړه:

ــڅه، ورځه، تاهم په بلا وهمه او چرګ دې هم، ځه اوځه چې دواجان رانسي.

* * *

پستو په غوجله کې د بانګي په مرۍ باندې چاړه را کارېله او زر زر يې پاک کړ، راغله د نغرري خواته دېګی يې زر زر باندې کړ، د دېګ بخار

سر يې بند کړ، هوسا غونډې شوه، لاړه تندورخانې ته، په تنور کې يې خس واچول، اور يې بل کړ، زوغالې يې جوړې کړې، چې مور يې تندورخانې ته دننه شوه.

هغه موسکه شوه، پستو ته يې وويل:

ـزويه! ډېګۍ دې باندې که؟

ـاو ادې.

ـښه دې وکړل، هلته ناسته ومه چې جماله کوټې ته راننوته، خندل يې چې د ملا پشۍ خدايزده د چا پاک کړی چرګ راپه مخه کړی و.

ـښه، هههههههه.

ـنو واخطا شومه، د ډېک موبايل باندې مې دواجان ته تيلپون وکه، راته ويل يې چې تا خو ډېګۍ کړی.

ـهههههههههه، وۍ ادې تو خو ام ښه ښځه يې.

خځوزه له تندورخانې راووته، د ګلابې کوټې ته لاړه. پستو طالب جان ته هم غصه وه او هم يې پرې ډېره مينه راتله. د هغه خبره به يې په زړه ور تېره شوه: ((د بانګي سترګې د تا د سترګو غونډې راته ښکاري.)) له خندا به تکه شنه شوه.

پستو د خمیردان سر لوچ کړې، زغالې یې جوړې کړې او شکرۍ کې یې خوا په خوا کېښودې .د جوړو شویو زغالو په سر یې دسترخوان وغوړاوه، ترڅو زغالې راووځي .د تناره له سره یې د ابو چایجوشه چې نوره ابشېدلې وه، را ایسته کړه .تنور یې په) تندورپاک (باندې پاک کړ، له ځایه را ولاړه شوه، د تندورخانې په دروازه کې ودرېده، خپلې مور ته یې نعرې کړې چې د چایو ترموزونه راوړي او چای دم کړي .
خپله بېرته په خپل ځای کېناسته، رپیده یې پاکه کړه او شا په شا یې زغالې پلنولې او پاستې یې په تناره وهل او تاوده پاستې یې له بلې خوا له تناره څخه راویستل.

پستو په دوډۍ پخولو لګیا وه، چې مور یې څلور واړه ترموزونه ځانه سره راوړل او په تولو کې یې چای دم کړې .پستو ته یې مخ ور واړاوه، ورنه یې پوښتنه وکړه:

_اشکه لا تر اوسه نه ده راغلې؟

_نه ادې.

ولې بیا به په مجلسونو لګیا وي.

_نه ادې کالي بېخي دېر دي.

_ښه نو زه به ورپسې ورسمه.

خڅوزې ترموزونه خپلې تاوخانې ته یوړل او خپله لاړه په اشکې پسې .
د کلا په دروازه کې د دواجان سره مخامخ شوه، د هغه په لیدو خوشاله
شوه، ورته یې وویل چې اشکې پسې دې د چینې سر ته لاړ شي او وچ
کالي دې راوړي، خپله بېرته د نغري خواته لاړه.

* * *

وربښمینه په اوبو پسې چینې ته تللې وه .مرغۍ پیتاوې ته ناسته وه او
خپلې سنۍ یې کولې .طالب جان یې خواته اوږد غزېدلی و، خپل
څادر یې په خپل مخ غوړولی و، چې د لمر وړانګې یې په سترګو نه
ننووځي .لمر پرې ښه لګېده، پستو ورته په سترګو کې ځلېده .غوجله،
د هغې تودې او خوږې پستې پستې شونډې، د بدن ټول غړي به یې
ولړزېدل .هغه یو وار په خپل ځای کېناست .د مور له لاسه یې د سنیو
غونډاری واخیست او ورته یې وویل:

_ادې تو خدای که مې ځوروې، ته خو ماته یې کوې نه ځانته.

_ښه نو په جمالې څه سوي؟

_هغه مې ښه نه ایسي.

_دا بیا دما ښه نه ایسي، خڅوزه نه ده درته مالومه، خڅوځې
خڅوځې به دې کي.

ـنه مي کيي شمالي دې خدای ژوندی لري، هغه راته ويل چې څومره دې په کار وي، هومره درکومه، ته ګوته ږده.

ـلېونی کېږه مه !د نوروزي دې ابا سره دوښمني وه نو تاته به لور ځنګه درکي؟

ـتو قران ادې يو وار خو ورسه، خدای خو ميربانه دی.

مرغۍ باندې طالب جان تر ايمانه هم ګران و، بس ورسره رضا شوه، چې د ماسپښين تر لمانځه وروسته به د نوروز اکا کره ورځي او پستو به ورته غواړي.

طالب جان ددې خبرې په اورېدو سره مور نه غېږه را چاپېره کړه او له خوشالۍ په ژړا شو .ادې يې په تندي ښکل کړه، هغه حيرانه پاتې شوه.

ـجار جار زويکه، دومره پې مَئين يې زه دې ږنده سمه.

ـادې مه کوه پوښتنه، نن مې بانګی نسو حلالولی.

ـکوم بانګی؟

ـخوله مې غلطه سوه.

ـوی، تانه خو يې سم سودايي جوړ کړی.

ـادې خوبونه مې نسته.

ـ ځه !ته غم مه کوه، که دنیا راسره نسته، وربښمینه به دې له سره جار کمه.

په دې کې وربښمینه کلا ته دننه شوه، د مور خبره یې واورېده، مور ته یې کړل:

ـ بیا مې د چانه جاروې؟

مور یې موسکه شوه، ورغبرګه یې کړه:

ـ د طالب جان نه.

ـ ولې؟

ماسښین ته په سرې پستو پسې به ځمه.

ـ وی تو خدای ادې؟

وربښمینه د مور په دې خبره خوشاله شوه، بې خبره تاوه راتاوه شوه، پښه یې ناڅاپه واوښته او د منګي سره د چوترې په سر راولوېده، په اوبو لمده خیشته شوه.

خو طالب جان ورته له خندا تک شین و.

غرمه مهال وربښمینه درې وارې ولاړه شوه، په نغري کې یې اوربل کړ او هګۍ یې پخولې، خو طالب جان سم په اشتها راغلی و، مړښت یې نه و.

* * *

د لمر وړانګې کمزورې شوې وې، د چنارو په سرو نه لګېدې .طالب جان د شمالي په قومانده ایله خپله سودا د ولایت له بازاره ټوله پوره را واخیسته، موټر کې یې ځای په ځای کوله چې د شمالي بیا زنګ راغی، ورته غصه شو، چې زر دې ځان ورسوي، ماښام له څه پاتې نه دي.

طالب جان تر شمالي زیات وارخطا و چې ادې ته به یې د پستو مور څه ویلي وي، خوشاله به راغلې وي که خپه؟ د پستو خبره یې وار په وار ور په زړه کېده، چې د غوجلې په خوله کې یې له لاسه ټینګ نیولی و او ورته یې ویلي وو:

ــ لېونیه !ماسخوتن د جمعې په وخت د کلا دروازې ته به راځې .

بس په ځان نه و، لکه باد الوت، په دې نه و چې په دښته کې روان دی که په خوړ کې؟ د یو درز سره موټر ځای په ځای ودرېده، لاندې ورکوز شو، ویې لیدل چې د موټر د شا دواړه ټېرونه پنچر شوي دي.

شېبه په شېبه تیاره کېده، چې د شمالي زنګ بیا راغی، سم ورته په قهر و.

ــ څه سوې غرق سې؟

ـدا دواړه غضب وهلي ټایرونه پنچر سوي.

ـنو زنګ به دې وهلی و؟

ـپیسې پکې نسته.

ـاوس چېرته یې؟

ـکوز ډاګ کې.

ـښیه دا دی ولي ګل به درپسې درسي.

طالب جان موبایل راوخیست، د پستو عکس یې پکې راوړ، د هغې عکس ته یې کتل، خندل یې، څو وارې یې موبایل ښکل کړ، په سنه یې کېښود .د موبایل له کېښودو سره یې د زړه درزا نوره هم زیاته شوه، ځان سره موسکی شو، ویې ویل، لکه مچۍ غوندې یې د زړه په سر نېش راکوې .په همدې خیالونو کې و چې د موړک موټر راښکاره شو . طالب جان زر موبایل جېب ته کړ، د هغه سره یې سودا د هغه موټر ته بار کړه او خپله هم موټر کې ورسره کېناست.

موړک له لاسه ونیو، ورته یې وویل:

ـښه ته څې ځې نو دا ډادسنه به څوک ساتي؟

ـنو تر څو به ورته پروت یم؟

ـتـه کېنه، زه به د پکـي پـه لاس نور ټېرونه را ولېږمه چې موټر جوړ سو،
نو به را روان سې.

د موړک دا خبره نه وه، د تور ټوپک ډز و، هغه په مخه روان شو، بس
دی پاتې شو او د پستو خبرې، زړه يې تنګ شو، ژړا ورغله.

د ماسخوتن له اذانونو سره سم پکـي ايله د موټر يو ټېر بدل کړ، تر
جمعې وروسته دواړه ټېرونه بدل شول او دواړه د شمالي د کور په لوري
روان شول .طالب جان خفه و، هغه نن شپه يې وعدې شوی و .خدای
خبر پستو به ورته څومره سترګې به لاره وه، په ټوله لاره کې يې د پکـي
سره يوه خبره هم ونه کړه.

* * *

تېر ماسخوتن و، د وريژو غوری او د غوښې قورمه سره له مستو د پکـي
او طالب جان مخې ته په دسترخوان پراته وو .طالب جان لاس نيولې
لاس نيولې ډوډۍ خوړله، هغه ته پستو ور يادېدله چې څومره به يې
ورته انتظار ويستی وي او دی خوارکی د شمالي غضب وهلي په چوپړ
کې ورک و.

کوټه له طالبانو ډکه وه .لعل ګل هم راغلی و، شمالي او پکـي قومندان
غمی او ګلاب په غلا ګير کړي وو، چې بوتان او نور لرغوني اثار يې له

خاورو راویستي وو او پیښور ته یې د خرڅلاو لپاره لېږل .په دې کار باندې شمالي په قهر و او دا کار ورته لوی خیانت ښکارېده .د بوتانو ګټه ورته حرامه ښکارېده، نو ځکه یې دواړه ملګري او نور طالبان یې را غوښتي وو چې له دې کاره سره لاس واخلي او خپل کار ته سره پام وکړي .ملا لعل ګل ته به هم کله -کله فرمایش وشو چې د مجلس د ګرمولو په خاطر دې یو غزل ووایي .د هغه طالب جان ته پام و، تر ډوډۍ وروسته لعل ګل طالب جان ته سترګه ووهله او د باندې لاړ .

طالب جان هم له کوټې ورپسې ووت، د سارګشت په پلمه دواړه له کلا ووتل، د ژۍ خواته لاړل، لاره کې لعل ګل ورنه پوښتنه وکړه:

_ولې خیریت دی، داسې بړوس غوندې یې؟

_دا شمالي دې غرق سي، دده له لاسه.

_ولې؟

_نن ماسخوتن مې د پستو سره وعده وه، خو زه په ډاګ کې دده موټر ته ناست وم.

_هههههه، ښه داسې کیسه ده، خیر سبا ته بله وعده کېږدئ.

_خدایزده دومره نصیب مې چېرته ده.

_ادې دې ور ولېږله.

ــاوو ودرېږه چې ادې ته به يې سره څه ويلي وي، دا خو رانه هېر وو.

ــهههههه، نن لکه چې ورکره تللې وه.

ــاوو نن ماسښين ورغلې وه.

ــنوروز اکا خدايکه تر تا ښه ځلمی پيدا کي.

ــپستو رانه نن خپه سوه.

ــولې؟

ــچرګ مې ورته حلالوی نسو.

ــهههههههه، ولې؟

ــخدايزده د چرګ سترګو ته مې چې کتل، پستو مې تر سترګو سترګو کېده، زړه مې برېښېده .تر مجلس وروسته طالب جان پرته له دې چې د شمالي مهمانخانې ته ور وګرځي او ورسره خدای پاماني وکړي، همداسې له ژۍ نه د کور په لوري روان شو او لعل ګل د شمالي د کور په لوري روان شو.

مرغۍ د ماسخوتن په لمانځه ولاړه وه، طالب جان د طاقچې خواته د لاټين رڼا ته نږدې کېناست .ورېښميمه نه ښکارېده، په هغې پسې يې ښه ډېرې نعرې وکړې، خو د هغې غږ رانغی، د تاوخانې دروازې سره ودرېده او په زوره زوره يې سرای کې نعرې کړې.

ــوربښمينې!

ترڅو نعرو وروسته هغه د غوجلې له خوا ښکاره شوه، غلې يې وويل:

ــطالب جانه ستړی مسې.

ــخير وېسې چېرته ورکه يې چای راوړه.

ــښه پستو سره مې د شا په دېواله خبرې کولې.

ــپستو سره؟

ــاو.

ــولې؟

ــهسې بانګکی يې سره ورک و، نن ماښام خڅوځې توړۍ ويل چې طالب جان پټ کړی.

ــما څه کاوه؟

ــپستو خوارکۍ هم خپه وه چې ادې يې ولې په طالب جان تومت تړي؟

ــنو هغه اوس څه سوه؟

ــلاړه.

ــښه ته ځه چای راوړه.

وربښمینې په دې پلمه ځان له رسوایۍ وژغورو او مورېک غلی د غوجلې څخه ووت .طالب جان غصه و چې ولې دومره زر راغی، وربښمینې مورک ته ویلي وو چې بیا به ولاکه ورسره وګوري، ترڅو یې مور ورپسې نه وي را لیږلې .هغه هم ورته ښه کړې وه چې نن شپه به د مور سره خبره کوي.

* * *

مرغۍ د ماسخوتن لمونځ خلاص کړ، دعا یې کوله چې طالب جان ورباندې غږ وکړ :

_ادې دعا دې نن اوږده نسوه.

_نه زویه! ستړې مسې .

_خیر یوسې .

_نن خو دې ناوخته کړه .

_بس د شمالي پرمایشونه دي، تا څه وکړل؟

_ورغلمه، خځوځې ته مې وویل، هغې خو راته ښه کړه، راته یې ویل یې چې ماښام به دواجان او نوروزي ته ووایي. سبا ته به بیا ورسمه .

_ښه ادې تو خدای رابه یې کي؟

_خدایزده؟ ادې خو یې خوشاله سوه .

_پستو دې ولیده؟

_او، اوله کې یې سترې مسې راکړه، خو بیا چای راته اشکې راوړې .
_ښیه !
_ما پنځوس روپۍ د دواجان په نوي زوی هم کېښودې .
_څه نوم یې پرې ایښی؟
_ګلا جان .
_ښیه، ښه نوم دی .
_او د پلار سره یې برابر راځي .
_وربښمینه څه وایي؟ څې د پستو دوی چرګ ما پټ کړی؟
_هو زویکه ! ماښام خځوځه د خورما له زوی سره راغله، وېل یې څې چرګ تا پټ کړی دی، دغه ده شاید .
_نو تا څه ورته وویل؟
_ما ویل ګوره خورې! زه په مرکه درغلمه او طالب جان به چرګ درنه پټوي؟
_بیا غلې سوه .
_نه هغه هلک ویل چې ما د کلا مخکې مردکي کول، مردکی مې کلاته دننه لاړ، د دروازې له چولې نه مې ولیدل چې طالب جان په غېږ کې چرګ و، د غوجلې مخکې ولاړ و .
_ښیه !
_بیا یې ویل چې وروسته طالب جان د دواجان دوی له کلا ووت، څادر یې تاو کړی و، په منډه، منډه روان و، ویل یې څې جومات کې زه په قران لاس ږدمه چې دا خبره ریښتیا ده .

ـدغه دی، ادې دومره غټ تومت؟
ـددې خبرې په اورېدو په طالب جان سمه تبه راغله، چای یې پرېښود، د خمارې د زوی غم ورسره شو، اوس که هلک سبا ته داسې وکړي، نو خبره به رسوا شي او دوی به سنګسار شي، حیران و چې اوس څه وکړي؟ تر ډېر سوچ وروسته یې ځان سره وویل چې د هلک د خولې د بندولو لپاره به سبا سهار ورته پینځه سوه افغانۍ ورکړي او خبره به پټه کړي او هلک به د قسم خوړلو څخه منع کړي او وبه وایي چې هغه د طالب جان سره ټوکې کولې .
د طالب جان په ګومان پینځه سوه افغانۍ د یوه لس کلن ماشوم له پاره ډېرې وې او ورسره به هغه د قسم خوړولو څخه په شا شي .
د طالب جان له اوړو یو دروند پېټی ایسته شو. د پستو د پخلا کولو غم ورسره شو، چې هغه خواره کی به څنګه پخلا کوي؟ د هغې غصه ناکې خبرې یې په ذهن کې ور ګرځېدې چې ته لا څنګه طالب یې چې یو چرګ نشې حلالوی، نو جهاد به څنګه کوې، او دا خلک څنګه حلالوې؟ او ده خوارکي په عاجزۍ ورته ویلي وو :
ـمونږ خو یې نه حلالوو، هغه قصابان خو مونږ نه پېژنو، هغوی مخونه پټ کړي وي او زمونږ په زبه هم نه پوهېږي، خدایزده چې له کومې خوا راسي او بېرته په کومه خوا سره لاړ سي .

* * *

وربښمینې په نغري کې اوربل کړی و، د موږک مور په مرکه راغلې وه، هغې ته یې چای دمولې. پستو پاس په دېواله سر رانښکاره کړی و او د چاکلیټو پاکټ یې له موره پټ وربښمینې ته راوړی و، ولې چې هغې مخکې ورنه غوښتی و. وربښمینه له خوشالۍ نه په جامو کې نه ځائېده .

پستو ورته ویل، چې د خمارې زوی نن سهار دوی کره راغلی او ابا ته یې ویلي چې هغه ټوکې کولې، طالب جان چرګ نه دی پټ کړی. په دې خبره باندې پستو هم خوشاله وه. هغې وربښمینې ته وویل چې ماسخوتن دې د جمعې په وخت طالب جان هماغه پخواني ځای ته ورسي چې ددې ورسره ضروري کار دی.

وربښمینې هم ددې لپاره چې پستو ورته ازار ونه کړي، نو ورته ښه ښه یې کول. وربښمینې په یوې نیکلې چاینکه کې شنې چای دم کړې، په پتنوس کې یې چاینکه کېښوده، دوه پیالې یې د ټیکري په پلو صافې کړې او له چاکلیټو سره یې تاوخانې ته وېوړې.

د موږک مور د مرغۍ سره لګیا وه، د خپلې بنې غیبت یې راخیستی و. ورته کیسه یې کوله چې له پرونه راهیسې یې څلور وارې شمالې ته ویلي چې د هلک لپاره به په مرکه دوی کره ورځې، خو هغه همدا ویل چې خپله وره خوښینه به ورته غواړي، ترڅو چې نن سهار ولي ګل ماشین ګنه را واخیسته او پلار ته یې کړل:

ـــکه وربښمینه ورته ونه غواړي نو ځان به په یو ډز فیصله کړي. مرغۍ په زړه کې ګوړې ماتولې، خو په خوله یې غږ نه کاوه، دومره یې ورته

وویل، چې ځلمی زوی ورته ګرځي او دا خو نه پوله لري او نه پټی. بس په وربښمینې به دومره اخلي چې د طالب جان پښه وربنده کړي.

* * *

وربښمینې د چایو پتنوس د مورک د مور مخې ته کېښود او خپله وشرمېده، زر له کوټې ووته. هغې د اوبو ګړی واخیست، د نغري خواته لاړه، په دېواله یې سر پورته کړ، ویې لیدل چې پستو لګیا ده خوېلۍ جارو کوي، نو اشاره یې ورته وکړه او خپل منګی یې په اوږه کړ، د چینې په لورې روانه شوه.

هلته د ډېک لور جماله هم راغلې وه، د هغې سره یې مجلس درلود. هغې د نوروز اکا د چرګ د ورکېدو ورته وویل، تر څو وربښمینې ځواب ورکاوه پستو را ورسېده، ورته یې وویل، چې د خمارې زوی دروغ ویلي. دوی دواړه تر هغې کېناستې چې جماله لاړه.

پستو وربښمینې ته وویل، چې مور یې رضا ده، پلار یې هم لږ- لږ رضا ښکاري، خو دواجان بیا رضا نه دی. پستو وربښمینې ته دا وویل، چې نن ماسپښین دې مرغۍ تورۍ بیا ورشي. دواړو ملګرو منګي ډک کړل او د کورونو په لوري سره روانې شوې.

وربښمینه چې کور ته ورسېده، د مورک مور تللې وه، مرغۍ اوس ښه شوې وه او ملا یې برېښ نه کاوه. هغې په تناره کې اوربل کړی و، وربښمینې ورته وویل، چې ډوډۍ دا پخوي خو هغې ورته وویل، چې خپل کردار دې را واخلي او هغه دې وکړي.

وربښمینه د مور په دې خبره په ګډېدا د تاوخانې په لوري لاړه، له رپک ځخه یې نیم ګنډلی جاینماز را واخیست او د چوترې په سر د تندورخانې د دروازې خواته کېناسته، په ګنډلو یې پیل وکړ.

* * *

طالب جان د خمارې زوی ته پینځه سوه افغانۍ ورکړې وې او هغه د جومات مخکې هلکانو ته ویلي وو چې طالب جان پسې یې ټوکې کړې دي او د مسخرو لپاره یې د پستو د چړګ غلا په طالب جان باندې اچولې ده.
لمر د اسمان منځ ته را رسېدلی و، د شپنو رمې له څرېدا ځخه راستنې شوې وې. په کارېز باندې د لوپټو ځرک نه لګېده، د غرمې اورونه بل شوي وو، طالب جان د ملا لعل ګل سره د هغه په حجره کې ناست و.
ځلمي هلک چې پاکې جامې یې اغوستې وې، د عطرو خوشبویۍ یې ټوله حجره په سر اخیستې وه، مخامخ ملا ته ناست و، پرلت یې وهلی و، له رنګه تک سور او سپین، معینه نازکه پوزه، نه وړې او نه غټې سترګې، رېره یې لا سمه په مخ نه وه راغلې، ښایسته وېښتان یې د کابل د ښار د هلکانو په شان جوړ کړي وو.
طالب جان ورنه لږ څه څنډې ته ناست و، هلک ځان سره زیات کتابونه راوړي وو، کتابونه د شعرونو او د کیسو و. د طالب جان هلک باندې مینه راغله، د هغه شوخې شوخې خبرې یې په زړه ښې لګېدلې او هلک ته هم طالب جان ډېر جالب ښکاره شوی و. ملا لعل ګل طالب

جان ته وويل، چې دا ځلمی حامد نومېږي او د ډډک د اوښي زوی دی، د پړاو دی، خو دا څو کاله کېږي چې کابل ته سره تللي. طالب جان ورنه وپوښتل:
_د باودین د ماما زوی.
ملا لعل ګل ورته وويل چې هلک خپل سړی دی، ستا کار به نه خرابوي، بس کیسه کوه، چې خبره تر کومه ځایه ورسېده.
طالب جان ور زیاته کړه:
_ادې مې پرون ورغلې وه، خو پرون یې مور راباندې د چرګ غلا واړوله.
_دا څه وايي؟ هههههههه.
_په قران شریپ.
_ښیه نو چیشته یې درباندې غلا واړوله؟
_خدایزده؟
_شاله لور نه درکوي، اوس پلمې درته غواړي.
په دې وخت کې د ځلمکي هلک طالب جان ته پام وو، چې سم خپه خپه ښکاري، نو ور زیاته یې کړه:
_نه ولې یې نه ورکوي، که جیلکۍ ورباندې ودرېږي؟
_پستو خو سمه لېونۍ ده راپسې، په خدای که درواغ وایمه.
_نو چرګ دې غلا کړی؟
_نه بابا! په هغه ورځ مې د پستو سره غوجله کې مجلس کاوه، هغې ته مې څه سوغات اخیستي و، څې چرګه یې پیشۍ وبوړه.
_ښیه، ههههههه.

ـزیاتي نو هغې خوارکۍ چرګ راونیو، راته ویل حلال یې که.
ـښیه.
ـما څې چرګ ته کتل نو پستو مې مخې مخې ته کېده، چرګ خوارکي راته خوار خوار کتل، زړه مې پرې وبرېښېده.
ـنو څه دې وکړل، ؟
ـزړه مې را ډک سو، ورته مې وویل نې سم حلالوی.
ـهههههه، ههههههه، غرق نسې، ملا دې ماته سه ټول سړي دې وشرمول.
ـبس نو چرګ خو پستو په خپله حلال کړی و او د خمارې زوی د ما په لاس کې د غوجلې په خوله کې لیدلی و.
ـښیه.
ـاو! د کوندې زوی زیاتي شایدي راباندې ویلې ده او ویلې یې څې په قران باندي لاس ام ږدمه.
ـزیاتي مې سار وختي د جومات لاره ورته ونیوله او پینځه سوه افغانۍ مې ورکړې څې خوله نوره پټه کي کنه نو پستو به بدنامه سي.
ـدا خو دې نر کار کړی، په خدای څې سم ورباندې مَئین یې.
ـنو څه وایې څې مَئین نه وای، نو دا دومره غول مې ولې خوړل.
ـهههههه.
ځلمي ته د طالب جان خبرو ډېر خوند ورکړی و. لعل ګل په ترموز کې شنې چای راوړې او لږ ګوره یې هم را واخیسته، پیالو کې یې چای واچولې، چې طالب جان ته زنګ راغی. طالب جان د موبایل تڼۍ

ټینګه کړه، د موړک غږ یې واورېده، تر لنډو خبرو وروسته، هغه طالب جان مهمانخانې ته ور وغوښت. طالب جان موبایل جېب ته کړ، ملا لعل ګل ور څخه وپوښتل:

_څوک و؟

_موړک و.

_ښیه، هههههه.

د موړک نوم ځلمي تر اوسه نه و اورېدلی، هغه ته جالب و، هغه لعل ګل ته مخ ور واړاوه، ورنه پوښتنه یې وکړه:

_موړک؟

هغه ورته وویل چې د قومندان شمالي مشر زوی دی. ولي ګل نومېږي، خو هلکان ورته موړک وايي. تر چای څښلو وروسته، طالب جان خپل څادر په اوږه واچاوه. د ملا لعل ګل سره یې خدای پاماني وکړه، په ډاډېسنه کې کېناسته او د کلي په لوري روان شو.

* * *

وربښمینې دوه تنوره ډوډۍ پخه کړه، ډوډۍ یې په دسترخوان کې تاو کړه او د اوبو چایجوشه یې سره د دوو ګړیو په تناره کې کوزه کړه. هغې د غرمې لپاره ګولپیان پاخه کړي وو، کوم چې تېره ورځ طالب جان د ولایت له بازاره ځان سره راوړي وو. مرغۍ کلا کې په چرګو پسې منډې وهلې، څو مالومه کړي چې کومې چرګې هګۍ لري؟ ځکه دا درې ورځې کېدې چې د چرګو هګۍ له مرغانچې څخه ورکېدې. مرغۍ څو

واري د پستو دوی پيشوګی د مرغانچې خوا کې ليدلې وه. هغه ستومانه د تناره خواته لاړه، وريښمينې ورته وويل:
ـ چرګو هګۍ لرلې؟
ـ هو لري يې، درې واړه، خو هغه توره چرګه يې نه لري.
ـ ادې! که دا وارې په دېواله را واوښته سم ګذار پرې کوم، چې بوکه يې را واړومه.
ـ خدايزده زويه! د هغې سترګې خځوزې غوندې چېرې دې، ولاکه يې مرداره کې.
ـ ههههههههه، ادې! ته دې زوندۍ يې.
د دوی له خندا سره پستو په دېواله راښکاره شوه، په وريښمينې يې غږ وکړ:
ـ څه دې څې داسې خاندې هن؟
ـ دغسې، څه نه دي ادې دې څنګه ده؟
ـ ښه ده.
ـ طالب جان ته خو اوس ګواښونه نه کوي؟
ـ هههههه، نه ولا، مخکې يې د خمارې زوی ته ښېراوې وکړې.
ـ ولې؟
ـ ادې خو مې ملامته نه وه، د هغه ځوانيمرګ د لاسه څې د جومات په مخکې يې درواغ ويلي وو.
وريښمينې په خندا ور غبرګه کړه:
ـ ځه نو نن به ادې بيا درپسې درسي.

ـنه ددې لپاره نه يمه راپورته سوې.
ـنو څه شی دې غوښته؟
ـما ویل که هغه غټه نیکلي چایجوشه مو راکړئ، د وربنداريې پلارګنۍ
مې ټوله د هلک ومبارکي ته راغلې.
ـښه ودرېږه را وابه يې خلمه.
وربښمینه په چایجوشې پسې کوټې ته لاړه، مرغۍ په کاسه کې پخه
شوې ګلپي له دېګي نه واچوله، پورته يې پستو ته پام شو چې ګلپيو ته
ګوري، نو زړه يې ورباندې وسوځېده، له تندورخانې څخه يې وړوکی
قاب را واخیسته او لږه ګلپي يې پکې واچوله، پستو ته يې ونیوله او ورته
يې وويل:
ـواخله سرې! زړه به دې ورته وسي.
ـنه خير يوسې مخکې مو ډوډۍ وخوړله توړۍ!
ـواخله واخله، د طالب جان لپاره، که مې زړه وغواړي درته کباب به
يې کمه.
پستو وشرمېده، سترګې يې ښکته واچولې، موسکۍ شوه، قاب يې د
مرغۍ له لاسه واخیست. په دې کې وربښمینې هم لويه نیکلي
چایجوشه راوړه او پسته ته يې ورکړه. کله چې چایجوشه يې ورکوله،
ورو يې ورته وويل:
ـادې څې ماسښين تاسو کره درغله، بيا غلې راسه خبرې مې درسره
دي.
ـښيه.

ـتو خدای راځي؟
ـاوو ولې به نه درځمه.

* * *

وربښمینه د لاټین رڼا ته ناسته وه او خپل کردار یې ګانده .طالب جان د مور خواته ناست و او له ترموز څخه یې چای پیاله کې اوچولې، چای یې څښلې .هغه د شمالي خبرې راخیستې وې چې په غمي او ګلاب باندې په قار و .نن شمالي ګلاب او غمي ته ویلي وو چې نور دې بوتان نه راوباسي او پیښور ته دې د خرڅلاو له پاره نه لېږي . هسې خو پلمه یې جوړه کړې وه چې د بتانو خرڅول ناروا کار دی او ګټه یې حرامه ده، خو زړه کې په قار و چې د خپلې خاورې قیمتي شیان دې ولې په پاکستان خرڅ شي .که کراري شي دا شیان به موزیو کې خوندي شي او د دنیا سیلانیان به ورته راځي.

هغه د موزیم کیسې د خپل پلار له خولې اورېدلې وې .کله چې پلار یې د عسکري لپاره کابل ته تللی و، نو د کابل موزیم یې لیدلی و .هغه شوقي سړی و، په موزیم کې یې یو څو قطعې عکسونه هم اخیستي وو .هغه عکسونه چوکاټ شوي وو او د شمال خان په مهمانخانه کې په دېواله باندې ځوړند وو.

شمالي تل ددې عکسونو او د ځای په اړه له پلاره دومره اورېدلي وو چې سم د ښوونځي د لومړي ټولګي د کتاب په شان ورته یادېدل .هغه تل د کابل د موزیم د لیدلو ارمان زړه کې ساتلی و، خو تر اوسه یې ددې ارمان په اړه چاته خوله هم نه وه خلاصه کړې .هغه په یوه پلمه ګلاب او غمی له دې کاره سره منع کول.

د طالب جان د مرکې نه شمال خان او ولي ګل خبر شوي وو .دواړو ورسره وعده کړې وه چې په واده کې به ورسره ښه مرسته کوي .اوس طالب جان سم خوشاله و.

مرغۍ ورته د موړک د مور د راتلو هم وویل .طالب جان چرتي غوندې شو، د مور دې خبرې چندان خوند ورنه کړ، خو مرغۍ ورته وویل چې له موړکه بل ښه هلک وربښمینې ته نه پیدا کېږي.

طالب جان خبره بل خواته واړوله، مور نه یې وپوښتل:

ـښیه وایه ته خو نن بیا د نوروز اکا کره تللې وې، څه یې سره ویل؟

ـهېڅ یې هم نه ویل، خځوځه پښېمانه وه، د خمارې زوی ته یې ښېراوې کولې.

ـښیه نور یې څه سره ویل؟

ـهغې ویل څې دواجان او ابا یې وایي چې دا طالب توب دې پرېږدي.

ـڅه وايې په شمالي باندې مې وزنې؟

ـپه خدای !دايې سره ويل چې ځان دې ولايتي شوروا ته واچوي.

ـڅه؟ ادې !دا يې لا څه بلا ده.

ـخدايزده، همدغه يې سره ويل چې شمالي به ورته لاره وښيي.

ـادې دا څه اپلتې وايې؟ که لور راکوي، را دې کي، کنې نو دې شوروا ته څنګه ځان واچومه.

ـخدايزده !ته خو لږ د ولي ګل نه پوښتنه وکه چې دا څنګه ځای ده؟

تر ښه چرت وروسته يې دا ښه وګڼله چې د ملا لعل ګل نه د ولايتي شوروا پوښتنه وکړي .هغه ته يې زنګ وواهه او ټوله کيسه يې ورته وکړه، هغه په موبايل له خندا شين و .وروسته يې ورته وويل چې دا ولايتي شوروا نه ده، شورا ده او هغه درې کسان چې څو ورځې مخکې ولايت ته راغلي وو، هغوی د نوې پاچاهۍ لپاره ځانونه کانديد کړي وو، دی به هم ولايتي شورا ته د وکيل او يا د خلکو د استازي په نوم ځان ور وپېژني.

ملا لعل ګل پوره يو ساعت ورته وغړېده، خو د طالب جان سر پرې خلاص نشو، اخر د هغه زړه ورته خپه شو چې دې ظالم نوروز خان خو په دې خوارکي باندې ښه لوی شرط ايښی، خو ورته يې وويل چې سبا

ته به کلي ته د سهار د چایو په وخت ځان ور ورسوي او جوړه به شمال خان ته ورشي او ټوله خبره به ورته وکړي.

* * *

شمال خان ته خدای تېره توره په لاس ورکړه، ملا لعل ګل د ټول ټاکنو په اړه پوره معلومات ورکړل او دا یې هم ورته وویل، چې تر طالب جان ښه کس نه لري، چې ولایتي شورا ته یې ور وپېژني .هغه تېره شپه د مشرانو سره خبره کړې وه، د خوست نه طالبانو ورته امر کړی و چې کسان دې ور وپېژني او هلته کابل کې صدارتي چوکۍ ته د قطب الدین هلال ودرېدلو په طالبانو ښه اغېز کړی و .شمال خان ځان سره ویل چې هسې هم طالب جان ورته کومه توره نه ده کړې، پرته له دې چې جنجالونه یې ورته جوړ کړي .بس نو له ځانه سره یې پرېکړه وکړه چې له دې سروزرو چړې ښخه نور تېر دی.

ولې ګل ورته غاړه ورکړه او ورته یې وویل چې سبا ته به ولایت ته ځي، خپل عکسونه به اخلي او پېښور ته به یې غمی د چاپ لپاره ولېږي.

پاتې د پستو د کوژدې خبره شوه، هغې پسې به سره سبا ماښام په خپله شمال خان د نوروز کره ورشي.

طالب جان له خوشالۍ نه په کالیو کې نه ځائېده .مورک له مهمانخانې نه ووت، تر څو چای راوړي .شمال خان د مورک خبره هم طالب جان ته ورياده کړه، ورته يې وويل : دا ښه خبره نه ده چې په غولي د هغه نه خور او لور غواړي، خو طالب جان هم ورته د ولي ګل په شان ښکاري، ورته يې وويل چې هو دې وکړي نو دی به د نوروز د لور ټول ولور او واده په خپله غاړه واخلي.

طالب جان چرت کې تللی و، خبرې يې نه کولې .د لعل ګل سترګو ته يې وکتل، هغه ورته په سترګو کې اشاره وکړه چې ودې مني .بيا هم طالب جان غلی پاتي و، لعل ګل شمال خان ته وويل:

_که اجاره وي نو زه به یوه خبره وکمه؟!

شمال خان ورته وويل:

_ولې نه، زر واري که د خير خبره وي.

_ما ويل چې طالب جان به له خپلې مور سره مشوره وکي او ماسپښين تر لمانځه وروسته به ورکړه ورشو.

شمالي هم ومنله .تر چايو وروسته طالب جان د لعل ګل سره د شمالي له مهمانخانې څخه د کور په نيت ووت.

په لاره کې د پکي او دواجان سره مخامخ شول .د طالب جان زړه په دربېدو شو، لعل ګل ورته د هغوی سره د خدای پامانۍ وروسته یوه

عشقي غزله وویله او هغه د چا خبره طالب جان یې په وجد کې راوستلو .بیا یې ورته وویل چې تر ورېښمینې دې تېر شي چې پستو د لاسه ورنه کړي، دا یې ښه موقع ده.

لمر د چنارونو څوکو ته رسېدلی و .نوروز د جومات مخکې د هلکانو سره او نورو کلیوالو سره ولاړ و .هغه په ولایت کې د ولسمشرۍ د کاندیدانو د تېرې ورځې خبرې راخیستې وې، چې د ډېرو اوازونو د دوی ټول مجلس ور خراب کړ .شمال خان غمی او ګلاب سره د ملا لعل ګل ولیدل چې د طالب جان له کوره راووتل .هلکانو ورمنډه کړه چې طالب جان بیا کوم ګل اوبه کړی؟ خو لعل ګل ټولو باندې د ولې ګل د ستنې زېری وکړ .نوروز او نورو جومات والو حیران حیران یو بل سره وکتل، ټولو ته جالبه وه چې د خوار طالب جان خور ځنګه شمالي غوندې سړي خپل زوی ته وکړه.

* * *

د ولایت په بازار کې طالب جان د ملا لعل ګل سره مخامخ شو .لعل ګل سره د ډېک د اوښي زوی حامد هم و .ځلمي ښه غاړه ورکړه، د کاندیدو مبارکي یې هم ورته وویله .لعل ګل ورنه د عکسونو پوښتنه وکړه، طالب جان ورته وویل چې د همدې لپاره راغلی .لعل ګل چې هغه ته له سر نه تر پښو پورې په ځیر ځیر وکتل، نو ورته یې وویل:

ـخوار سې، لا په دې ببره ږېره او خیرنه لونګۍ.

ـنو څه وکمه، ځان ورته ولمبومه، د خیرو بوی خو له عکسونو نه راووځي.

ـهههههه، خبره دې سمه ده، خو لږ دم ته کېنه چې دا څښې درته سمې کړي، اوس زه درنه ډاربږمه لکه څڅګۍ ښکارې.

حامد هم ورته وویل چې څښې دې لږې لنډې کړي، په ږیرې دې هم لږ لاس ووهي او سقاوي ته دې ننوځي، تر حمام وروسته به عکس واخلي.

تر حمام وروسته دربواړه د بازار وړې عکاسخانې ته ننوتل .طالب جان تر اوسه د عکاسخانې د ننه کوټه) ستېډیو (نه وه لیدلې .د عکاس سره حامد خبرې وکړې، مخکې تر دې چې هغه طالب جان په چوکۍ کېنوي، حامد خپله سدرۍ ور واغوسته او لونګۍ يې ورنه کوزه کړه.

په دې وخت کې طالب جان وارخطا شو او ورته يې وویل :

ـڅه کیې دا د خدای د رسول شمله ولې راشکه اخلې؟

ـکېنه کېنه !د خدای رسول داسې شملې نه وهلې، هغه مبارک به چلتار تاړه، هههههه، دخدای د رسول شمله، خوار سې.

ـولاکه داسې ښه ایسي.

ـته ودرېږه څې ښایسته خلک درته رایه واچوي.

طالب جان ځان د عکاسخانې په هینداره کې ولید، سم بدل بدل ښکارېده .د حامد بلوڅۍ ښیښه داره خولۍ او تور واسکټ، خپله وره برابره ړیره یې ولیدل، ځان ورته بدل بدل ښکاره شو .هم له ځانه وډار شو او هم یې په ځان مینه راغله .ملا لعل ګل په شوخۍ د جېب نه د عطرو وړکی بوتل راوویست او عطر یې پرې ووهل، حامد ورته وخندل:

ـدا دې د خدای د رسول سنت دې برابر سو.

تر عکس اخیستو وروسته، درېواړه د بازار یو خیرن هوټل ته سره ننوتل، ځانو ته یې د یو یو خوراک کباب او د قابلي پلو فرمایش سره ورکړ.

د حامد مخې ته د مېز د پاسه پلاستیکي د اوبو جګ ایښی و، ورسره دوه نیکلي ګیلاسونه .هغه ځانته اوبه ګیلاس کې واچولې، تر څښلو مخکې یې طالب جان څخه پوښتنه وکړه، چې خپل انتخاباتي نشان به څه ټاکي؟ د طالب جان سر پرې نه خلاصېده، خو ملا لعل ګل او حامد دواړو مشوره کوله .لعل ګل ورته ویل چې لور ښه دی، د غلې د پرېمانۍ نخښه ده او دا به هم ښکاره کوي چې طالبان نور جنګ نه کوي، ځمکې کري او حاصلات غواړي، خو حامد دواړو ته وویل چې نه قلم نشان ښه دی، چې د ټوپک ځای یې نیولی .د ډوډۍ تر اخره

دواړه سره جوړ نشول، خبره پاتې شوه چې بېګاته به د لور او قلم انتخاب قوmandan شمالي وکړي.

* * *

د شمال خان په کور کې جنراتور روښانه و، ټوله کلا په ګروپونو ځلېده . د کلي ټول نارينه په دواړو مهمانخانو کې راټول شوي وو .بابوسي قوموندان او ګلاب د ملا لعل ګل سره سم د ټوکو مجلس جوړ کړی و .د وريږو دېګی بار وو، غوښې پخېدې .ښځو په کوټه کې دريا راخيستې وه او د مورک د ستنې په خوشالۍ يې سره بدلې ويلې .د مورک مور سمه له خوشالۍ مه په جامو کې نه ځائېده .د مورک مشره خور شانداره له ډاګ نه راغلې وه، د هغې غبرګونو زامنو په کوټو کې سره سم خرپوشت جوړ کړی و.

نوروز نه و راغلی .د هغه غوا ناروغه وه، هغه يې کابل کې د کرنې د وزارت روغتون ته وړې وه .غوا يې زراعتۍ وه، هره ورځ به يې تر شپږ کيلو زياتې شيدې ورکولې .خخوځې ويل چې د ګلابي پلرګنۍ د هلک مبارکۍ ته سره راغله او غوا يې له نظره کړه .د نوروز په تګ سره د طالب جان مرکه هم پاتې شوې وه .نن شپه دواجان د ستنې ښادۍ

ته راغلی و او پکی سم ترې چاپېره و، چې هم په طالب جان بده لګېده او هم یې حامد او ملا لعل ګل په تشویش کړي وو.

سبا ته غمي د طالب جان او بهاو الدین عکسونه د پوسټرو د چاپ کولو لپاره پېښور ته سره وړل .د ډېک زوی د پکي په لمسون د طالب جان په ضد ولایتي شورا ته ولاړ و او پکي شمالي ته ویلي وو چې یو کس دې بېطرفه هم وي، چې سبا په طالبانو د زورواکۍ دعوه ونشي.

طالب جان ته مجلس دومره خوند نه ورکاوه .تر ډېرې خوړلو وروسته د پستو خبرې یې په زړه و ورېدې، نو د خوب په پلمه راووت.

د پستو دوی د کلا مخې ته چې ورسېده، نو دوه درې لوټې یې د کلا منځ ته ور وغورځولې، ځلورمه یې ویشتله چې د کلا دروازه نیم کښه شوه، ده ور منډه کړه او زر کلا ته ننوت .په تیاره کې یې د پستو په خوله لاس کېښوده او ورو یې ورته وویل:

ـ پستو دې پکي خو سم لېونی کړی یمه، په دواجان پسې لکه لکۍ نښتی دی.

په دې وخت کې پستو د تندورخانې له دروازې نه راغږ کړ:

ـ ادې څوک دی؟

طالب جان وارخطا شو، خو خځوځې توړۍ له مخ نه پلور لري کړ او طالب جان یې له لاسه کلک ونیو، طالب جان د تېښتې کوشش کاوه، خو هغې ورته ویل:

ـدتا او د پستو ترمابینه دا نخرې دي، ځوانیمرګ سې.

ـتوړۍ په خدای که څه وي؟

ـنو دا لوټې دې ولې راویستلې؟

ـما ویل که نوروز اکا راووځي.

ـښیه نو ته اکا ته لوټې راولې، مخ دې تور سه.

ـتوړۍ ولاکه ملامت یمه.

ـقران دې ووهه، مخ دې راتور که.

ـښیه وایه څه دې لیدلي؟ مخ خو مې دې سرې بیزوګۍ راتړر کړ.

ـنه توړۍ هغه ملامته نه ده.

ـښیه زیاتي پشتي یې ام کوې؟

ـتوړۍ قربان دې سمه، زنه دې نیسمه، که دې پستو راکړه، تر خپلې ادې به دې ښه ساتمه.

ـخدای دې واخله بې شرمه.

ــنو توړۍ اوس خو رسوا سومه.

طالب جان له کلا منډه کړه او په کړس کړس يې وخندل .خځوځه تندورخانې ته لاړه او د کاليو سوباړی يې راواخيسته، په پستو پسې يې ور منډې کړې .اشکه او ګلابه له تاوخانې راووتلې، خو د ګلابې نه يې خبره پټه کړه او پستو يې ځو سوباړي ووهله.

خځوځې ته ټوله شپه خوب ورنغی .د هغې تر طالب جانه پکی خوښ و، چې پستو ورکړي، خو د خوب په ځای کې آشکې ټولې کيسې ورته وکړې .د آشکې کيسو خځوځه توړۍ سمه غصه کړې وه .ټوله شپه يې پستو ته ښېراوې کولې .اخر د پستو زړه ورته تنګ شو، د خوب په ځای کې يې خپلې مور ته کړل:

ــته خو ورسره واده نه کوې، زما ښه ايسي طالب جان.

ــښيه ښيه !ودرېږه، دا دوس ابا دې سباته د کابله راسي، زياتي به دې سابه په مالګه کي.

ــادې که مې ورنه کې، په قران شريپ ځې سبا ته ور وتښتمه.

ــالله ځوانيمرګه سې.

د پستو له دې خبرې سره خځوځه له ځایه پاڅېده او په تپه تیاره کې یې په پستو وارونه وکړل .د هغې په متهو یې ښه ډېر غاښونه ولګول او وېښتان یې سم ورته وشکول، خو د آشکې په زور سره پستو د مور له منګولو خلاصه شوه .تر سبا پورې یې په خپا ځای کې ناسته وه او ژړل یې .آشکې خپلې مور ته وویل، چې ور دې کړي چې پستو پرې خوشاله ده، نو د دوی یې څه؟

اوس د نوروز سخت شرط ته هم طالب جان غاړه ایښې وه .له بلې خوا د دوی په زړه کې له قومندان شمالي نه هم ډار و، ولې چې هغه په طالب جان باندې سخت ولاړ و.

آشکه تر سهار له پستو سره غلې غلې لګیا وه خبرې یې کولې .د ملا بانګ سره په آشکې سترګې پټې شوې .پستو ولاړه شوه، اودس یې وکړ، د جاینماز په سر یې خدای پاک ته زیاتې زارۍ وکړې چې طالب دې الله ورکړي .د طالب تورې څڼې، مئینه لوړه پوزه، تورې تورې سترګې او غنم رنګه ځواني یې زیاته خوښېده .له بلې خوا په ساده توب یې هم مَینه وه.

تر لمانځه وروسته یې وړه لامده کړل .لاړه چې وزې او مېږې ولوشي، په غوجله کې یې چې وزې ته کېناسته، نو بیا یې طالب جان ور په زړه شو، چې څومره ډېرې شپې دلته ورته راغلی و او څومره زیاته مینه یې

همدلته د وزو او مېږو په مخ کې ورسره کړې وه، ستونی یې بیا راډک شو، په ژړا شوه.

له غوجلې ښخه راووته، د شیدو دېګی یې تندورخانې ته راوړ، په تندورخانه کې د ګلابې سره مخامخ شوه، هغې د تودو اوبو ډک ګړی له تناره راویستی و، د خپلې کوټې حمام ته یې ووړ .د هغې د پستو سرو سترګو او په مخ باندې یې لګېدلو شیګارو ته پام شو، ورنه یې پوښتنه وکړه:

ــولې پستو، دا شیګارې چا درباندې لګولې، ادې بیا ووهلې؟

ــهو نو، زیاتې نور څوک دي؟

ــدا ولې؟

ــخدایزده

ــالله دا متې خو یې سمې خامې درباندې خوړلې، الله دې انصاپ ورکي.

ــزه خو ولا که پو سوې یمه، څې ولې یې راباندې راواچوله؟ پلمه یې غوښته چې د کلا دروازه رانه ولې خلاصه پاتې سوې؟

ــپلمه !د څه پلمه؟

ــخداسزده !د پرون نه څې د مورګ په کوزدې خبره سوې، راته شنه شنه کيزي، دمايي څه خداى ورکړه ورېښمينې ته.

* * *

ملا لعل ګل، حامد او طالب جان، د طالب جان او بهاو الدين عکسونه د جومات او د کلي په ځينو ځينو کورونو باندې سريښ کړل .ملا لعل ګل د طالب جان ډېر پوسترونه پړوا، ميروال، شولک، ډاګ او بابوسو ته هم ولېږل .طالب جان په پوسترونو کې سم ښايسته ځوان راغلی و، شمالي له کابل سره خبرې کړې او د لور نښان يې ورته غوره کړی و.

پکی کور ته تللی و، ادې يې ناروغه وه .هغه يې ولايت ته بولې وه چې تبه يې زر تر زره ښه شي او پستو پسې يې په مرکه ور ولېږي .د پکي د مور پستو نه وه خوښه، هغې د ډېک لور جماله خوښه کړې وه، خو د پکي بيا ډېک د بلا نه هم بد راته، ټوله ورځ به د جومات خواته ناست و، په هلکانو پسې به يې تل سپکې او درنې ويلې .خو چې کوم قومندان به يې وليده، نو خواره خوله به يې نيولې وه او پيسې به يې ترې غوښتې.

اشکې د غرمې د تناره لپاره له چينې څخه منګی ډک په اوږه کلا ته دننه کړ، هغه يې د چوترې له زينو سره کېښود او په منډه تندورخانې

ته لاړه چې پر پستو د طالب جان د عکسونو د سرېښولو زېرى وکړي .
د طالب جان انتخاباتي پوسترونه د جومات په دېواله، په هره کوڅه، د دوی د کوڅې په سر کې، د مجید اکا په دروازه هم سره سرېښ شوي وو.

ملا لعل ګل او حامد قصداً دا کار کړی و چې پستو کله په اوبو پسې چینې ته ځي نو دایي لاره ده، ورځ کې څو وارې به یې سترګې په طالب جان خوږېږي.

پستو تناره ته خس اچول، لا تنور یې نه و لمبه کړی، آشکې ته یې پام شو، ورته یې وویل:

_شیشکې !بیا څه دي؟

_څه دي؟ د مېږه اسکونه دې په ټول کلي خواره واره دي

_څه وایې تو خدای؟

_اینې کنه !د مجید اکا په لویه دروازه یې هم سره بند کړي داسې ښه ښکاري.

_وی ماوشکه جار کې.

_بې شرمې !الا په دې خبره.

_ولې تا په حامد سترګې نه دي خښې کړي.

د دوی خبرې روانې وې چې خڅوزه تورۍ دننه شوه، پستو ته یې کړل چې بېګا ته دې ښوروا سره باندې کړي، ددې لپاره چې شمال خان او ډله یې را روانه ده، اوس یې زوی مورګ دواجان ته ټیلیپون کې ویلي دي.

اشکې د طالب جان د پوسترونو څخه مور هم خبره کړه، هغې باندې د لور دا زړی ښه ونه لګېده، بس لاړه د بلۍ سرته د طالب جان دوی کلا ته یې کتل، په وربښمینې یې سترګې ولګېدې .هغه د تاوخانې مخې ته په چوترې باندې لیمڅی غوړولی و او ناسته وه خپل کردار یې ګانده .مرغۍ تورۍ د نغري خواته ناسته وه، نغری یې له سره جوړ کړی و، لګیا وه شاوخوا یې خړوبی کاوه.

مرغۍ تورۍ د نغري خواته ناسته وه، نغری یې له سره جوړ کړی و، لګیا وه شاوخوا یې خړوبی کاوه.

هغې ته یې اشاره وکړه، هغه ور ولاړ شوه، آشکې ورته د طالب جان د عکسونو زړی وکه، هغې خپلې ادې ته نعرې کړې:

_ادې !وه ادې !آشکه څه وایي؟

_څه وایي، بیا یې کوم پیغام راوړی هن؟

_وایي د طالب جان عکسونه په ټول کلي کې په دېوالونو باندې سریښ سوي، داسې ښه ښکاري.

ـښیه تو خدای !ماوشکه جار کې، دغه اوس لاسونه وینځمه، ځمه د باندې وینمه یې.

په همدې کې د مرغۍ توری زره نری شو، په ژړا شوه، په ژړا ژړا کې یې د طالب جان پلار یاداوه، چې کاشکې ژوندی وای او د خپل زوی عکسونه او رتبه یې په سترګو لیدلي وای.

ښه ښایسته شېبه یې وژړل، لاسونه یې پرېولل، د کلا نه ووته .آشکې د ورېښمینې نه د شمالي د ډلې پوښتنه وکړه چې بېګا ته ورکره را روانه ده، خو هغې ورته وویل چې دوی نه دي خبر او طالب جان چې د سهار لمانځه ته له کوره وتلی تر اوسه بېرته نه دی راغلی.

* * *

کوټه له مېلمنو ډکه وه، د کوټې بر سر کې د غولي په سر ګېس لګېده، ښکلې رڼا یې کوټه کې خوره کړې وه، د ګېس رڼا د غولي په سر غوړېدلې سره ګلداره ایرانی غالی نوره هم ځلوله .د ماښام ډوډی خوړل شوې وه، د مېلمنو مخې ته په پیالو کې چای پرتې وې .مجلس تود و، پکی نه و راغلی، هغه خپله مور پلمه کړې وه، په کور کې و.

ولې ګل خپله د یاداشت کتابچه راویستې وه او د نوروز اکا او دواجان لخوا ټاکل شوی د واده او د غولي لنډون یې پرېکاوه .هر څه چې نوروز

اکا پرې اېښودل، پرته له) نه (او)هو (څخه ولي ګل لیکل .ولور لا مخکې ټاکل شوی و .نوروز په خپلې لور پېنځه لکه افغانۍ ولور ایښی و او شمال خان ددې لپاره چې په وربښمینې یې ولور نه ورکاوه، نو داسې یې ګڼله چې دا ولور د خپل زوی په مخکې ورکوي.

نو ځکه یې زړه درد نه کاوه.

_لس منه پلوی وریزې.

_دوه بوجۍ اوړه.

_درې ټیمه دوه منې غوړي.

_دوه منه بوره.

_شل پاکټه نقل او چاکلیټ

_یو پسه.

_پېنځه منه پیاز او پېنځه منه کچالو.

_دوه کیلو تورې چای او دوه کلیو شنې چای.

_پېنځه پاکټه مالګه.

_لس څلور میتره کمیسونه او لس ټیکرې.

_لس لونګۍ، هغه هم مشدۍ.

ـشل داني دستمالونه.

دغه وه د پستو د واده لنډون ...ددې شيانو ليست شمال خان په جېب کې واچاوه او لاس يې په سينه ورته کېښود او ورته يې وويل : په سر سترګو يې منو .نوروز دواجان ته اشاره وکړه او هغه له کوټې ووت، تر لږ ځنډ وروسته د کوژدنې دستمال چې په يوه پتنوس کې اېښودل شوی و، کوټې ته دننه کړه او د شمال خان مخې ته يې کېښود، ددې سره راغلو مېلمنو ټولو لاسونه وپړکول او ولاړ شول .شمال خان او نوروز اکا يو بل ته سره غاړې ورکړې، شمال خان ستنه د ګلاب په اوږه ور وټومبله او په پتنوس کې يې دوه بنډله پيسې کېښودې او ورته يې وويل چې پوره دوه لکه دي.

ولي ګل خپله ماشين ګنه واخيسته، د پستو دوی کلا ته راووت او هوايي ډزې يې پيل کړې .ورپسې ګلاب او غمي هم هوايي ډزې وکړې.

د ډزو سره سم مرغۍ او ورېښمينه د تاوخانې په غولي باندې په ګډا شوې .طالب جان په زړه کې ګوړې ماتولې، له شرم نه يې سره په زنګنو ايښی و او خندل يې .په دې وخت کې د کلا دروازه ودربېدله . مرغۍ ورغله، د کلا دروازه يې خلاصه کړه، شمال خان سره د مېلمنو دننه شو او ټول بالاخانې ته سره ننوتل .د مرغۍ په سترګو کې د خوشالي اوښکې وې .په بالاخانه کې په طالب جان، د ملا لعل ګل

شعرونه او ټوکې روانې وې او د مېلمنو ټوکې او خنداګانې د شپې توره تیاره کې عین د ژۍ تر سره تللې.

* * *

تېر ماسخوتن د لمانځه تر جمې وروسته شمال خان ټولو کلیوالو ته په جومات کې ویلي وو چې سبا ته به ښځې او نارینه په ګډه د ټولټاکنو مرکز ته ورځي او خپلې رایې به ورکوي.

هغه ټولو ته وویل، دا یې خوښه ده چې خپل لوګري) اشرف غني احمدزي (ته رایه ورکړي او یا هم قطب الدین هلال ته چې د حزب اسلامي سرې دی .خو له دې دوارو نه بغیر به بل چاته رایه نه اچوي او په ولایتي برخه کې بیا د کلیوالو خوښه ده چې طالب جان ته رایه ورکوي او که بهاو الدین او یا هم بل چاته.

د رایې اچونې یو مرکز په) پړاو (کې، د لوی جومات خواته جوړ و او بل یې په بابوس کې و، نو پړاو دوی ته نږدې و، کلیوالو ټولو مشوره وکړه چې سبا ته به سره پړاو ته ځي او رایه به ورکوي.

طالب جان د لاټین د رڼا مخې ته د کوټې په غولي باندې د ټولو کاندیدانو د عکسونو لوی لیست ایښی و او مور ته یې ویل چې دې

پک سري لوګري ته به رایه ورکوي او په ولایتي ټاکنو کې خو نو خپل زوی پېژني .هغې د لوګري کاندید عکس دومره د لاټین په رڼا کې سم برابر نه کړ، خو خپل زوی ته یې ښه وکړه .ورېښمینه لا اتلس کلنه نه وه، نو هغې ته یې کارت نه ورکاوه .هغې د کاندیدانو د عکسونو سره دومره مینه هم نه لرله .هغې خپل مخ ته بل لاټین لګولی و او د مریو نه یې ځوندېي جوړول، تر څو خپل کردارونه پوره کړي.

طالب جان خپلې ادې ته وویل، چې سبا ته به ډاډسنه راولي، ادې به د خځوځې تورۍ سره او نوروز اکا، دواجان او د هغه د ښځې سره یو ځای پړاو ته د رایې اچونې لپاره ورځي.

طالب جان له جېبه موبایل راوویست او دواجان ته یې ټیلفون وکړ، هغه سره یې د سبا لپاره خبره پخه کړه .تر خبرو وروسته یې خپلې مور ته کړل:

_ادې !زه به یو موبایل پستو ته واخلمه، ته خو به څه نه وایې؟

_نه زویه ولې لېونۍ خو نه یمه، زر وارې خو یې واخله، هوس او ارمان دې ده جار.

_ادې ته سنګه ښه یې؟

_ههههه، او زویکه !د تا سرزوري راته مالومه ده، که نه هم وکمه بیا یې هم اخلې.

ـنه ادې که د تا زړه نه وي په کوران که يې راشکه ووينې.

ـنه ولې ورته يې واخله، نن د مورک ادې هم وربښمينې ته دا بلاګی راوړی.

ـښه؟ تو خدای؟ موړک تر مونږ هم بلا وخوت.

په دې وخت کې وربښمينې خپلې ادې ته کړل:

ـادې تو خدای شرم ده، اوس ام ورته موړک -موړک وايې.

ـهههههههه، کښه بلا وهلې، اوس ترښه منګری جوړوې ته جګه آ موبايل دې را واخله.

هغه پاڅېده، د کوټې له رپکي نه يې خپل موبايل را واخيست او طالب جان ته يې ورکړ .طالب جان وليدل چې موبايل تيار چارج شوی او د خبرو کولو لپاره پيسې هم پکې شته، نو غلی يې د موړک شمېرې ته زنګ وواهه، خپل غږ يې د وربښمينې په شان کړ او دوی ته يې اشاره وکړه چې غلې کښني سره .تر دوه زنګونو تېرېدو وروسته د موړک غږ راغی:

ـوايه پکيه !څه دي؟

ـپکی نه يمه ته سترګې نه لرې؟

ـهههههههه، لیونۍ اومبارک دې شه، دننه کوټه کې ومه ادې راسره وه.

ـنو اوس ادې څه سوه تناره کې دې واچوله؟

ـهههههه، نه ښه ټوکماره یې لېونۍ، څې درغلمه خولې درباندې لګومه.

ـښیه اوس نو چېرته ولاړ یې؟

ـدباندې د دروازې سره، ښیه چل دې ایزده که د موبایل؟

ـاین کنه ادې راته راوښود.

ـادې !توکوران؟

له دې خبرې سره ورېښمینه او مور یې له خندا شنې لاړې او د موبایل غږ چې لوړ و نو ورېښمینې نعرې کړې، زه نه یمه طالب جان دی .د ورېښمینې د غږ سره مورک په خندا شو او ورغبرګه یې کړه:

ـښیه طالب جانه ددې قصور به درنه باسمه.

ـ ښیه اوس مو خبره موبایلو ته ورسوله.

ـنو څه کوپر خو نه ده، ښه وایه سبا ته ادې پړاو ته بیایې انتخاباتو ته؟

ـهو سمه ډله راسره ده.

ـڅوک دي؟

ـد خسر، خپل خانه مې ده.

ـهههههههه مزې دې وکړې .ښه نو بیا به راسې مونږ کره او ادې به هم درسره بوځې، اوس نو د خدای په امان چې د موبایل پیسې خلاصېږي.

ـد خدای په امان کنجوسه.

مازیګر د چینې په غاړه د کلي ټولې وړې او زړې سره راټولې وې .د ډېرو ګوتې په رنګ لړلې وې .مرغۍ، خځوځه او د ډډک ښځه له خمارې سره ناستې وې، ټوکې خبرې او مجلسونه روان وو .په دې کې له لرې ملا لعل ګل او حامد راښکاره شول، خو ملا لعل ګل بېرته د چنارونو خواته ستون شو او حامد د خپل ماما لور جمالې ته د ولسمشرۍ د ټاکنو لیست په لاس کې ورکړ او ورته یې وویل چې له ښځو نه پوښتنه وکړي چې کوم کس ته یې سره رایه اچولې ده .

جمالې اول د مرغۍ توړۍ نه پیل کړه :

ـتوړۍ !که خپه کېږې نه، نو راته ووایه چې چا ته دې رایه ورکړه؟

مرغۍ ورته وویل :

ـما خو د ګلبدین سرې ته رایه ورکړه، چې سم مسلمان راته ښکاره سو .

نورو ټولو وویل چې خپل لوګري ته یې رایه ورکړه، خو د دوی په خبرو باندې د جمالې سم باور نه راته، حامد جمالې ته د ملا لعل ګل خبره هم کړې وه چې دې ښځو سره سم کمپاین نه دی شوی او دا به ټولې په خپل انتخاب کې غلطې شوې وي .حامد دا څو ورځې د جمالې سره سم کار کړی و، ټول کاندیدان یې ورته ور پېژندلي وو، هغه پخپله هم له نورو کلي والو پېغلو ډېره زیرکه وه .

جماله د دوی خواته په دوو پښو کېناسته، پاڼه یې له جېب نه را وویسته او مرغۍ تورۍ ته یې وویل :

ــپه دې کې کوم سړی دې په نښه کړ؟

هغې عکسونو ته ښه په ځېر ځېر وکتل او ګوته یې د سیاف په عکس باندې کېښوده او وې ویل :

ــدده له مسلمانې رېرې مې جار کې، دغه ته مې رایه ورکه .

جماله په خندا شوه، ورته یې وویل :

ــدا خو د ګلبدین سړی نه دی، دا خو پغمانی دی .

ــکه پغمانی دی که لغمانی، سم سوتره مسلمان خو ده .

خځوځې ورباندې وخندل او ورته یې وویل :

ــتو خدای یو) عکس (ام نسې په نښه کولی .

جماله د هغې خواته ور نږدې شوه، ورته يې وويل :

_ښيه توري تا چاته رايه ورکړه :

_ما خو جار خپل لوګري ته ورکړه .

_ښه نو دا لوګری خو راښکاره که .

هغې د عکسونو جدول ته ښه په ځېر ځېر وکتل او د عبد الله عبد الله په عکس يې ګوته کېښوده او ويې ويل :

_دغه ده لوګری، ته يې وګوره رنګ يې سم د طالب جان غوندې ښايسته دی .

جماله ورته موسکی شوه، ورنه پوښتنه يې وکړه :

_غلطه شوې خو به نه يې؟ همدغه ته دې رايه واچوله؟

_او په کوران که غلطه سوې يمه .

جمالې ورته وخندل :

_توری دا خو پنجشېری دی .

هغه غوسه شوه، ور زياته يې کړه :

_کېنه کېنه !دده کوم ځای پنجشېرنانو ته پاتې کېږي، ته يې دا غټې غټې سترګې وګوره، جګه پزه يې نه وينې، د پنجشېرنانو سترګې خو ورې ورې وي .

په دې کې ټولو جينکو وخندل .د خمارې لور بسمينه را ورانډې شوه او د اشرف غني په عکس يې ګوته کېښوده او ويې ويل :

_ما خو دغه ته رايه ورکړه، دا اشرپ غني ده کنه؟

جمالې وويل :

اپرين، همدغه ده .

په دې کې د ډډک ښځې د عکسونو فهرست ته وکتل، موسکه شوه او ويې ويل :

_وی دا پک سری، څلور هډوکي، تو خدای دا لوګری دی؟

د مرغۍ تورۍ او خځوځې په خبرو ټولو وخندل او د ټوکو مجلسونه يې سره جوړ کړي وو .مازيګر ناوخته د چينې غاړه له سرو او شنو لوپټو ځخه را پاکه شوه .

***

د کوټې غولی د جنراتور د برېښنا په ګروپونو روښانه و .د شمال خان ټول مېلمانه راغلي وو .شمال خان د طالب جان د کاميابۍ لپاره د بابوس، ميروال، شولک، انعام، پړاو، پورک او ازرې ټول قومندانان را غوښتي وو.

نوروز او دواجان د طالب جان له برکته اوس د شمال خان په مهمانخانه کې بربر کېناستل .شمال خان مېلمنو ته ویلي وو چې را روانه جمعه به د ولي ګل او طالب جان په یوه ورځ ودونه وي، بس د را روانې جمعې په ورځ بیا د شمال خان کره د وریژو او غوښو باران کېدونکی و.

په کوټه کې بحثونه روان وو .د ولس مشرۍ ټاکنې دویم پړاو ته تللې وې، په نهو نوماندانو کې د اشرف غني او عبدالله رایې زیاتې وې .دا ځل شمال خان ټولو ته په کلکه وویل چې دا وارې به ښځینه او نارینه درګرده راووځئ او خپل لوګري ته به رایه ورکوئ او دا یې هم وویل چې ملا لعل ګل دې له طالب جان سره یو ځای د اشرف غني عکسونه کور په کور وویشي، تر څو ټول یې له څهرې سره بلد شي او څوک د تېر په څېر په رایه ورکولو کې سهوه نه شي.

کوزې او چلمچۍ کوټې ته دننه شوې .ټولو لاسونه پرېولل، دسترخوانونه وغوړېدل، د وریژو غوري، غوښې، سره کړي چرګان او مېوې په دسترخوان کتار شول، مېلمنو په دوه دوه ژامو په مړه ګېډه ډوډۍ وخوړه.

تر ډوډۍ وروسته له چاکلیټو او بادامي نقلو سره چای په پتنوسونو کې بالاخانې ته رواړل شوه .لا چای په مېلمنو نه وو وېشل شوی چې د

ګلاب په موبایل زنګ راغی، هغه تر سترګې مشې وروسته په وارخطایۍ وویل:

_دا څه وایې؟ تو خدای !څومره؟ ښیه ښیه، زه به سبا ته درسره خبرې کوم اوس بل ځای کې یم، د خدای په امان.

د موبایل تر بندېدو وروسته، غمی چې د شمال خان خواته ناست و، ورنه پوښتنه یې وکړه:

_څوک و ګلابه؟

_د کنړ قومندان ستار و.

_ښیه خیریت خو به وي؟

_نه خیریت چېرته ده؟!

_ولې څه یې ویل؟

_ویل یې چې د (داعش) خلک دننه شوي او د دوی پینځلس طالبان یې حلال کړي.

_داعش! دا لا څه بلا ده؟

په دې کې شمال خان هک پک پاتې شو . مېلمنو ټولو ته حیران حیران سره وکتل، پکې بیا ورنه وپوښتل:

_نور یې څه ویل؟

ــویل یې چې پام کوئ، ها خوا هم در روان دي، ورته بیداره اوسئ.

* * *

طالب جان له بهاو الدین څخه میدان ګټلی و .هغه اوس ولایتي شورا ته کامیاب شوی و .د ډډک د اوښي زوی حامد هم د طالب جان سره ملګری و، چې د ولایتي شورا په کارونو کې به ورسره مرسته کوي، چې د حامد دا کار نه په ډډک ښه لګېده او نه په بهاو الدین.

بهاو الدین تېر ماښام هم حامد ته ویلي وو، چې د ماما زوی زما یې او ملا دې طالب جان تړې .خو حامد په ځواب کې ورته ویلي وو چې طالب جان ساده او د ښه زړه خاوند دی، هغه به په راتلونکي کې دې کلي ته سم خدمت وکړي، نو ځکه یې تر شا ولاړ دی، پروا نه کوي چې طالب جان یې د ماما زوی نه دی .نن شپه حامد د ماما کره نه و، ځکه چې په دې خبره له بهاو الدین څخه خفه شوی و.

طالب جان هغه د ځان سره خپل کور ته بوته .د کلا د دروازې په خوله کې اشکه د طالب جان او حامد په مخه ورغله، هغې د حامد نه ستر وکړ، غوجلې ته یې ور منډه کړه .طالب جان او حامد کلا ته دننه شول .اشکې چې حامد یې ولیده نو سم له واره پرې مَینه شوه .کور ته په رسېدو سره یې پستو ته وویل:

ـپستو ! د طالب جان سره داسې يو سور -سپين ګلالی هلک راغی، ته به وايې د يعقوب پيغمبر زوی يوسف دی.

ـتو خدای؟

ـته خو طالب جان ته ټيلي پون وکه.

ـښيه ته کراره کېنه، وبه يې کمه، سبا بېګا ته د نکرېزو شپه ده او نن راباندې ټيليپونونه کوې.

ـتو خدای نو څه کيږې؟

پستو د کميس له جېب نه موبايل را واخيست او طالب جان ته يې له موره پټ زنګ وواهه.

ـوی ته يې؟

ـزياتي ښوک به وي؟

ـولې څه دې ويلي؟

ـشاله مېلمانه لرې اشکې راته ويلي؟

ـاو د باودين د ماما زوی دی.

ـښيه ښيه!

ـادې دې چېرې ده؟

ــبره سره ناست دي، زه غوجلې کې يمه.

ــهههههههه، زياتي غم يې مه کوه، يوه شپه دې بله پاتې دی، بيا به راوځې له غوجلو نه.

ــوی ته ورک نسې.

پستو موبايل جېب ته کړ او دواړه تندورخانې ته راغلې.

د ماښام تر ډوډۍ وروسته د واده لپاره ټول هغه شيان چې نوروز اکا ورته په ليست کې ليکلي وو، په خرو بار شول او د نوروز کور ته يېې ويوړل .حامد هم ورسره و، اشکه د تندورخانې په دروازه کې ولاړه وه او پټ پټ به يې حامد ته کتل، هغه هم د سترګو لاندې کله کله د اشکې په لوري ور کتل.

آشکې هم په زړه کې ګوړې ماتولې چې سم ګلالی او مکتبی هلک ورباندې مَئين شوی دی .هغه د حامد په تماشه وه چې يې د شا له خوا پرې راغله.

د ګلابې پرې شک شو، ددې لپاره چې سمه يې وشرموي، نو لږم يې پلمه کړ، ناڅاپه يې پر اشکې ځان ور کذار کړ او هغه د تندورخانې مخې ته په چوتره باندې پړمخې ولوېده .د هغې د لوېدو سره، د کلا په منځ کې د دواجان او د نوروز اکا ورته پام شو .نوروز اکا ورته غصه ش .

او دواجان پرې رامنډه کړه، خو آشکې زر تندورخانې ته منډې کړې او

دروازه یې زر بنده کړه .دواجان د کوټې له خوا تندورخانې ته ورغی او خوارکی یې تر لغتو لاندې ونیوله .د ژړا غږ یې د حامد تر غوږه شو، سم ورته خفه شو.

* * *

لمر د چینارونو سر ته رسېدلی و، خو مرغۍ قسم کړې و چې اول به د طالب جان ناوې کوزوي، بیا به وریښمینه له کوره وباسي.

د واده محفل شریک نیول شوی و، ښځو د طالب جان او نوروز اکا کره د واده وریژې وخوړې او سرو د شمال خان په کور کې.

تکه سپینه ګل پوشه کرولا د نوروز اکا د دروازې مخې ته ولاړه وه، ښځو په بدلو بدلو پستو له کلا را وویسته، زرغون زرین شال یې په سر و، خو ټول مخ یې پټ و، د ماشومانو ټېل ماټېل جوړ و .په ټېل ماټېل کې پستو د موټر د دروازې سره نږدې ولاړه وه، د هغې مخ پټ و .هغې خوارکی موټر نه لیده، موږک د موټر په جلو ناست و، د هغه غاړه کې د ګلونو امېل ځوړند و، تر څنګ یې قومندان شمال خان او د شمال خان څنګ ته طالب جان ښه تنګ ناست وو.

د ناوې د راوتو سره، طالب جان وارخطا شو، له موټره کوز شو .د موټر د شا دروازه یې پستو ته خلاصه کړه، د خلاصېدو سره دراوزه د پستو

په مخ ولګېده، په همدې کې دوينو شر شو، دروازې د پستو په پزه خوړلې وه .دواجان چې لړ لرې ولاړ و، پام يې شو، ور منډه يې کړه، طالب جان ته غصه شو، ورته يې وويل:

ــلا دې وړې نه ده، په وينو دې ولړله، خوارسې.

شمال خان له موټر نه را کوز شو، خو د هغه په ليدو دواجان غلی شو، بس پستو د مرغۍ توړۍ او نورو ښځو سره د موټر په شا سيټ کې کېناسته .موټر د کلا له شا راتاو شو او د دوی د کلا مخې ته ودرېده . طالب جان په ګيلې سره مورک ته وويل:

ــهلکه ولي ګله !لګ چکر خو به دې ورکړی و.

ــخوار نسې د چيشي چکر؟

ــما ويل پستو راته ويلي وو چې د کابل د ناويګانو غوندې تر ولايته به چکر ووهو.

شمال خان ورته په خندا ور غبرګه کړه:

ــهغې ته دې ښه چکر په سر کې ورکه، کور ته يې رسوه، چې اوس يې دلته سا ونه ووځي.

ښځو د کلا په دروازه کې پستو ودروله،چې مرغۍ تورې ورته چرګ راوړي او د پښو نوک يې ورته سور کړي .د ډېک ښځې چرګه راونيوله، هغه يې راوړه .په دې وخت کې مرغۍ تورې نعرې کړې:

_مه کوئ مه کوئ !دا خو هګۍ اچوي، بله راوړئ.

په واده راغلې ټولې ښځې په خندا شوې، خو چا يې په خوله ونه کړل . د چرګې تاج يې ورته زخمي کړ، د پستو پښه يې ورته سره کړه او چرګه يې ګلاب ته ورکړه، ولې چې موټر د هغه و.

*****

د طالب جان له واده شپږ مياشتې تېرې وې .پستو د مور کره د پلار پوښتنې ته ورغلې وه .نوروز اکا ملاريا شوی و .هغې د غرمې ډوډۍ خوړلې وه، په تندورخانه کې د آشکې سره ناسته وه او هغې ورته د ګلابې غيبت راخيستی و، چې په همدې کې دواجان دننه شو، پستو ته يې کړل:

_اومبارک دې سه.

_څه شی؟

_طالب جان ته خو ولايت ښه نوی تک سپين موټر ورکړ.

ـوی تو خدای؟

ـپه خدای، دا دی زه ورسره له ولایته راغلمه.

پستو پرته له خدای پامانۍ د آشکې سره د خپل کور په لورې منډې کړې، هغې په ریښتیا ولیدل چې د ګلاب د موټر په رقم موټر د دوی د کلا مخته ولاړ دی .طالب جان کلا کې دننه و، د دروازې په خوله کې یې چې پستو ولیدله، نو ورته یې ویل:

ـزرکوه موټر ته جګېږی.

ـولې؟

ـنن د ولایت چکر درباندې وهمه، د واده د چکر ارمان دې لا تر اوسه زما په زړه لکه ازغی غوندې پروت دی.

پستو د موټر په شاتنې سیټ ناسته وه، له خوشالي نه په ځان نه پوهېده، طالب جان ته یې کړل:

ـتو خدای طالبه !دا وربښمینه غریبه خو هم راپورته که، اخیر ورور یې که نه.

ـهو ولا ریښتیا دې وویل، ادې خو نسته د ماما کره تللې.

طالب جان د شمال خان د کلا مخې ته موټر تاو کړ، ویې لیدل چې د کلا په مخکې سم د سرو بیروبار دی .یوې خواته یې موټر ودراوه، پستو ته یې وویل:

_خدای دې خیر کړي، ته کېنه زه بېرته زر راځمه.

طالب جان د سرو منځ ته لاړ، ویې لیدل چې کلا کې دننه درې کټونه پراته دي، وارخطا شو .مورک ته یې پام شو، چې ولاړ و او خبرې یې کولې .زړه یې ډاډه شو، یوه کټ ته ور نږدې شو، د مړي له سر نه یې چې څادر لرې کړ نو په ګلاب یې سترګې ولګېدې، غاړه یې پرې شوې وه، زړه یې وبرېښېده، وارخطا یې نعرې کړې:

_دا چا؟

ډډک ورو ونږدې شو، ورته یې وویل:

_دا بل یې غمی دی او هغه بل یې پکی، وایي چې د (داعش) خلکو حلال کړي.

پای

د ۲۰۱۴ م .کال د اکتوبر لومړۍ نېټه

د چیک جمهوریت -پراګ ښار